# د تثنيې کتاب

سريزه

د تثنيې کتاب د تورات پنځم کتاب دی. په دې کتاب کې د حضرت موسیٰ د ويناګانو هغه سلسله ذکر کيږي چې د اسراييلو خلکو ته يې د موآب په خاوره کې کړې وې. هغوی هلته په دښته کې د يو اوږد سفر په پای کې پاتې شوي وو او نژدې وو چې کنعان ته ورننوزي او ويې نيسي.

ځينې ډېرې مهمې موضوعګانې چې په دې کتاب کې ليکل شوې دي هغه په دې ډول دي: (۱) حضرت موسیٰ د تېرو څلوېښتو کلونو پېښې رايادوي. هغه د خلکو څخه غواړي چې هغوی دا خبره ياده وساتي چې خدای پاک څنګه هغوی په دښته کې رهنمايي کړل او بايد خدای پاک ته تابعدار او وفادار اوسي. (۲) حضرت موسیٰ هغه لس حکمونه تکرار کړل او په دې يې تاکيد وکړ چې د اولني حکم په معنیٰ باندې بايد ځانونه پوه کړي او د خلکو څخه يې وغوښتل چې يوازې څښتن ته دې وقف اوسي. بيا هغه هغه مختلف قوانين تکرار کړل چې په وعده شوي وطن کې به د هغوی ژوند سمبالوي. (۳) حضرت موسیٰ خلکو ته د خدای پاک د هغه لوظ معنیٰ وريادوي چې د هغوی سره يې کړی ؤ او د خلکو څخه غواړي چې د هغه لوظ د پوره کولو دپاره دې خپل عهد نوی کړي. (۴) يوشع د خدای پاک د قوم د راتلونکي مشر په توګه ټاکل کيږي. کله چې حضرت موسیٰ د خدای پاک وفاداري وستايله او روحاني سندره يې وويله او د اسراييلو په قبيلو باندې يې برکت ووايه هغه د اردن د سيند په ختيځ کې په موآب کې وفات شو.

د دې کتاب ډېره مهمه موضوع دا ده چې خدای پاک خپل قوم چې ورباندې ګران ؤ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وژغوره او برکت يې ورته ورکړ. نو د هغه قوم به دا خبره په ياد ساتي او د هغه سره به مينه کوي او اطاعت به يې کوي ترڅو هغوی ژوندي وي او برکت ورباندې وي. د دې کتاب مهم آياتونه د داسې کلماتو لرونکي دي چې عيسیٰ مسيح هغه د ټولو حکمونو څخه لوی ګڼي او فرمايي: <د خپل څښتن خدای سره د زړه له کومي مينه کوئ.>

د موضوعګانو فهرست:


د حضرت موسیٰ اولنی وينا ۱: ۱ – ۴: ۴۹

د حضرت موسیٰ دوهمه وينا ۵: ۱ – ۲۶: ۱۹

الف: لس حکمونه ۵: ۱ – ۱۰: ۲۲

ب: قوانين، اصول او خبرداری ۱۱: ۱ – ۲۶: ۱۹

کنعان ته د داخلېدلو دپاره لارښوونې ۲۷: ۱ – ۲۸: ۶۸

د لوظ نوی کېدل ۲۹: ۱ – ۳۰: ۲۰

د حضرت موسیٰ اخرنی خبرې ۳۱: ۱ – ۳۳: ۲۹

د حضرت موسیٰ وفات کېدل ۳۴: ۱ – ۱۲




Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سریزه

۱ (۱) په دې کتاب کې هغه خبرې دي چې حضرت موسیٰ د اسراییلو خلکو ته په هغه وخت کې
کړې وې کله چې هغوی د اردن د سیند ختیځې خواته په دښته کې وو. هغوی سوف ته نژدې د اردن
په دره کې وو یعني د فاران د ښار چې په یو اړخ باندې ؤ او د توفل، لابان، حضیروت او د دیذهب
ښارونو ترمنځ چې په بل اړخ باندې وو. (۲) (د ادوم د غرنی سیمې په لار د سینا د غره څخه تر
قادش برنیع پورې د یوولسو ورځو فاصله ده.) (۳) د څلوېښتم کال د یوولسمې میاشتې په اوله
ورځ وروسته له دې چې د اسراییلو قوم د مصر څخه لاړ، حضرت موسیٰ هغه ټول شیان چې څښتن
د هغو په باره کې ورته حکم کړی ؤ چې قوم ته یې ووایي، هغوی ته وویل. (۴) دا کار وروسته له
هغې وشو کله چې څښتن د اموریانو پادشاه سیحون ته چې د حشبون ښار یې پایتخت ؤ او د باشان
پادشاه عوج ته چې د عشتاروت او ادرعي په ښارونو باندې یې حکومت کاوه ماتې ورکړه. (۵)
حضرت موسیٰ په داسې وخت کې د خدای پاک قوانین بیان کړل چې قوم د اردن په ختیځ کې د
موآب په سیمه کې ؤ.

هغه وفرمایل: (۶) <کله چې مونږ د سینا د غره سره وو، زمونږ څښتن خدای مونږ ته داسې
وفرمایل: زیاته موده وشوه چې تاسو د دې غره په څنګ کې پاتې شوي یئ. (۷) خېمې راټولې
کړئ او کډه وکړئ. د اموریانو غرنی سیمې او ټولو شاوخوا سیمو، د اردن درې، غرنی سیمې، د
غرونو لوېدیځو لمنو، جنوبي سیمې او د مدیترانې د بحیرې غاړې ته لاړ شئ. د کنعان ځمکې ته او د
لبنان د غرونو په لار د فرات تر لوی سیند پورې لاړ شئ. (۸) دا ټوله هغه ځمکه ده چې د هغې د
ورکولو وعده مې ستاسو د نیکونو یعني د ابراهیم، اسحاق او یعقوب او د هغوی د اولادې سره کړې
وه. لاړ شئ او هغه ځمکه ونیسئ.>

### حضرت موسیٰ قاضیان مقرروي

(هجرت ۱۸: ۱۳ – ۲۷)

(۹) حضرت موسیٰ قوم ته وفرمایل: <په داسې وخت کې چې مونږ لا د سینا د غره سره وو، ما
تاسو ته وویل: په تاسو باندې د مشرۍ کولو مسئولیت زما په وس کې نه دی. زه دا کار یوازې نه شم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولی. ⑩ زمونږ څښتن خدای ستاسو شمېر دومره زيات کړی دی لکه د اسمان د ستورو په شان.
⑪ زمونږ د نيکونو څښتن خدای دې تاسو زر چنده زيات کړي او تاسو ته دې د خپلې وعدې سره سم برکت درکړي! ⑫ خو زه په يوازې ځان نه شم کولی دا دروند مسئوليت په غاړه واخلم چې ستاسو شخړې حل کړم. ⑬ د هرې قبيلې څخه پوه او تجربه لرونکي نفر انتخاب کړئ. زه به هغوی ستاسو مشران کړم. ⑭ او تاسو وويل چې دا ښه کار دی. ⑮ نو ما ستاسو د قبيلو څخه هغه پوه او تجربه لرونکي خلک واخيستل او په تاسو باندې مې د مشرانو په توګه وټاکل. ځينو د زرو نفرو مسئوليت په غاړه درلود، ځينو د سلو، ځينو د پنځوسو او ځينو د لسو نفرو مسئوليت په غاړه درلود. همدارنګه ما د ټولو قبيلو څخه نور مشران هم مقرر کړل.

⑯ په هغه وخت کې ما قاضيانو ته دا لارښوونې ورکړې: هغو شخړو ته غوږ نيسئ چې ستاسو په خلکو کې رامنځته کيږي. په عادلانه ډول د هرې شخړې قضاوت کوئ، که دا يوازې ستاسو په خلکو پورې اړه لري يا په هغو بېګانه خلکو پورې چې ستاسو په منځ کې اوسيږي. ⑰ په خپلو پرېکړو کې د هيچا پلوي مه کوئ، په هرچا باندې يوشان قضاوت کوئ، دا مهمه نه ده چې هغه بې وزلی وي يا قدرتمند. د هيچا څخه مه وېرېږئ ځکه کومې پرېکړې چې تاسو يې کوئ هغه د خدای پاک له خوا دي. که چېرې کومه دعوه ستاسو دپاره ګرانه وي، ماته يې راوړئ او زه به يې پرېکړه وکړم.
⑱ په هماغه وخت کې ما تاسو ته د نورو ټولو کارونو په باره کې چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ لارښوونې وکړې.

## د قادش برنيع څخه نفر کنعان ته لېږل کيږي

(شمېر ۱۳: ۱ – ۳۳)

⑲ څه چې زمونږ څښتن خدای مونږ ته امر کړی ؤ هغه مو سرته ورسول. مونږ د سينا د غره څخه د پراخې او د وېرې څخه ډکې دښتې په لار د اموريانو غرنۍ سيمې ته لاړو. کله چې مونږ قادش برنيع ته ورسېدو، ⑳-㉑ ما درته وويل: اوس تاسو د اموريانو غرنۍ سيمې ته راغلي يئ کومه چې زمونږ څښتن خدای، يعنې زمونږ د نيکونو خدای يې مونږ ته راکوي. وګورئ، دا هماغه سيمه ده. لکه څنګه چې هغه امر کړی دی، زړه نا زړه کېږئ مه او مه وېرېږئ، لاړ شئ او هغه ونيسئ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٢ مګر تاسو ټول ماته راغلئ او ومو ویل: مخکې له دې چې هغې خاورې ته ورشو، راځئ چې
څو نفره ولېږو چې هغه وګوري، ترڅو مونږ ته سمه لاره وښايي چې ورباندې لاړ شو او راته ووايي
چې هلته څه ډول ښارونه دي.

٢٣ دا کار ماته ښه ښکاره شو، نو ما دولس نفره یعنې د هرې قبیلې څخه مې یو یو نفر انتخاب کړ.
٢٤ هغوی غرنی سیمې ته د اشکول تر درې پورې لاړل او هغه ځای یې وکاته. ٢٥ هغوی مونږ
ته له هغې خوا څخه لږه مېوه راوړله چې هلته یې پیدا کړې وه او خبر یې راوړ چې کومه ځمکه چې
زمونږ ښښتن خدای یې مونږ ته راکوي هغه ډېره حاصلخېزه ده.

٢٦ مګر تاسو ونه غوښتل چې هغې خاورې ته ورننوزئ او د خپل ښښتن خدای د امر د منلو
څخه مو سرغړونه وکړه. ٢٧ تاسو په خپلو خېمو کې پاتې شوئ او وغورېدئ او ومو ویل: ښښتن
زمونږ څخه کرکه کوي. هغه مونږ د دې دپاره د مصر څخه راوویستلو چې اموریانو ته مو په لاس
ورکړي، ترڅو مونږ ووژني. ٢٨ هلته ولې لاړ شو؟ مونږ وېرېږو. هغه نفر چې مونږ لېږلي وو مونږ
ته وايي چې د هغه ځای خلک زمونږ څخه قوي او لوړ دي او هغوی په داسې ښارونو کې ژوند کوي
چې دېوالونه یې اسمان ته رسیږي. حتیٰ هغوی په هغه ځای کې عناقیان هم ولیدل چې ډېر لوړ
قدونه یې درلودل!

٢٩ مګر ما وویل: د هغو خلکو څخه مه وېرېږئ. ٣٠-٣١ زمونږ ښښتن خدای به ستاسو مشري
وکړي او ستاسو دپاره به وجنګیږي لکه څنګه چې تاسو هغه په مصر او په دښته کې ولیدل چې
همداسې یې وکړل. تاسو ولیدل چې هغه څنګه په خیریت سره دې ځای ته راوستلئ لکه څنګه چې
یو پلار خپل زوی د یو ځای څخه بل ځای ته وړي. ٣٢ مګر زما د خبرو سره سره بیاهم تاسو په
ښښتن باندې اعتبار ونه کړ، ٣٣ که څه هم هغه همېشه ستاسو په مخ کې روان ؤ چې ستاسو دپاره
یو ځای پیدا کړي چې خېمې په کې ودروئ. هغه به د شپې له خوا په اور کې ستاسو په مخ کې روان
ؤ او د ورځې له خوا به په ورېځې کې روان ؤ د دې دپاره چې تاسو ته لاره وښايي.

## ښښتن اسراییلو ته سزا ورکوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ څښتن ستاسو شکايتونه واورېدل او په قهر شو، نو هغه قسم وخوړ او ويې فرمايل: ۳۵ ستاسو د دې خراب نسل څخه به هيڅوک هغې حاصلخېزې ځمکې ته داخل نه شي چې د هغې د ورکولو قسم مې ستاسو د نيکونو سره کړی ؤ. ۳۶ يوازې د يفنه زوی کاليب به ورداخل شي. هغه ماته وفادار پاتې شوی دی او زه به هغه او د هغه اولادې ته هغه ځمکه ورکړم چې هغه په کې ګرځېدلی ؤ.

۳۷ څښتن ستاسو په خاطر په ما باندې هم په قهر شو او راته ويې فرمايل: موسیٰ، حتیٰ ته به هم هغې ځمکې ته ورداخل نه شې. ۳۸ مګر خپل مرستيال د نون زوی يوشع تشويق کړه. هغه به د هغې خاورې په نيولو کې د اسراييلو مشري وکړي.

۳۹ بيا څښتن مونږ ټولو ته وفرمايل: ستاسو ماشومان به چې لا تر اوسه دومره کوچني دي چې د ښو او بدو ترمنځ فرق هم نه شي کولی هغې خاورې ته ورداخل شي، يعنې هغه ماشومان چې تاسو ويل چې ستاسو د دښمنانو له خوا به ونيول شي. زه به هغه ځمکه هغوی ته ورکړم او هغوی به يې ونيسي. ۴۰ مګر اوس تاسو بېرته وګرځئ او په هغې لار باندې چې سرې بحيرې ته ځي بېرته دښتې ته لاړ شئ.

۴۱ بيا تاسو ماته وويل: مونږ د خپل څښتن خدای د امر څخه سرغړونه وکړه، خو اوس غواړو چې د هغه د امر څخه اطاعت وکړو. لکه څنګه چې هغه مونږ ته فرمايلي دي مونږ به غرنی سيمې ته ورننوزو او وبه جنګېږو. نو تاسو خپلې وسلې راواخيستلې او داسې فکر مو کاوه چې په غرنی سيمه باندې حمله کول به آسانه وي.

۴۲ مګر څښتن ماته وفرمايل: هغوی ته خبرداری ورکړه چې حمله ونه کړي ځکه چې زه به د هغوی سره مل نه يم او هغوی ته به خپل دښمنان ماتې ورکړي. ۴۳ ما تاسو ته د څښتن خبرې وکړې، مګر تاسو ورته هيڅ توجه ونه کړه. د هغه په مقابل کې مو سرکشي وکړه او په غرور سره غرنی سيمې ته روان شوئ. ۴۴ بيا اموريان چې په هغې غرنی سيمه کې اوسېدل د مچيو په شان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو په مقابل کې راووتل. هغوی د ادوم تر خاورې پورې په تاسو پسې شول او د حرمه په ښار کې یې درته ماتې درکړه. ۴۵ نو تاسو بېرته راستانه شوئ او څښتن ته مو د مرستې دپاره زارۍ وکړې، مګر هغه تاسو ته هیڅ توجه ونه کړه او غوږونه یې درباندې کاڼه کړل. ۴۶ نو بیا مونږ زیات وخت په قادش کې پاتې شو.

## په دښته کې د سرګردانۍ کلونه

**۲** ۱ په آخر کې مونږ راوګرځېدو او د څښتن د امر سره سم په هغې لارې باندې چې سرې بحیرې ته ځي بېرته دښتې ته لاړو او ډېره موده د ادوم د غرنۍ سیمې په شاوخوا کې سرګردانه ګرځېدو.

۲ بیا څښتن ماته وفرمایل چې ۳ تاسو زیاته موده په هغو غونډیو کې سرګردانه وګرځېدئ، اوس د شمال خواته لاړ شئ. ۴ په خلکو باندې دغه امر وکړه: پام کوئ، ځکه چې تاسو به ژر د ادوم د غرنۍ سیمې له لارې چې ستاسو د لېرې خپلوانو یعنې د عیسو د اولادې ځمکه ده لاړ شئ. هغوی ستاسو څخه وېرېږي، ۵ مګر تاسو به د هغوی سره جنګ نه پیل کوئ، ځکه چې زه به د هغوی د ځمکې څخه تاسو ته یو متر مربع ځمکه هم در نه کړم. ما ادوم د عیسو اولادې ته ورکړې دی. ۶ تاسو کولی شئ چې د هغوی څخه خواړه او اوبه په بیه واخلئ.

۷ یاد ساتئ چې خپل څښتن خدای څنګه تاسو ته په هر کار کې برکت درکړی دی. لکه څنګه به چې تاسو په دې پراخه دښته کې سرګردانه ګرځېدئ، هغه په تاسو باندې پام کاوه. په دغو څلوېښتو کالو کې هغه ستاسو سره ؤ او هرڅه چې ستاسو په کار وو، هغه درته رسېدل.

۸ مونږ د هغې سیمې په خوا کې تېر شو چې زمونږ د خپلوانو یعنې د عیسو د اولادې سیمه وه. هغه لاره مو پرېښودله چې د ایلت او عصیون جابر څخه د ارام دریاب ته ځي او شمال ختیځ خواته د موآب د دښتې په لور وګرځېدو. ۹ څښتن ماته وفرمایل: د موآب خلکو یعنې د لوط اولادې ته تکلیف ونه رسوئ او جنګ ورسره ونه کړئ. ما هغوی ته د عار سیمه ورکړې ده او تاسو ته به د هغوی د ځمکې څخه هیڅ یوه برخه در نه کړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(١٠) (د ډېرو غټو خلکو قوي نسل چې د ايميانو په نوم يادېده په عار کې اوسېده. هغوی د عناقيانو په شان لوړ قدونه درلودل کوم چې د ډېرو لوړ قدو خلکو بل نسل ؤ. (١١) هغوی هم د عناقيانو په شان د رفائيانو په نوم مشهور وو، مګر موآبيانو هغوی د ايميانو په نوم يادول. (١٢) حوريان په ادوم کې اوسېدل، مګر د عيسو اولادې هغوی وشړل. د هغوی قوم يې له منځه يووړ او په خپله هلته اوسېدل، لکه څنګه چې وروسته اسراييليانو خپل دښمنان د هغې ځمکې څخه وشړل چې څښتن هغوی ته ورکړې وه.)

(١٣) <بيا لکه څنګه چې څښتن موږ ته وفرمايل، موږ د زارد د خوړ څخه تېر شو. (١٤) له هغه وخت څخه چې موږ د قادش برنيع څخه لاړو اته دېرش کاله تېر شوي وو. لکه څنګه چې څښتن فرمايلي وو، د هغه نسل ټول جنګي خلک مړه شول. (١٥) څښتن تر هغه وخته پورې د هغوی مخالفت کاوه ترڅو چې ټول يې له منځه يوړل.

(١٦) کله چې هغوی ټول مړه شول، (١٧) څښتن موږ ته وفرمايل: (١٨) نن به تاسو د موآب د سيمې څخه د عار په لاره باندې تېر شئ. (١٩) بيا به د عمونيانو ځمکې ته ورنژدې شئ چې د لوط اولاده ده. هغوی ته تکليف مه رسوئ او جنګ ورسره مه کوئ. هغوی ته مې خپله ځمکه ورکړې ده او د هغې څخه به تاسو ته هيڅ در نه کړم.>

(٢٠) (دا سيمه هم د رفائيانو د خاورې په نوم مشهوره ده، يعنې د هغو خلکو په نوم چې هلته اوسېدلي وو. عمونيانو هغوی د زمزميانو په نوم يادول. (٢١) هغوی د عناقيانو په شان لوړ قدونه درلودل. هغوی ډېر وو او يو قوي نسل ؤ. مګر څښتن هغوی تباه کړل، نو عمونيانو د هغوی خاوره ونيوله او هلته اوسېدل. (٢٢) څښتن د ادوميانو يعنې د عيسو د اولادې دپاره چې د ادوم په غرنۍ سيمه کې اوسيږي همداسې کار کړی ؤ. هغه حوريان له منځه يوړل، نو ادوميانو د هغوی ځمکه ونيوله او هلته اوسېدل او تر اوسه پورې هلته ژوند کوي. (٢٣) په هغه ځمکه کې چې د مديترانې د بحيرې په غاړه پرته وه، هغه خلک ځای په ځای شوي وو چې د کريت د جزيرې څخه وو. هغوی عويان چې د هغه ځای اصلي اوسېدونکي وو له منځه وړي وو او د هغوی ټوله ځمکه يې په جنوب کې د غزې تر ښاره پورې نيولې وه.)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ <کله چې مونږ د موآب څخه تېر شو، څښتن مونږ ته وفرمايل: اوس روان شئ او د ارنون د
سيند څخه تېر شئ. زه د حشبون پادشاه سيحون د هغه د هېواد سره تاسو ته تسليموم. حمله
ورباندې وکړئ او د هغه هېواد ونيسئ. ۲۵ له همدې ورځې څخه به ستاسو وېره د ټولو خلکو په
زړونو کې چې په هرځای کې اوسيږي واچوم. هرڅوک به ستاسو د نوم په اورېدلو سره له وېرې
لړزيږي.

## اسراييل سيحون پادشاه ته ماتې ورکوي

(شمېر ۲۱: ۲۱ – ۳۰)

۲۶ بيا ما د قديموت د دښتې څخه د حشبون پادشاه سيحون ته د سولې د لاندينې وړانديز سره
استازي ورولېږل: ۲۷ مونږ پرېږدئ چې ستاسو د هېواد څخه تېر شو. مونږ به مستقيم لاړ شو او د
لارې څخه به يو خوا بل خوا نه ځو. ۲۸ تاسو په مونږ باندې خواړه او اوبه خرڅ کړئ او مونږ به
د هغو بيه درکړو. خو يوازې دا اجازه راکړئ چې ستاسو د هېواد په لاره تېر شو، ۲۹ ترڅو د اردن
د سيند څخه هغې ځمکې ته واوړو چې خپل څښتن خدای يې راکوي. د عيسو اولادې چې په ادوم
کې اوسيږي او موآبيانو چې په عار کې اوسيږي، مونږ ته اجازه راکړه چې د هغوی د سيمې څخه تېر
شو.

۳۰ مګر سيحون پادشاه نه پرېښودلو چې د هغه د هېواد په لاره تېر شو. زمونږ څښتن خدای د هغه
زړه سخت کړی ؤ او هغه يې سرزوره کړی ؤ ترڅو مونږ وکولی شو هغه ته ماتې ورکړو او د هغه
سيمه ونيسو چې تر اوسه پورې زمونږ سره ده.

۳۱ بيا څښتن ماته وفرمايل: ګوره، ما سيحون پادشاه او د هغه خلک ستاسو په مقابل کې کمزوري
کړي دي، لاړ شئ او د هغه خاوره ونيسئ. ۳۲ سيحون د خپلو ټولو نفرو سره راووت چې د ياهص
ښار ته نژدې زمونږ سره وجنګيږي، ۳۳ مګر زمونږ څښتن خدای هغه مونږ ته په لاس راکړ او
مونږ هغه، د هغه زامن او د هغه ټول نفر ووژل. ۳۴ په عين وخت کې مونږ هر يو ښار ونيوه او هغه
مو وران کړ او ټول نارينه، ښځې او ماشومان مو ووژل. هيڅوک مو ژوندی پرېنښود. ۳۵ مګر مونږ
د هغوی حيوانات يوړل او ښارونه مو ورته لوټ کړل. ۳۶ زمونږ څښتن خدای مونږ پرېښودلو چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول ښارونه د عروعير څخه نيولې چې د ارنون د درې په غاړه پروت دی او هغه ښار چې د درې په منځ کې دی تر جلعاد پورې ونيسو. د هيڅ يو ښار دېوالونو زمونږ په مقابل کې مقاومت نه درلود.
۳۷ مګر مونږ د عمونيانو سيمې يا د يبوق د سيند غاړې ته يا د غرنی سيمې ښارونو ته يا داسې بل ځای ته ورنږدې نه شو چې زمونږ څښتن خدای هغو ځايونو ته د ورتګ څخه منع کړې وو.

## د باشان د پادشاه عوج ماتې

(شمېر ۲۱: ۳۳ – ۳۵)

**۳** ۱ بيا مونږ شمال ته د باشان په لور روان شو او عوج پادشاه د خپل ټول لښکر سره راووت چې د ادرعي ښار ته نژدې زمونږ سره وجنګيږي. ۲ مګر څښتن ماته وفرمايل: د هغه څخه مه وېرېږه. زه هغه، د هغه نفر او د هغه ټوله سيمه تاته درکوم. د هغه سره هماغه شان چلند وکړه لکه څنګه چې دې د اموريانو د پادشاه سيحون سره چې حشبون يې پايتخت ؤ کړی ؤ.

۳ نو څښتن عوج پادشاه او د هغه لښکر هم مونږ ته په لاس راکړ او هغوی ټول مو ووژل. ۴ په عين وخت کې مونږ د هغه ټول ښارونه ونيول، يو ښار هم زمونږ څخه پاتې نه شو. ټول ښارونه چې مونږ ونيول شمېر يې شپېتو ته رسېده، يعنې د ارجوب ټوله سيمه چې د باشان پادشاه عوج ورباندې حکومت کاوه. ۵ دغو ټولو ښارونو لوړ دېوالونه او داسې دروازې درلودلې چې په سيخونو باندې بندېدلې. همدارنګه ډېر داسې کلي هم وو چې دېوالونه يې نه درلودل. ۶ مونږ ټول ښارونه وران کړل او ټول نارينه، ښځې او ماشومان مو ووژل. مونږ د حشبون پادشاه سيحون په ښارونو کې هم همداسې کړي وو. ۷ مونږ حيوانات يوړل او ښارونه مو لوټ کړل.

۸ په هغه وخت کې مونږ د اردن د سيند په ختيځ کې د هغو دوو امورياېي پادشاهانو څخه د ارنون د سيند څخه د حرمون تر غره پورې ځمکه ونيوله.> ۹ (صيدونيان د حرمون غر د سريون په نوم يادوي او اموريان يې د سنير په نوم يادوي.) ۱۰ <مونږ د باشان د پادشاه عوج ټوله سيمه ونيوله يعنې هغه ښارونه چې په لوړه جلګه باندې وو او د سلخه او ادرعي د ښارونو تر ختيځ پورې د جلعاد او باشان سيمې.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ (عوج پادشاه په رفائیانو کې آخرنی نفر ؤ. د معیاري اندازې په مطابق د هغه تابوت چې له
تیږو څخه جوړ شوی ؤ څلور متره اوږد ؤ او نژدې دوه متره پلن ؤ. هغه تر اوسه پورې د عمونیانو د
ربه په ښار کې شته.)

## هغه قبیلې چې د اردن د سیند په ختیځ کې اوسېدلې

(شمېر ۳۲: ۱ – ۴۲)

۱۲ <کله چې مونږ هغه ځمکه ونیوله، ما د روبین او جاد قبیلو ته هغه سیمه ورکړه چې د عروعیر
د ښار په شمال کې وه (د عروعیر ښار د ارنون سیند ته نژدې ؤ) او د جلعاد د غرنۍ سیمې یوه برخه
مې هم د هغه ځای د ښارونو سره ورکړه. ۱۳ یاتې جلعاد او ټول باشان چې عوج وربانديې
حکومت کړی ؤ یعنې د ټول ارجوب سیمه مې هم د منسي نیمې قبیلې ته ورکړه.>

(باشان د رفائیانو د هېواد په نوم یادېده. ۱۴ یائیر چې د منسي د قبیلې څخه ؤ، هغه د ارجوب ټوله
سیمه یعنې د باشان سیمه د جشور او معکې تر سرحده پورې ونیوله. د هغې سیمې کلي يې په خپل
نوم یاد کړل او تر اوسه پورې د یائیر د کلیو په نوم یادیږي.)

۱۵ <جلعاد مې د ماخیر طایفې ته چې د منسي د قبیلې څخه ده ورکړ. ۱۶ د روبین او جاد
قبیلو ته مې د جلعاد څخه د ارنون تر سینده پورې سیمه ورکړه. هغه سیند د هغوی جنوبي سرحد ؤ
او د یبوق سیند د هغوی شمالي سرحد ؤ. د یبوق د سیند یوه برخه د عمونیانو سرحد ؤ. ۱۷ د
لوېدیځې خوا څخه د هغوی سیمه د اردن تر سیند پورې یعنې د جلیل د جهیل څخه د ارام تر
دریاب او د پیسګاه د غره تر لمنې پورې غزېدلې وه.

۱۸ په عین وخت کې ما هغوی ته دا حکم وکړ: زمونږ څښتن خدای تاسو ته دا ځمکه د اردن په
ختیځ کې درکړې ده چې ويې نیسئ. نو اوس خپلو جنګي نفرو ته وسلې ورکړئ او د اسراییلو د
نورو قبیلو څخه یې مخکې د اردن بلې غاړې ته ولېږئ چې د هغوی سره د هغوی د ځمکې په نیولو
کې مرسته وکړي. ۱۹ خو ستاسو ښځې، ماشومان او همدارنګه ستاسو حیوانات به چې ډېر زیات
دي په هغو ښارونو کې پاتې کیږي چې ما تاسو ته درکړي دي. ۲۰ کله چې څښتن ستاسو په شان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نورو اسراییلیانو ته ارامي ور په برخه کړي او کله چې هغوی هغه ځمکه ونیسي چې څښتن يې ورته د اردن د سیند په بله غاړه باندې ورکوي نو بیا تاسو کولی شئ بېرته دې ځمکې ته چې تاسو ته مې درکړې ده راستانه شئ.

۲۱ بیا مې یوشع ته داسې حکم وکړ: تا هغه ټول کارونه په خپلو سترګو لیدلي دي چې زمونږ څښتن خدای په هغو دوو پادشاهانو یعنې سیحون او عوج باندې وکړل. هغه به د هغو نورو ټولو خلکو سره هم همداسې وکړي چې ته يې په وطن باندې حمله کوې. ۲۲ د هغوی څخه مه وېرېږئ ځکه چې زمونږ څښتن خدای به ستاسو دپاره وجنګیږي.

## حضرت موسیٰ ته اجازه نه ورکول کیږي چې کنعان ته ورداخل شي

۲۳ په هغه وخت کې ما داسې زارۍ وکړې: ۲۴ څښتن تعالیٰ، زه پوهیږم چې تا ماته یوازې د خپلې لویی او قدرت څرګندول پیل کړل. په اسمان کې او په ځمکه باندې هیڅ داسې خدای نشته چې داسې لوی لوی کارونه وکولی شي کوم چې تا کړي دي! ۲۵ څښتنه، ما پرېږده چې د اردن د سیند څخه تېر شم او هغه حاصلخیزه ځمکه ووینم چې په بله غاړه باندې پرته ده او ښایسته غرنۍ سیمه او د لبنان غرونه ووینم.

۲۶ مګر څښتن ستاسو په خاطر په ما باندې په قهر ؤ او ماته يې غوږ نه نیوه. د دې په ځای هغه وفرمایل: بس کړه! بیا د دې خبرې یادونه ونه کړې! ۲۷ د پیسګاه د غره څوکې ته وخیژه او د شمال او جنوب، ختیځ او لوېدیځ خواته وګوره. څه چې درته ښکاري هغه په غور سره وګوره، ځکه چې ته به هیڅکله د اردن د سیند څخه تېر نه شي. ۲۸ یوشع ته لارښوونې وکړه. د هغه عزم قوي کړه، ځکه چې هغه به خلک بلې غاړې ته پورې باسي چې هغه ځمکه ونیسي چې ته يې وینې.

۲۹ نو مونږ په هغې درې کې پاتې شو چې د بیت فغور ښار ته مخامخ وه.>

## حضرت موسیٰ قوم د خدای پاک اطاعت ته هڅوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ⑴ بیا حضرت موسیٰ قوم ته وفرمایل: <د هغو ټولو قوانینو اطاعت وکړئ چې زه یې تاسو ته درزده کوم ترڅو تاسو ژوندي پاتې شئ او هغې ځمکې ته به ورداخل شئ او وبه یې نیسئ چې ستاسو د نیکونو ښتبن خدای یې درکوي. ⑵ زما امرونو ته هیڅ شی ورزیات او هیڅ شی ورڅخه کم نه کړئ. د خپل ښتبن خدای د امرونو څخه چې ما درکړي دي اطاعت وکړئ. ⑶ تاسو په خپله ولیدل چې ښتبن د فغور غره ته نژدې څه وکړل. ښتبن هغه ټول خلک له منځه یوړل چې هلته یې د بعل عبادت کاوه، ⑷ مګر له تاسو څخه چې څوک ستاسو ښتبن خدای ته وفادار وو، هغوی تر نن ورځې پورې ژوندي دي.

⑸ ما د خپل ښتبن خدای د وینا سره سم تاسو ته ټول قوانین درزده کړي دي. د هغو اطاعت په هغه خاوره کې کوئ چې تاسو به ورداخل شئ او هغه به ونیسئ. ⑹ په وفادارۍ سره د هغو اطاعت وکړئ، نو دا کار به نورو قومونو ته دا خبره په ډاګه کړي چې تاسو څومره پوه خلک یئ. کله چې هغوی د دغو ټولو قوانینو په هکله واوري، داسې به وایي: دا لوی قوم څومره حکمت او پوهه لري!

⑺ بل هیڅ قوم چې هرڅومره لوی وي داسې خدای نه لري چې هغوی ته د ضرورت په وخت کې دومره نژدې وي لکه څنګه چې مونږ ته خپل ښتبن خدای نژدې دی. هرکله چې مونږ د مرستې دپاره سوال وکړو، هغه یې قبلوي. ⑻ بل هیڅ قوم چې هرڅومره لوی وي داسې عادلانه قوانین نه لري لکه کوم چې ما تاسو ته نن درزده کړي دي.

⑼-⑽ ډېر پام کوئ ترڅو پورې چې تاسو ژوندي یئ هغه څه چې تاسو په خپلو سترګو لیدلي دي هېر یې نه کړئ. خپلو اولادونو او لمسیو ته د هغې ورځې په باره کې ووایئ چې کله تاسو د سینا د غره سره د خپل ښتبن خدای په حضور کې ولاړ وئ چې هغه ماته وفرمایل: د اسراییلو قوم راغونډ کړه. زه غواړم چې هغوی زما خبرې واوري چې ترڅه وخته پورې هغوی ژوندي وي زما احترام او اطاعت به کوي او خپلو اولادونو ته یې هم ورزده کړي چې همداسې وکړي.

⑾ خپلو اولادونو ته ووایئ چې تاسو څرنګه لاړئ او د هغه غره په لمنه کې ودرېدلئ چې هلته ټینګه وریځ او توره تیاره وه او اور ورڅخه اسمان ته پورته کېده. ⑿ هغوی ته ووایئ چې ښتبن



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښتګه ستاسو سره د اور له منځ څخه خبرې وکړې، څنګه تاسو د هغه خبرې واورېدلې مګر د هغه څېره مو ونه لیدله. (۱۳) هغه درته وفرمایل د دې دپاره چې په هغه لوظ باندې ودرېږئ چې هغه ستاسو سره کړی دی څه باید وکړئ. تاسو باید د هغو لسو حکمونو اطاعت وکړئ چې هغه د تیږو په دوو لوحو باندې لیکلي دي. (۱۴) څښتن ماته وفرمایل چې تاسو ته هغه ټول قوانین درزده کړم چې باید په هغه خاوره کې یې اطاعت وکړئ چې نژدې ده چې حمله ورباندې وکړئ او هغه ونیسئ.

## د بت پرستۍ په ضد خبرداری

(۱۵)-(۱۸) کله چې څښتن د سینا په غره باندې ستاسو سره د اور له منځ څخه خبرې وکړې، تاسو هیڅ یوه څېره ونه لیدله. نو بیا پام کوئ چې تاسو به د ځانونو دپاره د هیڅ شي په شکل کې بت نه جوړوئ، که هغه د سړي په شکل وي یا د ښځې، د حیوان یا مارغه، خزندې یا د ماهي په شکل او په دې کار به ځانونه نه ګناهکاروئ. (۱۹) کله چې تاسو اسمان ته ګورئ او لمر، سپوږمۍ او ستوري وینئ نو وسوسه کېږئ مه چې هغو ته سجده وکړئ یا یې عبادت وکړئ. ستاسو څښتن خدای دا شیان د دنیا د نورو قومونو دپاره پیدا کړي دي چې عبادت یې وکړي. (۲۰) مګر تاسو هغه قوم یئ چې هغه د مصر څخه راوویست، یعنې له اوره ډک داش څخه. هغه د دې دپاره راوویستلئ چې ستاسو څخه خپل قوم جوړ کړي لکه څنګه چې نن یئ. (۲۱) څښتن ستاسو په خاطر په ما باندې په قهر شو، قسم یې وخوړ او ویې فرمایل: ته نه شې کولی د اردن د سیند څخه هغې حاصلخېزې ځمکې ته واوړې چې زه یې خپل قوم ته ورکوم. (۲۲) نو زه موسیٰ به په دې خاوره کې مړ شم او هیڅکله به د سیند څخه تېر نه شم، مګر تاسو دې ته نژدې یئ چې ورڅخه تېر شئ او هغه حاصلخېزه ځمکه ونیسئ. (۲۳) پام کوئ هغه لوظ به نه هېروئ چې ستاسو څښتن خدای تاسو سره کړی دی. د هغه د امر اطاعت وکړئ چې تاسو به د خپل ځانونو دپاره هیڅ ډول بت نه جوړوئ، (۲۴) که چېرې تاسو د نورو خدایانو عبادت وکړئ، نو ستاسو څښتن خدای غیرتي خدای دی او هغه د داسې اور په شان دی چې هر شی یې مخې ته ورشي له منځه یې وړي.

(۲۵) کله چې په هغه وطن کې ډېره موده واوسېږئ او اولادونه او لمسیان مو پیدا شي نو د هیڅ شي په شکل کې به د بت په جوړولو سره ګناه نه کوئ. دا د څښتن په نظر کې بد کار دی او هغه به په دې کار په قهر شي. (۲۶) زه همدا نن اسمان او ځمکه ستاسو په مقابل کې شاهدان نیسم، که چېرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما څخه نافرماني وکړئ، نو ژر به د هغې ځمکې له مخ څخه ورک شئ. تاسو به په هغه خاوره کې ډېره موده ژوند ونه کړئ کومه چې د اردن په بله غاړه باندې پرته ده او تاسو يې نيسئ. تاسو به بېخي تباه شئ. ﴿۲۷﴾ څښتن به تاسو په نورو قومونو کې خپاره کړي چې ستاسو څخه به يوازې څو تنه په کې ژوندي پاتې شي. ﴿۲۸﴾ تاسو به هلته د داسې خدايانو عبادت کوئ چې د انسانانو په لاسونو جوړ شوي وي، داسې خدايان چې د لرګيو او تيږو څخه جوړ شوي وي چې ليدلی يا اورېدلی نه شي او څه خوړلی يا بوی کولی نه شي. ﴿۲۹﴾ مګر که چېرې هلته د خپل څښتن خدای د لټولو پرېکړه وکړئ او تاسو هغه د زړه له کومي ولټوئ، نو هغه به ومومئ. ﴿۳۰﴾ کله چې تاسو د ستونزو سره مخامخ شئ او دا ټول شيان درباندې راشي، نو آخر به څښتن ته رجوع وکړئ او د هغه اطاعت به وکړئ. ﴿۳۱﴾ هغه زړه سواندی خدای دی. هغه به ستاسو څخه مخ نه اړوي او نه به تاسو تباه کړي او هغه لوظ به هېر نه کړي چې هغه په خپله ستاسو د نيکونو سره کړی دی.

﴿۳۲﴾ تېر شوي وخت ته وګورئ يعنې هغه وخت چې تاسو پيدا شوي نه وئ او له هغه وخت څخه چې خدای پاک د ځمکې په مخ انسانان پيدا کړل. ټوله دنيا ولټوئ، آيا داسې لوی لوی کارونه مخکې کله شوي دي؟ آيا داسې شيان چا کله اورېدلي دي؟ ﴿۳۳﴾ آيا داسې قوم شته چې کوم خدای د هغه سره د اور له منځ څخه خبرې کړې وي او هغه يې ستاسو په شان اورېدلې وي او ژوندی پاتې شوی وي؟ ﴿۳۴﴾ آيا کوم خدای داسې جرأت کړی دی چې لاړ شي او د بل قوم څخه هغه قوم راواخلي کوم چې د هغوی سره غلامان وو او خپل قوم ورڅخه جوړ کړي لکه څنګه چې ستاسو څښتن خدای په مصر کې ستاسو دپاره وکړ؟ هغه ستاسو د سترګو په وړاندې د خپل لوی قدرت او قوت څخه کار واخيست. هغه آفتونه او جنګ راوست، معجزې يې وښودلې او عجيبه عجيبه کارونه يې وکړل او وېروونکې پېښې يې رامنځته کړې. ﴿۳۵﴾ څښتن دا شيان د دې دپاره دروښودل چې تاسو ته دا خبره ثابته کړي چې يوازې هغه خدای دی او بل خدای نشته. ﴿۳۶﴾ هغه تاسو پرېښودئ چې د اسمان څخه د هغه غږ واورئ، ترڅو تاسو په سمه لاره برابر کړي. هغه په ځمکه باندې تاسو ته خپل وېروونکی اور وښود او تاسو د اور له منځ څخه د هغه خبرې واورېدلې. ﴿۳۷﴾ د دې په خاطر چې هغه ستاسو د نيکونو سره مينه درلوده، نو د هغوی څخه وروسته يې د هغوی اولاده يعنې تاسو انتخاب کړئ او په خپل لوی قدرت يې په خپله د مصر څخه راوويستلئ. ﴿۳۸﴾ اوس تاسو د نورو قومونو سره چې ستاسو څخه قوي دي مخامخ يئ، خو څښتن لا د مخه د خپلې خاورې څخه د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی په شړلو شروع کړي ده او هغه تاسو ته درکوي. (۳۹) نو همدا نن یاد ساتئ او هیڅکله دا خبره هېره نه کړئ چې څښتن د اسمانونو او ځمکې خدای دی. بل خدای نشته. (۴۰) د هغه د هغو ټولو قوانینو اطاعت کوئ چې نن مې تاسو ته درکړل، نو ستاسو او ستاسو د اولادې هر کار به سم وي. تاسو به په هغه وطن کې چې ستاسو څښتن خدای یې تاسو ته د تل دپاره درکوي اوږد ژوند ولرئ.>

## د پناه اخیستلو ښارونه چې د اردن د سیند په ختیځ کې وو

(۴۱) بیا حضرت موسیٰ د اردن د سیند په ختیځ کې درې ښارونه جدا کړل (۴۲) چې داسې سړی هلته وتښتي او خوندي پاتې شي چې په سهوې سره یې یو داسې نفر وژلی وي چې دښمن یې نه وي. هغه کولی شي چې د دغو ښارونو څخه یو ښار ته وتښتي او خپل ژوند وژغوري. (۴۳) د روبین د قبیلې دپاره د باصر ښار ؤ چې د دښتې په لوړه جلګه باندې پروت ؤ. د جاد د قبیلې دپاره راموت ؤ چې د جلعاد په سیمه کې پروت ؤ او د منسي د قبیلې دپاره د جولان ښار ؤ چې د باشان په سیمه کې پروت ؤ.

## د خدای پاک د شریعت پېژندګلوي

(۴۴) حضرت موسیٰ د اسراییلو قوم ته د خدای پاک قوانین ورکړل. (۴۵)-(۴۶) هغه دا قوانین هغوی ته د هغه وخت څخه وروسته ورکړل چې هغوی د مصر څخه راوتلي وو او د اردن د سیند ختیځ خواته په دره کې وو چې د بیت فغور ښار ته مخامخ وه. دا د اموریانو د پادشاه یعنې د سیحون په سیمه کې وه چې د حشبون ښار یې پایتخت ؤ. مګر حضرت موسیٰ او د اسراییلو قوم هغه ته ماتې ورکړه. (۴۷) هغوی د سیحون او د باشان د پادشاه یعنې د عوج خاوره ونیوله. عوج د اموریانو بل پادشاه ؤ چې د اردن په ختیځ کې اوسېده. (۴۸) دا خاوره د عروعیر د ښار څخه چې د ارنون د سیند په غاړه پروت ؤ، په شمال کې د سریون یعنې د حرمون تر غره پورې غزېدلې وه. (۴۹) په هغې کې د اردن د سیند ټوله ختیځه سیمه د ارام تر دریاب او د پیسګاه د غره تر لمنې پورې شامله وه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## لس حکمونه

(هجرت ۲۰: ۱ – ۱۷)

**۵** (۱) حضرت موسیٰ د اسراییلو ټول قوم راوغوښت او ورته ويې فرمايل: <ای د اسراييلو
خلکو، هغو ټولو قوانينو ته غوږ ونيسئ چې زه يې نن تاسو ته درکوم. هغه زده کړئ او په غور سره د
هغو څخه پيروي وکړئ. (۲)-(۳) زمونږ څښتن خدای د سينا د غره سره نه يوازې زمونږ د پلرونو
سره لوظ وکړ، بلکه زمونږ ټولو سره يې چې تر نن ورځې پورې ژوندي يو وکړ. (۴) څښتن په
هماغه غره باندې د اور له منځ څخه ستاسو سره مخامخ خبرې وکړې. (۵) په هغه وخت کې زه
ستاسو او څښتن ترمنځ ودرېدم چې د هغه خبرې تاسو ته ورسوم، ځکه چې تاسو د هغه اور څخه
وېرېدئ او غره ته نه ورختلئ.

څښتن وفرمايل: (۶) زه ستاسو څښتن خدای يم چې تاسو مې له مصر څخه چې په کې غلامان
وئ راوويستلئ.

(۷) زما څخه پرته د بل خدای عبادت مه کوئ.

(۸) د خپلو ځانونو دپاره د هيڅ شي په شکل چې هغه په اسمان کې يا په ځمکه باندې يا د ځمکې
لاندې په اوبو کې وي بتان مه جوړوئ. (۹) هيڅ بت ته سجده يا عبادت مه کوئ ځکه چې زه
ستاسو څښتن خدای يو غيرتي خدای يم. څوک چې زما څخه کرکه کوي زه به هغوی او د هغوی
اولادې ته تر دريم او څلورم نسله پورې سزا ورکړم. (۱۰) مګر زه د هغو زرګونو نسلونو سره چې
زما سره مينه کوي او زما امرونو ته غاړه ږدي مينه کوم.

(۱۱) زما نوم د بدو مقصدونو دپاره مه استعمالوئ، ځکه چې زه ستاسو څښتن خدای به هغه چاته
سزا ورکړم څوک چې زما نوم په غلطه استعمال کړي.

(۱۲) لکه څنګه چې ما يعنې ستاسو څښتن خدای په تاسو باندې امر کړی دی، د سبت ورځ
ولمانځئ او هغه مقدسه وګڼئ. (۱۳) تاسو د کار کولو دپاره شپږ ورځې لرئ، (۱۴) مګر اوومه ورځ د
ارام کولو ورځ ده چې څښتن خدای ته وقف شوې ده. په دې ورځ به تاسو هيڅ کار نه کوئ، نه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو، نه ستاسو زامن یا لورګانې، نه غلامان، نه ستاسو غوایان یا خره یا نور حیوانات او نه هغه بېګانه خلک چې ستاسو په وطن کې اوسېږي. ستاسو غلامان باید ستاسو په شان استراحت وکړي.

۱۵ دا په یاد ولرئ چې تاسو په مصر کې غلامان وئ او ما یعنې ستاسو څښتن خدای په خپل لوی قدرت او قوت سره ازاد کړئ. نو ځکه تاسو ته امر کوم چې د سبت یعنې د ارام کولو ورځ لمانځئ.

۱۶ لکه څنګه چې زه، یعنې ستاسو څښتن خدای تاسو ته امر کوم، د خپل پلار او مور احترام کوئ ترڅو ستاسو ټول کارونه سم وي او په هغه خاوره کې چې زه یې درکوم زیات عمر ولرئ.

۱۷ قتل مه کوئ.

۱۸ زنا مه کوئ.

۱۹ غلا مه کوئ.

۲۰ د هیچا په ضد د دروغو شهادت مه ورکوئ.

۲۱ د بل سړي ښځې ته د طمعې په سترګه مه ګورئ. د هغه کور، ځمکې، غلامانو، غوایانو، خرو یا هرڅه چې هغه یې لري، ورته د طمعې په سترګه مه ګورئ.

۲۲ دا هغه حکمونه دي چې څښتن په هغه وخت کې تاسو ټولو ته درکړل کله چې د سینا د غره تر څنګ سره راغونډ شوي وئ او هغه په لوړ اواز سره د اور او تېنګې ورېځې له منځ څخه خبرې وکړې. هغه نور څه نه بلکه همدا حکمونه راکړل. بیا یې هغه د تیږو په دوو لوحو باندې ولیکل او ماته یې راکړل.

## د خلکو وېره

(هجرت ۲۰: ۱۸ – ۲۱)

۲۳ کله چې ټول غره اور واخیست او تاسو هغه غږ واورېد چې د تیارې څخه راتله، نو ستاسو مشران او ستاسو د قبیلو رئیسان ماته راغلل ۲۴ او ویې ویل: کله چې مونږ د هغه خبرې واورېدلې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د اور له منځ څخه يې کولې، مونږ ته خپل څښتن خدای خپله لويي او جلال راوښودل! نن مونږ وليدل چې د يو انسان دپاره که خدای پاک ورسره خبرې هم کړې وي دا ممکنه ده چې ژوندی پاتې شي. ﴿۲۵﴾ خو مونږ ولې خپل ځانونه د مرګ په خطر کې واچوو؟ هغه هيبتناکه اور به مونږ له منځه يوسي. مونږ يقين لرو که چېرې د خپل څښتن خدای غږ بيا واورو نو مړه به شو. ﴿۲۶﴾ آيا داسې يو انسان چې د اور له منځ څخه يې د حقيقي خدای خبرې اورېدلې وي کله ژوندی پاتې شوی دی؟
﴿۲۷﴾ حضرت موسیٰ، نژدې ورشه او زمونږ د څښتن خدای ټولو خبرو ته غوږ ونيسه. بيا بېرته راشه او هغه خبرې چې هغه درته وکړلې مونږ ته يې ووايه. مونږ به ورته غوږ ونيسو او وبه يې منو.

﴿۲۸﴾ کله چې څښتن دا خبرې واورېدلې، هغه ماته وفرمايل: ما د دغو خلکو خبرې واورېدلې، هغوی صحيح وايي. ﴿۲۹﴾ کاشکې هغوی همېشه داسې احساس ولري! کاشکې هغوی همېشه زما څخه وويرېږي او زما ټولو امرونو ته غاړه کېږدي، ترڅو د تل دپاره د هغوی او د هغوی د اولادې هر کار سم وي. ﴿۳۰﴾ لاړ شه او هغوی ته ووايه چې بېرته خپلو خېمو ته ورستانه شي. ﴿۳۱﴾ مګر موسیٰ، ته دلته زما سره پاتې شه. زه به تاته خپل ټول قوانين او امرونه درکړم. هغه قوم ته ورزده کړه، ترڅو هغوی په هغه خاوره کې ورته غاړه کېږدي چې زه يې ورکوم.

﴿۳۲﴾ د اسراييلو خلکو، تاسو بايد په غور سره د خپل څښتن خدای هر امر په ځای کړئ. د هغه د هيڅ يو قانون څخه سرغړونه ونه کړئ. ﴿۳۳﴾ د هغو ټولو څخه پيروي وکړئ، ترڅو ستاسو ټول کارونه صحيح روان وي او په هغه وطن کې چې تاسو به يې ونيسئ، خپل ژوند ته دوام ورکړئ.

## ډېر مهم حکم

**۶** ﴿۱﴾ څښتن ماته وفرمايل چې تاسو ته دغه ټول قوانين درکړم، ترڅو وکولی شئ په هغې خاورې کې د هغو اطاعت وکړئ کومه چې هغه يې درکوي. تاسو به ژر د اردن د سيند څخه تېر شئ او هغه خاوره به ونيسئ. ﴿۲﴾ ترڅو پورې چې تاسو ژوندي يئ، تاسو او ستاسو اولاده بايد د خپل څښتن خدای عزت کوئ او د هغه د ټولو قوانينو اطاعت کوئ چې زه يې درکوم، ترڅو تاسو په هغه خاوره کې زيات عمر ولرئ. ﴿۳﴾ ای د اسراييلو خلکو، غوږ ونيسئ او په غور سره هغو قوانينو ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غاړه کېږدئ! بیا به ستاسو هر کار سم شي او ستاسو څخه به یو لوی قوم جوړ شي او زمونږ د نیکونو د څښتن خدای د وعدې سره سم به په هغې غني او حاصلخېزې خاوره کې واوسېږئ.

۴ ای د اسراییلو خلکو، غوږ ونیسئ! یوازینی خدای چې وجود لري هغه زمونږ څښتن خدای دی. ۵ د زړه له کومې په خپل ټول ځان او ټول قوت سره د خپل څښتن خدای سره مینه کوئ.
۶ دا قوانین چې زه یې نن تاسو ته درکوم هغه هیڅکله مه هېروئ. ۷ هغه خپلو اولادونو ته ورزده کړئ. که په کور کې یئ یا په لاره روان یئ یا ارام کوئ یا کار کوئ هغه بیا بیا ووایئ. ۸ هغه ولیکئ او په خپلو مټو او تندیو باندې یې وتړئ چې د هغو په اطاعت کولو کې درسره مرسته وکړي. ۹ دا قوانین د خپلو کورونو د دروازو په چوکاټونو او د خپلو ښارونو په دروازو باندې ولیکئ.

## د نافرمانۍ په ضد خبرداری

۱۰ څښتن خدای ستاسو د نیکونو یعني حضرت ابراهیم، حضرت اسحاق او حضرت یعقوب سره وعده کړې وه چې هغه به تاسو ته دا ځمکه درکړي. اوس به هغه تاسو هلته ورولي او تاسو ته به لوی لوی ښارونه چې داسې ښې ودانۍ په کې وي چې تاسو خپله نه دي جوړې کړې درکړي. ۱۱ کورونه به د ښو ښو شیانو څخه ډک وي چې تاسو په کې نه وي ایښي او کوهیان به وي چې تاسو به نه وي کیندلي او د انګورو او د زیتونو باغونه به وي چې تاسو به نه وي کرلي. کله چې څښتن تاسو دې ځمکې ته ورولي او تاسو ته د خوراک دپاره هرڅه درورسیږي، ۱۲ پام کوئ چې څښتن به نه هېروئ چا چې تاسو د مصر څخه چې په کې غلامان وئ، راوویستلئ. ۱۳ د خپل څښتن خدای څخه ووېرېږئ. یوازې د هغه عبادت کوئ او یوازې د هغه په نوم قسم خورئ. ۱۴ نورو خدایانو یعني د هغو قومونو خدایانو ته عبادت مه کوئ چې ستاسو په شاوخوا کې دي. ۱۵ که چېرې تاسو د نورو خدایانو عبادت وکړئ، د څښتن قهر به د اور په شان درباندې نازل شي او تاسو به د ځمکې له مخ څخه ورک کړي ځکه ستاسو څښتن خدای چې ستاسو په منځ کې حاضر دی، هغه غیرتي خدای دی.

۱۶ خپل څښتن خدای مه ازمایئ، لکه څنګه چې تاسو په مسا کې وازمایه. ۱۷ همېشه په غور



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره د هغو ټولو قوانينو اطاعت کوئ چې تاسو ته يې درکړي دي. ⁽١٨⁾-⁽١٩⁾ هغه کارونه کوئ چې د
څښتن په نظر کې صحيح او ښه دي، نو ستاسو هر کار به سم شي. بيا به وکولی شئ چې د هغې
حاصلخېزې ځمکې ملکيت ترلاسه کړئ ځکه چې څښتن به ستاسو دښمنان وشړي، لکه څنګه چې
هغه ستاسو د نيکونو سره وعده کړې ده.

⁽٢٠⁾ په راتلونکي کې به ستاسو اولادونه پوښتنه وکړي چې زموږ څښتن خدای ولې په موږ باندې
امر کړی دی چې دغو ټولو قوانينو ته غاړه کېږدو؟ ⁽٢١⁾ بيا هغوی ته ووايئ: موږ په مصر کې د
فرعون غلامان وو او څښتن په خپل لوی قدرت ازاد کړو. ⁽٢٢⁾ موږ په خپلو سترګو وليدل چې
معجزې يې وکړې او په مصريانو او فرعون او د هغه په ټولو درباريانو باندې يې وېروونکې کارونه
وکړل. ⁽٢٣⁾ هغه موږ د مصر څخه ازاد کړو چې دلته مو راولي او دا ځمکه راکړي لکه څنګه چې
هغه زموږ د نيکونو سره وعده کړې وه. ⁽٢٤⁾ بيا زموږ څښتن خدای په موږ باندې امر وکړ چې
دغو ټولو قوانينو ته غاړه کېږدو او د هغه څخه ووېرېږو. که چېرې موږ داسې وکړو، نو هغه به همېشه
زموږ په قوم باندې پام کوي او هغه به خوشبخته وساتي. ⁽٢٥⁾ که چېرې موږ په وفادارۍ سره د
خدای پاک هر امر ته غاړه کېږدو، هغه به زموږ څخه خوشاله شي.

## د څښتن خپل قوم

(هجرت ٣٤: ١١ – ١٦)

٧ ⁽١⁾ کله چې ستاسو څښتن خدای تاسو هغې خاورې ته ورولي چې تاسو به يې ونيسئ، نو هغه
به ډېر قومونه ستاسو له مخې څخه لېرې کړي يعنې حيتيان، جرجاشيان، اموريان، کنعانيان، فرزيان،
حويان او يبوسيان. دا اووه قومونه ستاسو څخه لوی او ډېر قوي دي. ⁽٢⁾ کله چې ستاسو څښتن
خدای دغه قومونه تاسو ته په لاس درکړل او تاسو هغوی ته ماتې ورکړه، نو هغوی ټول به وژنئ. د
هغوی سره کوم تړون مه جوړوئ او نه ورباندې رحم وکړئ. ⁽٣⁾ د هغوی سره ودونه مه کوئ.
خپلې لورګانې د هغوی زامنو ته مه ورکوئ او د هغوی لورګانې خپلو زامنو ته مه کوئ، ⁽٤⁾ ځکه
چې بيا به هغوی ستاسو اولادونه د څښتن څخه د نورو خدايانو عبادت ته راواړوي. که چېرې داسې
وشي نو څښتن به په تاسو باندې په قهر شي او تاسو به ژر له منځه يوسي. ⁽٥⁾ نو بيا داسې وکړئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغوی د قرباني ځايونه راوغورزوئ، هغه لويې تيږې چې د هغوی د عبادت دپاره استعماليږي ټوټې ټوټې کړئ، د اشيره بتان يې راچپه کړئ او نور بتان يې وسوزوئ. ﴿۶﴾ داسې کار وکړئ ځکه چې تاسو د خپل څښتن خدای يئ. هغه د ځمکې پر مخ د ټولو قومونو څخه تاسو د خپل خاص قوم په توګه انتخاب کړئ.

﴿۷﴾ څښتن د دې په خاطر ستاسو سره مينه نه کوله او د دې په خاطر يې تاسو انتخاب کړي نه يئ چې ستاسو شمېر د نورو قومونو څخه زيات ؤ، بلکه ستاسو قوم د ځمکې پر مخ تر ټولو کوچنی قوم ؤ. ﴿۸﴾ خو څښتن ستاسو سره مينه کوله او غوښتل يې چې په هغې وعدې باندې ودريږي چې ستاسو د نيکونو سره يې کړې وه. نو په دې خاطر هغه تاسو په خپل لوی قوت سره وژغورلئ او د مصر د پادشاه فرعون د غلامی څخه يې ازاد کړئ. ﴿۹﴾ زه ستاسو څخه غواړم په دې پوه شئ چې هغه څښتن خدای چې عبادت يې کوئ هغه حقيقي او وفادار خدای دی. که چېرې د هغه سره مينه وکړئ او امرونه يې ومنئ نو تاسو کولی شئ په هغه باندې باور ولرئ چې هغه به همېشه په خپل لوظ باندې ولاړ وي او ستاسو سره به مينه کوي. ﴿۱۰﴾ خو هغه خلک چې د هغه څخه کرکه کوي، هغوی ته به ژر داسې سزا ورکړي چې تباه شي. ﴿۱۱﴾ نو اوس په غور سره د هغو ټولو قوانينو څخه چې نن مې تاسو ته درکړل پيروي وکړئ.

## د اطاعت کولو برکتونه

(لاويان ۲۶: ۳ – ۱۳ او تثنيه ۲۸: ۱ – ۱۴)

﴿۱۲﴾ که چېرې تاسو دغو امرونو ته غوږ ونيسئ او په وفادارۍ سره د هغو اطاعت وکړئ، بيا به ستاسو څښتن خدای لکه څنګه يې چې زمونږ د نيکونو سره وعده کړې ده په خپل هغه لوظ باندې ودريږي چې ستاسو سره يې کړی دی او هغه به ستاسو سره په دوامداره توګه مينه کوي. ﴿۱۳﴾ هغه به ستاسو سره مينه وکړي او برکت به درکړي ترڅو ستاسو شمېر زيات شي او ډېر اولادونه مو پيدا شي. ستاسو په پټيو کې به برکت واچوي ترڅو تاسو غلې دانې، شراب او د زيتونو تېل ولرئ او د ډېرو پادو او رمو په درکولو سره به تاسو ته برکت درکړي. هغه به دا ټول برکتونه په هغه خاوره کې درکړي چې زمونږ د نيکونو سره يې وعده کړې وه چې تاسو ته به يې درکړي. ﴿۱۴﴾ په دنيا کې به د هيڅ قوم سره ستاسو په شان زيات برکت نه وي. ستاسو او ستاسو د حيواناتو څخه به هيڅ يو شنډ نه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي. ⑮ څښتن به تاسو د ټولو ناروغیو څخه وساتي او هغه به تاسو په هیڅ داسي وېروونکي ناروغۍ باندي اخته نه کړي چي تاسو په مصر کي ورسره بلد وئ، بلکه ستاسو ټول دښمنان به وربانديې اخته کړي. ⑯ هغه ټول قومونه له منځه یوسئ چي خپل څښتن خدای به یې تاسو ته په لاس درکړي او په هغوی باندي هیڅ رحم مه کوئ. د هغوی د خدایانو عبادت مه کوئ ځکه چي دا به ستاسو دپاره یو وژونکی دام وي.

⑰ د ځان سره داسي مه وایئ چي د دې قومونو شمېر زمونږ څخه زیات دی او مونږ هغوی شړلی نه شو. ⑱ د هغوی څخه مه وېرېږئ. هغه کارونه په یاد ساتئ چي ستاسو څښتن خدای په فرعون او د مصر په ټولو خلکو باندي وکړل. ⑲ هغه هیبتناکه بلاګاني په یاد ساتئ چي تاسو په خپلو سترګو ولیدلې، هغه معجزې او عجیبه عجیبه کارونه او هغه لوی قدرت او قوت چي ستاسو څښتن خدای تاسو وربانديې ازاد کړئ. هغه به په هماغه ډول چي مصریان یې تباه کړل، دا ټول قومونه به چي تاسو اوس ورڅخه وېرېږئ هم تباه کړي. ⑳ هغه به حتیٰ د هغوی په منځ کي سخته وېره پیدا کړي او هغه ټول خلک به له منځه یوسي چي تښتي او پټېږي. ㉑ نو د دغو خلکو څخه مه وېرېږئ. ځکه چي ستاسو څښتن خدای ستاسو سره مل دی، هغه لوی او هیبتناکه خدای دی. ㉒ ستاسو څښتن خدای به دا قومونه ورو ورو ستاسو له مخې څخه لیري کړي. تاسو به ونشئ کولی چي هغوی په یو وار سره له منځه یوسئ ځکه که چیرې داسي وکړئ، د وحشي حیواناتو شمېر به زیات شي او دا به تاسو ته د خطر سبب وګرځي. ㉓ څښتن به تاسو ته خپل دښمنان په لاس درکړي او په هغوی باندي به داسي سخته وېره راولي ترڅو چي تباه شي. ㉔ هغه به د هغوی پادشاهان تاسو ته په لاس درکړي او تاسو به د هغوی نوم او نښان د ځمکي له مخ څخه ورک کړئ. هیڅوک به ونه شي کولی چي ستاسو په مقابل کي ودرېږي، تاسو به هغوی له منځه یوسئ. ㉕ د هغوی بتان وسوزوئ. هغو سرو او سپینو زرو ته چي دا بتان ورڅخه جوړ شوي دي د طمعې په سترګه مه ګورئ او هغه د خپلو ځانونو دپاره مه اخلئ. که چیرې داسي وکړئ، دا به وژونکی دام وي ځکه چي څښتن د بت پرستۍ څخه کرکه کوي. ㉖ د دغو بتانو څخه هیڅ یو یې خپلو کورونو ته مه راوړئ. که نه، نو په تاسو باندي به هم هماغسي لعنت وویل شي لکه څنګه چي په هغو باندي ویل شوی دی. تاسو باید له دغو بتانو څخه کرکه وکړئ او په سپکه سترګه ورته وګورئ، ځکه چي په هغو باندي د څښتن لعنت ویل شوی دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ ⑴ په وفادارۍ سره د هغو ټولو قوانينو ښخه پيروي وکړئ چې نن يې تاسو ته درکوم ترښو ژوند وکړئ، شمېر مو زيات شي او هغې خاورې ته چې د هغې وعده ښبنتن ستاسو د نيکونو سره کړې ده ورننوزئ او هغه ونيسئ. ⑵ در په ياد کړئ چې په تېرو ښلوېښتو کلونو کې ستاسو ښبنتن خدای ښنګه تاسو ته په دښته کې په دې اوږده سفر کې لارښوونه وکړه. په تاسو باندې يې سختۍ راوستلې چې ومو ازمايي ترښو هغه پوه شي چې ستاسو په زړونو کې ښه دي او د هغه په حکمونو باندې عمل کوئ يا نه. ⑶ هغه په تاسو باندې لوږه راوستله او بيا يې د خوراک دپاره من درکړ، يعنې هغه خواړه چې تاسو او ستاسو نيکونو مخکې هيڅکله خوړلي نه وو. هغه د دې دپاره دا کار وکړ چې تاسو ته دا خبره درزده کړي چې انسان يوازې په ډوډۍ نه بلکه په هره خبره باندې ژوندی دی چې د ښبنتن د خولې ښخه راوزي. ⑷ د دغو ښلوېښتو کلونو په دوران کې ستاسو کالي نه دي زاړه شوي او نه مو پښې پړسېدلې دي. ⑸ په ياد لرئ چې ستاسو ښبنتن خدای تاسو اصلاح کوي او داسې سزا درکوي لکه ښنګه چې يو پلار خپلو اولادونو ته تربيه ورکوي. ⑹ نو بيا هغه کار کوئ چې ښبنتن يې درباندې امر کړی دی يعنې د هغه د قوانينو په مطابق ژوند کوئ او د هغه ښخه وېرېږئ. ⑺ ستاسو ښبنتن خدای تاسو يوې حاصلخېزې ځمکې يعنې داسې ځمکې ته راولي چې سيندونه او چينې لري او د ځمکې لاندې داسې ويالې لري چې اوبه يې درو او غونډيو ته راوزي، ⑻ يوه داسې ځمکه چې غنم او اوربشې، انګور، اينځر، انار، زيتون او شات په کې پيدا کيږي. ⑼ دا داسې وطن دی چې خواړه په کې پرېمانه دي او د هيڅ شي کمی په کې نشته. د دې ځای تيږې د اوسپنې ښخه ډکې دي او د غونډيو ښخه يې مس راويستلی شئ. ⑽ هرښه چې تاسو غواړئ وخورئ هغه به درورسيږي او تاسو به د هغې حاصلخېزې ځمکې دپاره چې ستاسو ښبنتن خدای درکړې ده د هغه شکر ادا کړئ.

⑾ پام کوئ چې تاسو به هيڅکله خپل ښبنتن خدای نه هېروئ. هيڅکله د هغه د هغو قوانينو ښخه سرغړونه ونه کړئ چې نن يې تاسو ته درکوم. ⑿ کله چې تاسو ته د خوراک دپاره هرښه درورسيږي او د اوسېدلو دپاره ښه ښه کورونه ودان کړئ ⒀ او کله چې ستاسو پادې او رمې، ستاسو سپين زر او سره زر او نور ټول شيان زيات شي، ⒁ نو پام کوئ چې تاسو به نه مغروره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېږئ او خپل څښتن خدای به چې تاسو یې د مصر د غلامۍ څخه ازاد کړئ نه هېروئ. (۱۵) هغه د
هغې پراخې او وېروونکې دښتې په لاره تاسو بوتللئ چې زهرجن ماران او لړمان په کې وو. هغه په
هغې وچې او بې اوبو ځمکه کې د کلک ګټ څخه ستاسو دپاره اوبه راوویستلې. (۱۶) هغه په دښته
کې تاسو ته د خوراک دپاره من درکړ چې داسې خواړه وو چې ستاسو نیکونو هیڅکله خوړلي نه
وو. له دې کبله هغه په تاسو باندې سختۍ راوستلې چې تاسو وازمايي، ترڅو په آخر کې هغه تاسو
ته د ښو ښو شیانو سره برکت درکړي. (۱۷) نو بیا باید هیڅکله داسې فکر ونه کړئ چې تاسو په
خپل قدرت او قوت سره خپل ځانونه شتمن کړي دي. (۱۸) په یاد ولرئ چې دا ستاسو څښتن
خدای دی چې تاسو ته دا توان درکوي چې شتمن شئ. څښتن ځکه دا کار کوي چې هغه نن هم هغه
لوظ ته وفادار پاتې دی چې ستاسو د نیکونو سره یې کړی ؤ. (۱۹)-(۲۰) زه نن تاسو ته خبرداری
درکوم که چېرې تاسو خپل څښتن خدای هېر کړئ او د نورو خدایانو عبادت وکړئ، نو څښتن به
تاسو لکه د نورو قومونو په شان چې تاسو به ورسره جنګ کوئ له منځه یوسي.

## د اسراییلو د قوم نافرماني

(هجرت ۳۲: ۱ – ۳۵)

**۹** (۱) ای د اسراییلو خلکو واورئ! تاسو به ژر د اردن د سیند څخه تېر شئ چې هغې خاورې ته
ورننوزئ او هغه قومونه وشړئ چې ستاسو څخه لوی او قوي دي. د هغوی ښارونه لوی لوی دي او
داسې دېوالونه لري چې اسمان ته رسیږي. (۲) د دې قومونو څخه ځینې یې د عناقیانو اولاده ده.
تاسو پوهېږئ چې هغوی څومره لوړ قدي او قوي خلک دي او تاسو اورېدلي دي چې هیڅوک
هغوی ته په جنګ کې ماتې نه شي ورکولی. (۳) مګر اوس به تاسو په خپله ووینئ چې ستاسو
څښتن خدای به د قوي اور په شان ستاسو په مخ کې روان شي. کله چې تاسو په هغوی باندې حمله
وکړئ هغه به هغوی ته ماتې ورکړي، نو د څښتن د وعدې سره سم به تاسو هغوی وشړئ او ژر به
یې له منځه یوسئ.

(۴)-(۶) کله چې ستاسو څښتن خدای د دې قومونو په شړلو کې ستاسو سره مرسته وکړي او د
هغوی هغه حاصلخېزه خاوره ونیسئ، نو داسې فکر ونه کړئ چې هغه دا کار په دې خاطر وکړ چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو داسې ښه خلک يئ. تاسو ښه خلک نه يئ، تاسو سرزوري خلک يئ! نه، څښتن په دې خاطر
ستاسو سره مرسته کوي چې هغه قومونه چې هلته اوسيږي هغه بدکاره قومونه دي او په دې خاطر
چې هغه غواړي خپله هغه وعده پوره کړي چې ستاسو د نيکونو حضرت ابراهيم، حضرت اسحاق او
حضرت يعقوب سره يې کړې ده.

٧ دا خبره هيڅکله هېره نه کړئ چې تاسو خپل څښتن خدای په دښته کې څنګه په قهر کړ. د
هغې ورځې څخه نيولې چې تاسو د مصر څخه لاړئ تر هغې ورځې پورې چې دلته راورسېدلئ، د
هغه په مقابل کې مو سرکشي کړې ده. ٨ تاسو حتیٰ د سينا د غره سره هم څښتن په قهر کړ. هغه
مو دومره په قهر کړ چې غوښتل يې تاسو تباه کړي. ٩ زه غره ته وختلم چې د تيږو لوحې
راواخلم چې څښتن ورباندې هغه لوظ ليکلی ؤ چې ستاسو سره يې کړی ؤ. هلته څلوېښت شپې او
ورځې پاتې شوم او نه مې څه وخوړل او نه مې څه وڅښل. ١٠ بيا څښتن ماته د تيږو دوه لوحې
راکړې چې په خپل لاس يې هغه ټولې خبرې ورباندې ليکلې وې چې ستاسو سره يې د اور له منځ
څخه په هغه ورځ کړې وې چې د غره په څنګ کې راغونډ شوي وئ. ١١ هو، د هغو څلوېښتو
شپو او ورځو څخه وروسته څښتن ماته د تيږو دوه لوحې راکړې چې هغه لوظ يې ورباندې ليکلی ؤ.

١٢ بيا څښتن ماته وفرمايل: پاڅه، همدا اوس د غره څخه کوز شه ځکه چې ستا قوم چې د مصر
څخه دې راوويست فاسد شوی دی او بد کار يې کړی دی. هغوی لا پخوا زما د امرونو څخه
سرغړونه کړې ده او د ځانونو دپاره يې يو فلزي بت جوړ کړی دی.

١٣ څښتن ماته دا هم وفرمايل: ما دا خلک ليدلي دي چې هغوی څومره سرزوري دي. ١٤
پرېږده چې هغوی له منځه يوسم ترڅو د هغوی نومونه د ځمکې له مخ څخه ورک شي. بيا به زه تا د
يو داسې قوم پلار کړم چې د دوی څخه به لوی او قوي وي.

١٥ نو زه بېرته د غره څخه راکوز شوم. په داسې حال کې چې د غره څخه د اور لمبې پورته
کېدلې، ما د تيږو هغه دوه لوحې په خپلو لاسونو کې نيولې وې چې لوظ ورباندې ليکل شوی ؤ.
١٦ ما وليدل چې تاسو لا پخوا د خپل څښتن خدای د هغه امر څخه سرغړونه کړې وه چې هغه
درکړی ؤ او د ځانونو دپاره مو د خوسي په څېره کې د فلزي بت په جوړولو سره د هغه په مقابل کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګناه کړي وه. ﴿۱۷﴾ نو هلته مې ستاسو په مخکې د تېرو هغه دوه لوحې وغورزولې او ټوټې ټوټې مې کړې. ﴿۱۸﴾ نو زه یو ځل بیا د څښتن په حضور کې څلوېښت شپې او ورځې پړمخې پرېوتم او خوراک او څښاک مې ونه کړ. ما دا کار د دې دپاره وکړ چې تاسو د څښتن په مقابل کې ګناه کړې وه او هغه مو په قهر کړی ؤ. ﴿۱۹﴾ زه د څښتن د سخت قهر څخه ووېرېدم ځکه چې هغه دومره ډېر په قهر ؤ چې تاسو تباه کړي، مګر یو ځل بیا یې زما دعا قبوله کړه. ﴿۲۰﴾ څښتن په حضرت هارون باندې هم دومره په قهر ؤ چې هغه ووژني، نو په هماغه وخت کې مې د حضرت هارون دپاره هم دعا وکړه. ﴿۲۱﴾ ما هغه خوسی چې تاسو د سرو زرو څخه جوړ کړی ؤ او ستاسو د ګناه نتیجه وه راواخیست او اور ته مې واچاوه. بیا مې هغه ټوټې ټوټې کړ، په ګرد مې بدل کړ او د هغه ګرد مې په هغې ویالې کې وغورزاوه چې د غره څخه رابهېدله.

﴿۲۲﴾ کله چې تاسو په تبعیره، مسا او قبروت هتاوه کې وئ تاسو هلته هم خپل څښتن خدای په قهر کړ. ﴿۲۳﴾ بیا کله چې هغه تاسو د قادش برنیع څخه ولېږلئ او داسې حکم یې وکړ چې لاړ شئ او هغه خاوره ونیسئ چې څښتن تاسو ته درکوله، نو د هغه په مقابل کې مو سرکشي وکړه. تاسو نه په هغه اعتبار وکړ او نه مو د هغه اطاعت وکړ. ﴿۲۴﴾ له هغه وخته راهیسې چې څښتن تاسو پېژندلي یئ، تاسو د هغه په مقابل کې سرکشي کوئ.

﴿۲۵﴾ نو زه د څښتن په حضور کې هغه څلوېښت شپې او ورځې پړمخې پرېوتم ځکه زه پوهېدم چې هغه ستاسو د تباه کولو اراده لري. ﴿۲۶﴾ او ما داسې دعا وکړه: څښتن تعالیٰ، خپل قوم یعني هغه قوم چې تا په خپل لوی قدرت او قوت سره وژغوره او د مصر څخه دې راوویست، مه تباه کوه. ﴿۲۷﴾ خپل خدمتګاران یعني حضرت ابراهیم، حضرت اسحاق او حضرت یعقوب در په یاد کړه او د دې قوم سرزوری، بدکاری او ګناه ته مه ګوره. ﴿۲۸﴾ که نه، نو مصریان به وایې چې تا نه شو کولی خپل قوم هغې ځمکې ته بوځې چې تا ورسره وعده کړې وه. هغوی به وایې چې تا د دې دپاره خپل قوم دښتې ته بووړ چې هغوی ووژنې ځکه چې ته ورڅخه کرکه کوې. ﴿۲۹﴾ آخر دا هغه خلک دي چې تا د خپل قوم په توګه انتخاب کړل او کوم چې تا په خپل لوی قدرت او قوت سره د مصر څخه راوویستل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د تيږو نوې لوحې

(هجرت ۳۴: ۱ – ۱۰)

**۱۰** (۱) بيا څښتن ماته وفرمايل: د اولنيو لوحو په شان د تيږو دوه لوحې تيارې کړه او د لرګيو يو صندوق جوړ کړه چې هغه په کې کېږدې. بيا ماته غره ته راوخېژه. (۲) زه به په دې لوحو باندې هغه خبرې وليکم کومې چې په هغو لوحو باندې ليکلې شوې وې چې تا ماتې کړې او بيا هغه په صندوق کې کېږده.

(۳) نو ما د غز له لرګيو څخه يو صندوق جوړ کړ او د اولنيو لوحو په شان مې د تيږو دوه لوحې تيارې کړې او غره ته مې وخېژولې. (۴) بيا څښتن په دې لوحو باندې هماغه خبرې وليکلې کومې چې هغه اول ځل ليکلې وې، يعنې هغه لس حکمونه چې په هغه وخت کې هغه درکړل کله چې ستاسو سره يې د اور له منځ څخه خبرې وکړې. دا کار په هغه ورځ وشو چې تاسو د غره تر څنګ راغونډ شوي وئ. څښتن هغه لوحې ماته راکړې، (۵) بيا زه بېرته د غره څخه راکوز شوم. د څښتن د امر سره سم مې هغه لوحې په هماغه صندوق کې کېښودلې کوم چې ما جوړ کړی ؤ او د هماغه وخته راهيسې په کې پرتې دي.>

(۶) (اسراييليان د يعقان د خلکو د کوهيانو څخه روان شول او موسيره ته لاړل. هلته حضرت هارون وفات شو او ښخ کړای شو او د هغه زوی العازار د هغه په ځای کاهن شو. (۷) هغوی د هغه ځای څخه جدجوده ته او بيا يطبات ته سفر وکړ يعنې يوې خاورې ته چې د اوبو ويالې په کې وې.
(۸) په هغه وخت کې څښتن د لاوي قبيله انتخاب کړله چې د لوظ صندوق يوسي، د کاهنانو په توګه د څښتن خدمت وکړي او د هغه په نوم برکت ورکړي. تر اوسه پورې دا د هغوی وظيفې دي.
(۹) نو ځکه د لاوي قبيلې د نورو قبيلو په شان ځمکه ترلاسه نه کړه. ستاسو د څښتن خدای د وعدې سره سم څه چې هغوی ترلاسه کړل هغه د څښتن د کاهنتوب امتياز ؤ.)

(۱۰) <زه د لومړي ځل په شان څلوېښت شپې او ورځې په غره کې پاتې شوم. څښتن يو ځل بيا زما دعا قبوله کړه او په دې راضي شو چې تاسو تباه نه کړي. (۱۱) بيا هغه ماته وفرمايل چې لاړ شم او ستاسو مشري وکړم ترڅو تاسو وکولی شئ هغه ځمکه ترلاسه کړئ چې هغه وعده کړې وه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستاسو نیکونو ته به یې ورکړي.

## د ښښتن څخه وویرېږئ

۱۲ د اسراییلو خلکو، ستاسو څخه خپل ښښتن خدای څه غواړي؟ د هغه څخه وویرېږئ او ټول
امرونه یې په ځای کوئ. د هغه سره مینه کوئ او د زړه له کومي یې خدمت کوئ ۱۳ او د هغه د
ټولو قوانینو اطاعت کوئ. زه نن دا قوانین تاسو ته ستاسو د ګټې په خاطر درکوم. ۱۴ ټول اسمانونه
ستاسو د ښښتن خدای دي. ځمکه او هرڅه چې په کې دي هغه هم د ښښتن دي. ۱۵ خو ښښتن
ستاسو د نیکونو سره دومره زیاته مینه کوله چې تاسو یې د ځمکې په مخ د ټولو قومونو څخه
انتخاب کړئ او تر نن ورځې پورې د هغه انتخاب شوی قوم یئ. ۱۶ نو بیا د ښښتن اطاعت کوئ
او نور سرزوري مه کوئ. ۱۷ ستاسو ښښتن خدای د ټولو خدایانو او حاکمانو څخه ډېر قدرتمند
دی. هغه لوی او قوي دی او د هغه څخه وېره په کار ده. هغه د چا پلوي نه کوي او همېشه عادلانه
فیصلې کوي. ۱۸ ښښتن د یتیمانو او کونډو د حقونو څخه دفاع کوي. هغه د هغو بېګانه خلکو سره
مینه کوي چې زمونږ د قوم سره اوسیږي او هغوی ته خواړه او کالي ورکوي. ۱۹ نو بیا د هغو
بېګانه خلکو سره مینه کوئ ځکه چې تاسو خپله یو وخت په مصر کې بېګانه وئ. ۲۰ د خپل
ښښتن خدای څخه وېره کوئ او یوازې د هغه عبادت کوئ. هغه ته وفادار اوسئ او یوازې د هغه په
نوم قسم خورئ. ۲۱ د هغه ستاینه کوئ. هغه ستاسو خدای دی او تاسو هغه لوی لوی او عجیبه
کارونه په خپلو سترګو ولیدل چې ستاسو دپاره یې کړي دي. ۲۲ کله چې ستاسو نیکونه مصر ته
لاړل چې هلته واوسیږي، هغوی یوازې اویا تنه وو. مګر اوس ستاسو ښښتن خدای ستاسو شمېر د
اسمان د ستورو په شان زیات کړی دی.

## د ښښتن سره مینه کوئ او د هغه اطاعت کوئ

**۱۱** ۱ د خپل ښښتن خدای سره مینه کوئ او همېشه د هغه د ټولو قوانینو څخه اطاعت کوئ.
۲ نن ورځ دا په یاد ساتئ چې دا تاسو وئ، نه ستاسو اولادونه چې د خپل ښښتن خدای انتظام،
د هغه لویي، قدرت، قوت، ۳ او معجزې مو لیدلې دي. تاسو ولیدل چې هغه د مصر د پادشاه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرعون او د هغه د ټول هېواد سره څه وکړل. ④ تاسو ولیدل چې څښتن څنګه د مصریانو لښکرې د هغوی د اسونو او جنګي ګاډیو سره تباه کړې او هغوی یې په داسې وخت کې په سره بحیره کې غرق کړل کله چې تاسو یې تعقیبولئ. څښتن هغوی د داسې تباهۍ سره مخامخ کړل چې تر اوسه پورې دوام لري. ⑤ تاسو پوهېږئ مخکې له دې چې تاسو دلته راورسېدلئ څښتن ستاسو دپاره په دښته کې څه وکړل. ⑥ در په یاد کړئ چې هغه د روبین د قبیلې د الیاب په زامنو یعنې په داتان او ابیرام باندې څه وکړل. د ټولو خلکو په مخ کې ځمکه پرانیستل شوه او هغوی یې د خپلو کورنیو، خېمو او ټولو غلامانو او حیواناتو سره ژوندي تېر کړل. ⑦ هو، تاسو هماغه خلک یئ چې دا ټول لوی لوی کارونه چې څښتن کړي دي، هغه مو لیدلي دي.

## د وعده شوې ځمکې برکتونه

⑧ د هغو ټولو قوانینو اطاعت کوئ چې نن مې درکړل. نو بیا به د دې قوت پیدا کړئ چې د اردن له سیند څخه تېر شئ او هغه خاوره ونیسئ چې تاسو ورننوزئ. ⑨ تاسو به په هغه غني او حاصلخېزه خاوره کې ډېره موده ژوند وکړئ چې څښتن یې د ورکولو وعده ستاسو د نیکونو او د هغوی د اولادې سره کړې ده. ⑩ کومه خاوره چې تاسو یې اوس نیسئ د مصر د خاورې په شان نه ده چې مخکې په کې اوسېدلئ. تاسو چې کله هلته تخم کاره، مجبور وئ چې پټیو ته د اوبو ورکولو دپاره ډېر زیار وباسئ. ⑪ خو هغه خاوره چې تاسو ورداخلېږئ، هلته غرونه او درې دي او د باران په واسطه ورته اوبه ورکول کېږي. ⑫ ستاسو څښتن خدای په دې ځمکه باندې پام کوي او ټول کال هغه تر خپل نظر لاندې ساتي.

⑬ نو بیا د هغو امرونو اطاعت کوئ چې نن مې درکړل. د خپل څښتن خدای سره مینه کوئ او د زړه له کومې د هغه خدمت کوئ. ⑭ که چېرې داسې وکړئ نو هغه به د اړتیا په وخت یعنې په منی او پسرلي کې ستاسو په ځمکه باندې باران واوروي ترڅو تاسو ته غلې داني، شراب او د زیتونو تېل دروروسېږي ⑮ او حیواناتو ته به مو وابښه وروروسېږي. هرڅومره خواړه چې غواړئ تاسو ته به دروروسېږي. ⑯ پام کوئ. که نه، نو تاسو به وغولېږئ او بې لارې به شئ او د نورو خدایانو عبادت به وکړئ او هغو ته به سجده وکړئ. ⑰ که چېرې تاسو داسې وکړئ نو څښتن به درباندې په قهر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي. هغه به درباندې باران ودروي، ستاسو ځمکه به وچه شي او فصلونه به په کې نه راشنه کيږي. که څه هم هغه ځمکه چې هغه يې تاسو ته درکوي ښه ده، خو تاسو به په کې ژر مړه شئ.

(۱۸) دا قوانين په ياده زده کړئ او د هغو په هکله فکر کوئ. هغه وليکئ او په خپلو متو او تنديو باندې يې وتړئ چې د هغو په اطاعت کولو کې درسره مرسته وکړي. (۱۹) هغه خپلو اولادونو ته ورزده کړئ. هر وخت د هغو په هکله خبرې کوئ، که په کور کې يئ يا په لاره روان يئ يا ارام کوئ يا کار کوئ. (۲۰) دا قوانين د خپلو کورونو د دروازو په چوکاټونو او د خپلو ښارونو په دروازو باندې وليکئ. (۲۱) بيا به تاسو او ستاسو اولاده په هغه خاوره کې ډېره موده ژوند وکړئ چې ښښتن ستاسو د نيکونو سره د هغې د ورکولو وعده کړې ده. ترڅو پورې چې ځمکه او اسمان وي، تاسو به هلته ژوند کوئ.

(۲۲) د هغو ټولو قوانينو چې ما درکړي دي په وفادارۍ سره اطاعت کوئ. د خپل ښښتن خدای سره مينه کوئ، د هغه هر امر په ځای کوئ او هغه ته وفادار اوسئ. (۲۳) بيا به ښښتن هغه ټول قومونه ستاسو له مخې څخه لېرې کړي او تاسو به د هغو قومونو ځمکه ونيسئ چې ستاسو څخه لوی او قوي دي. (۲۴) په هرځای باندې چې تاسو قدم ږدئ هغه به ستاسو وي. ستاسو سيمه به د جنوبي دښتې څخه په شمال کې د لبنان تر غرونو پورې وغزيږي او د فرات د سيند څخه به چې په ختيځ کې دی د مديترانې تر بحيرې پورې چې په لوېديځ کې ده وغزيږي. (۲۵) د هغې خاورې هرځای ته چې تاسو لاړ شئ، ستاسو ښښتن خدای به د خپلې وعدې سره سم د هغو خلکو په زړونو کې وېره واچوي چې ستاسو څخه ووېريږي او هيڅوک به ونه شي کولی چې ستاسو په مقابل کې ودريږي.

(۲۶) زه نن تاسو ته دا فرصت درکوم چې د ښښتن څخه برکت غواړئ يا غواړئ چې لعنت درباندې وشي. (۲۷) که چېرې د خپل ښښتن خدای د امرونو څخه چې زه يې نن درکوم اطاعت وکړئ، برکت به ومومئ. (۲۸) خو که چېرې د دغو امرونو څخه سرغړونه وکړئ او د هغو نورو خدايانو عبادت وکړئ چې مخکې مو هيڅکله د هغو عبادت نه دی کړی، نو ښښتن به درباندې لعنت ووايي.
(۲۹) کله چې ښښتن تاسو هغې خاورې ته ورولي چې تاسو يې نيسئ، نو د جرزيم د غره څخه به د برکت اعلان وکړئ او د عيبال د غره څخه به د لعنت اعلان وکړئ. (۳۰) (تاسو پوهېږئ چې دا دوه غرونه د اردن د سيند په لوېديځ کې په هغې خاوره کې دي چې اوس د هغو کنعانيانو تر واکمنۍ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاندې ده چې د اردن په دره کې اوسیږي. دا غرونه د جلجال بلې خواته د موره مقدسو ونو ته نژدې دي.) (۳۱) تاسو به ژر د اردن د سیند څخه تیر شئ او هغه خاوره به ونیسئ چې ستاسو څښتن خدای یې درکوي. کله چې تاسو هغه خاوره ونیسئ او په کې اوسېږئ، (۳۲) نو تاسو به په غور سره د هغو ټولو قوانینو اطاعت کوئ چې زه یې نن درکوم.

## یوازینی ځای چې د څښتن عبادت په کې وشي

**۱۲** (۱) کله چې تاسو هغې خاورې ته ورننوزئ چې ستاسو د نیکونو څښتن خدای تاسو ته درکړې ده، نو ترڅو پورې چې ژوندي یئ په دې قوانینو باندې باید عمل وکړئ. (۲) مګر هغه قومونه چې هلته اوسیږي د نورو خدایانو عبادت کوي. نو کله چې تاسو هغه خاوره ونیوله باید د هغوی د عبادت ځایونه په بشپړه توګه وران کړئ یعنې هغه ځایونه چې په غرونو او په غونډیو باندې دي او یا د لویو ونو لاندې دي. (۳) د هغوی د قربانۍ ځایونه راوغورزوئ او هغه لوېې تیږې چې د هغوی د عبادت دپاره استعمالیږي ټوټې ټوټې کړئ. د هغوی د اشیره بتان وسوزوئ او نور بتان یې راچپه کړئ ترڅو بیا هیڅکله په هغو ځایونو کې د هغو بتانو عبادت ونه شي.

(۴) د خپل څښتن خدای عبادت په داسې ډول مه کوئ لکه څنګه چې دا خلک د خپلو خدایانو عبادت کوي. (۵) ستاسو د ټولو قبیلو د سیمو څخه به څښتن یو ځای انتخاب کړي او هلته باید تاسو د هغه حضور ته راشئ او د هغه عبادت وکړئ. (۶) تاسو باید هلته خپلې سوزېدونکې نذرانې او نورې قربانۍ، خپل عشر او هدیې، هغه سوغاتونه چې د نذر په توګه یې څښتن ته ورکوئ، خپلې رضاکارانه نذرانې او د خپلو پادو او رمو اولنۍ زېږېدلې بچیان وړاندې کړئ. (۷) تاسو او ستاسو کورنۍ او نوکران به هلته د خپل څښتن خدای په حضور کې چې برکت یې درکړی دی خوراک کوئ او د هغو ښو شیانو دپاره به خوشالي کوئ چې تاسو د هغو دپاره کار کړی دی.

(۸) په هغې خاوره کې چې تاسو یې نیسئ، باید داسې کارونه ونه کړئ لکه څنګه چې دلته یې کوئ. تر اوسه پورې تاسو ټول د خپلې خوښې په مطابق عبادت کوئ، (۹) ځکه چې تاسو لا تر اوسه هغې خاورې ته چې خپل څښتن خدای یې درکوي او تاسو به کې په سوله کې ژوند کولی شئ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه یئ داخل شوي. ﴿١٠﴾ کله چې تاسو د اردن د سیند څخه تېر شئ، څښتن به تاسو پرېږدي چې
هغه خاوره ونیسئ او هلته واوسېږئ. هغه به تاسو د خپلو ټولو دښمنانو څخه په امن کې وساتي او په
سوله کې به ژوند کوئ. ﴿١١﴾ څښتن به د خپل عبادت دپاره یوازې یو ځای انتخاب کړي او تاسو
باید هلته هغه ته هر هغه شی چې ما یې امر کړی دی راوړئ یعنې ستاسو سوزېدونکې نذرانې او
نورې قرباني، عشر او هدیې او هغه خاص سوغاتونه چې د نذر په توګه یې څښتن ته ورکوئ. ﴿١٢﴾
هلته د هغه په حضور کې د خپلو اولادونو، نوکرانو او د هغو لاویانو سره خوشالي کوئ چې ستاسو
په ښارونو کې اوسېږي. په یاد لرئ چې لاویان به هیڅ خپله ځمکه ونلري. ﴿١٣﴾ په هرځای کې چې
ستاسو خوښه وي باید هلته خپلې قرباني وړاندې نه کړئ. ﴿١٤﴾ تاسو باید یوازې په یو ځای کې
هغه قرباني وړاندې کړئ یعنې هغه ځای چې څښتن به یې ستاسو د قبیلو څخه په یوې قبیلې کې
انتخاب کړي. تاسو باید یوازې په هغه ځای کې خپلې سوزېدونکې نذرانې وړاندې کړئ او هغه ټول
کارونه وکړئ چې ما یې درته امر کړی دی.

﴿١٥﴾ مګر تاسو په ازادانه ډول کولی شئ چېرته چې اوسېږئ هلته حیوانات حلال کړئ او ویې
خورئ. څومره چې څښتن درکوي هغه وخورئ. تاسو ټول که په مذهبي لحاظ پاک یئ یا ناپاک
کولی شئ چې هغه داسې وخورئ لکه څنګه چې د هوسۍ یا د غرځه غوښه خورئ. ﴿١٦﴾ مګر د
هغوی وینه باید ونه خورئ، تاسو باید هغه د اوبو په شان په ځمکه باندې توی کړئ. ﴿١٧﴾ هیڅ شی
چې تاسو یې څښتن ته وړاندې کوئ باید ستاسو د اوسېدلو په ځایونو کې ونه خوړل شي یعنې
ستاسو د غلو دانو عشر، د شرابو یا د زیتونو د تېلو عشر، د پادو او رمو اولنۍ زېږېدلې بچیان، هغه
سوغاتونه چې څښتن ته یې د نذر په توګه ورکوئ، رضاکارانه نذرانې یا داسې نورې نذرانې. ﴿١٨﴾
تاسو او ستاسو اولادونه دې ستاسو د نوکرانو او هغو لاویانو سره چې ستاسو په ښارونو کې اوسېږي
دا نذرانې یوازې د خپل څښتن خدای په حضور کې یعنې د عبادت په هغه ځای کې وخورئ چې د
هغه له خوا انتخاب کړای شوی دی. په هر کار کې چې کوئ یې د هغه په حضور کې خوشالي وکړئ.
﴿١٩﴾ ترڅو پورې چې تاسو په خپله خاوره کې اوسېږئ، پام کوئ چې لاویان هېر نه کړئ.

﴿٢٠﴾ کله چې ستاسو څښتن خدای د خپلې وعدې سره سم ستاسو سیمه پراخه کړي، هر وخت چې
هرڅومره غوښه وغواړئ تاسو یې خوړلی شئ. ﴿٢١﴾ که چېرې د عبادت ځای ستاسو څخه لېرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي نو لکه ځنګه چې مې درته ويلي دي تاسو کولی شئ چې د خپلې پادې يا رمې يو حيوان چې ښتن درکړی وي حلال کړئ او غوښه يې په خپلو کورونو کې وخورئ. ۲۲ هرڅوک که په مذهبي لحاظ پاک وي يا ناپاک، کولی شي چې هغه غوښه داسې وخوري لکه ځنګه چې د هوسی يا د غرڅه غوښه خوري. ۲۳-۲۴ پام کوئ چې وينه ونه خورئ، ځکه چې دا د هغه حيوان ژوند دی، نو پرېږدئ چې هغه د غوښې د خوړلو څخه مخکې د اوبو په شان په ځمکه باندې توی شي. ۲۵ که چېرې تاسو د دې امر اطاعت وکړئ، ښتن به خوشاله شي او ستاسو او ستاسو د اولادې هر کار به سم شي. ۲۶ هغه نذرانې او سوغاتونه چې ښتن ته يې د نذر په توګه ورکوئ، هغه ځای ته يوسئ چې ښتن يې د خپل عبادت دپاره انتخابوي. ۲۷ هلته هغه قرباني چې د ښتن په قربانګاه باندې په بشپړه توګه سوزول کيږي وړاندې کړئ. همدارنګه هغه قرباني هم وړاندې کړئ چې غوښه يې خورئ او وينه يې په قربانګاه باندې تويوئ. ۲۸ په وفاداری سره د دغو ټولو شيانو چې ما درته حکم کړی دی اطاعت کوئ نو ستاسو او ستاسو د اولادې هر کار به د تل دپاره سم وي، ځکه چې تاسو به هغه کارونه کوئ چې هغه صحيح وي او ستاسو ښتن خدای ورباندې خوشالېږي.

## د بت پرستی په ضد خبرداری

۲۹ ځنګه چې تاسو د هغوی په خاوره باندې حمله وکړئ ستاسو ښتن خدای به هغه قومونه تباه کړي او تاسو به هغه ځای ونيسئ او په کې به اوسېږئ. ۳۰ کله چې ښتن هغه قومونه تباه کړل، پام کوئ چې د هغوی د مذهبي رواجونو څخه پيروي ونه کړئ ځکه چې دا به ستاسو دپاره يو وژونکی دام وي. د دې خبرې د معلومولو هڅه مه کوئ چې هغوی په کوم ډول د خپلو خدايانو عبادت کوي د دې دپاره چې تاسو هم همدا ډول عبادت وکړئ. ۳۱ د خپل ښتن خدای عبادت په هغه ډول مه کوئ لکه ځنګه چې هغوی د خپلو خدايانو عبادت کوي، ځکه چې هغوی په خپل عبادت کې ټول هغه ناوړه کارونه کوي چې ښتن ورڅخه کرکه کوي. هغوی حتیٰ د قرباني په ځايونو باندې خپل اولادونه هم په اور کې قرباني کوي.

۳۲ ما چې کوم حکمونه تاسو ته درکړي دي په هغو باندې عمل کوئ. د هغو څخه مه څه کموئ او مه يې ورزياتوئ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د نورو خدايانو عبادت مه کوئ

**۱۳** ۞۱ فرض کړئ ستاسو په منځ کې يو نبي يا يو ښوک راپيدا شي چې خوبونه تعبيروي او تاسو ته د کومې معجزې يا کوم عجيبه کار په باره کې پېشګويي وکړي. ۞۲ که چېرې هغه نښه يا هغه عجيبه کار چې د هغه په باره کې يې خبرې کړې وې رښتيا شي او هغه ووايي: راځئ چې د نورو خدايانو ښخه پيروي او عبادت وکړو (هغه خدايان چې مخکې مو د هغو عبادت نه دی کړی)، ۞۳ نو تاسو بايد د هغه نبي يا د خوب تعبيروونکي خبرو ته غوږ ونه نيسئ. ستاسو ښښتن خدای په تاسو باندې د دې دپاره ازمايښت کوي چې دا معلومه کړي چې د هغه سره د زړه له کومې مينه کوئ او که نه. ۞۴ د ښښتن ښخه پيروي کوئ او د هغه ښخه وېره کوئ. د هغه د امرونو ښخه اطاعت کوئ، عبادت يې کوئ او ورته وفادار اوسئ. ۞۵ مګر هغه خوب تعبيروونکی يا نبي ووژنئ چې تاسو ته وايي چې د ښښتن يعنې هغه چا په مقابل کې سرکشي وکړئ چې تاسو يې د مصر ښخه چې په کې غلامان وئ ازاد کړئ. داسې خلک بدکاره دي او هڅه کوي چې تاسو د هغې لارې ښخه واړوي چې ښښتن يې تاسو ته د پيروی کولو امر کړی دی. د دې دپاره چې تاسو ښپل ښانونه له دې بدکارۍ ښخه خلاص کړئ، نو هغوی بايد ووژل شي.

۞۶ حتیٰ کېدای شي چې ښپل ورور يا ښپل زوی يا ښپله لور يا ښځه چې تاسو ورسره مينه کوئ يا ښپل ترټولو نژدې ملګری په پټه تاسو دې ته تشويق کړي چې د نورو خدايانو عبادت وکړئ، يعنې د هغو خدايانو چې تاسو او ستاسو نيکونو يې هيښکله عبادت نه دی کړی. ۞۷ کېدای شي چې د هغوی ښخه کوم يو تاسو دې ته تشويق کړي چې د هغو خلکو د خدايانو عبادت وکړئ چې ستاسو سره نژدې اوسيږي يا د هغو خلکو چې ستاسو ښخه لېرې اوسيږي. ۞۸ مګر هغه مه پرېږدئ چې تاسو تشويق کړي، حتیٰ غوږ هم ورته مه نيسئ. په هغه باندې رحم مه کوئ يا زړه ورباندې مه سوزوئ او د هغه راز پټ مه ساتئ. ۞۹ هغه ووژنئ! اول يې تاسو سنګسار کړئ او بيا نور ټول خلک پرېږدئ چې سنګسار يې کړي. ۞۱۰ هغه سنګسار کړئ چې مړ شي! ښکه چې د دې هڅه يې کړې ده چې تاسو د ښپل ښښتن خدای ښخه واړوي چا چې تاسو د مصر ښخه چې په کې غلامان وئ ازاد کړئ. ۞۱۱ نو د اسراييلو ټول قوم به د دې پېښې ښخه خبر شي، نو هغوی به ووېرېږي او بيا به هيښوک داسې بد کار ونه کړي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ کله چي تاسو په هغو ښارونو کې واوسېږئ چي ستاسو څښتن خدای یې درکوي، کېدای شي
تاسو واورئ ۱۳ چي ستاسو د قوم ځيني خوشې خلکو د خپل ښار خلک بې لارې کړي دي چي
د داسې خدايانو عبادت وکړي چي مخکې تاسو هيڅکله د هغو عبادت نه وي کړی. ۱۴ که چېرې
تاسو داسې اوازې واورئ، د هغو په هکله پوره څېړنه وکړئ او که چېرې هغه رښتيا وي او داسې بده
پېښه شوې وي، ۱۵ بيا د هغه ښار ټول خلک او د هغوی ټول حيوانات هم ووژنئ او هغه ښار په
بشپړه توګه وران کړئ. ۱۶ د هغه ځای د اوسېدونکو ټول مال او جايداد راوړئ او د ښار په چوک
کې يې انبار کړئ. بيا هغه ښار د هرڅه سره چي په کې دي خپل څښتن خدای ته د نذرانې په توګه
وسوزوئ. هغه بايد د تل دپاره کنډواله پاتې شي او بيا هيڅکله ودان نه شي. ۱۷-۱۸ د هغو شيانو
څخه چي بايد له منځه يوړل شي هيڅ شی هم د ځان دپاره مه ساتئ، نو بيا به د څښتن سخت قهر
سوړ شي او په تاسو باندې به رحم وکړي. که چېرې تاسو د هغه د ټولو امرونو چي ما نن درکړي دي
اطاعت وکړئ او د هغه غوښتنې ومنئ، هغه به په تاسو باندې رحم وکړي او لکه څنګه چي يې
ستاسو د نيکونو سره وعده کړې ده، ستاسو څخه به يو لوی قوم جوړ کړي.

## د ژړا کولو منع شوی رواج

۱۴ ۱ تاسو د خپل څښتن خدای اولادونه يئ. نو کله چي د مړو دپاره ژاړئ، خپل ځانونه مه
غوڅوئ يا د خپل کاکل ويښتان مه خرايئ. ۲ تاسو د خپل څښتن خدای يئ، هغه د هغو ټولو
قومونو څخه چي د ځمکې په مخ باندې ژوند کوي تاسو د خپل قوم په توګه انتخاب کړي يئ.

## حلال او حرام حيوانات

(لاويان ۱۱: ۱ – ۴۷)

۳ هيڅ داسې شيان مه خورئ چي څښتن هغه حرام اعلان کړي دي. ۴ تاسو کولی شئ چي د
دغو حيواناتو غوښه وخورئ: غوايان، پسونه، وزې، ۵ هر ډول هوسۍ، غرنې پسونه، ځنګلي وزې
يا غرڅې ۶ يعنې هر هغه حيوان چي خلاص سوم ولري او شخوند هم وهي. ۷ مګر د هيڅ
داسې حيوان غوښه بايد ونه خوړل شي چي خلاص سومان نه لري او شخوند نه وهي. تاسو بايد د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوبنانو، سویو، یا د غرنیو سویو غوښه ونه خورئ. هغه باید ناپاک وګڼل شي، هغه شخوند وهي مګر خلاص سومان نه لري. ⑧ د خوګ غوښه مه خورئ. خوګ باید ناپاکه وګڼل شي، هغه خلاص سومان لري مګر شخوند نه وهي. د دغو حیواناتو غوښه مه خورئ او حتیٰ د هغو مړو ته لاس هم مه وروړئ.

⑨ تاسو کولی شئ هر ډول ماهیان چې وزرونه او پترې ولري وخورئ، ⑩ مګر بل داسې شی چې په اوبو کې ژوند کوي او وزرونه او پترې ونلري خوړل یې روا نه دي، هغه باید ناپاک وګڼل شي.

⑪ تاسو کولی شئ چې هر ډول پاک مرغان وخورئ. ⑫-⑱ مګر دا هغه ډول مرغان دي چې تاسو یې باید ونه خورئ: عقاب، ډول ډول ټپوسان، هر ډول بانبې، هر ډول کارغان، شترمرغ، ډول ډول ګونګیان، د دریاب مرغان، لګ لګ، هر ډول ماهي خوړونکي مرغان، ملاچرګک او شوپرک.

⑲ ټول وزر لرونکي حشرات ناپاک دي، هغه مه خورئ. ⑳ تاسو کولی شئ چې هر ډول پاک حشرات وخورئ.

㉑ د داسې حیوان غوښه مه خورئ چې په خپل مرګ مړ شي. تاسو کولی شئ چې دا هغو بېګانه خلکو ته چې ستاسو په منځ کې اوسېږي ورکړئ چې ویې خوري یا تاسو کولی شئ چې په نورو بېګانه خلکو باندې یې خرڅه کړئ. مګر تاسو د خپل څښتن خدای یئ، تاسو د هغه قوم یئ.

یو سېرلی د خپلې مور په شیدو کې مه پخوئ.

## د عشر په هکله قانون

㉒ تاسو باید هر کال د خپلو پټیو د ټولو حاصلاتو لسمه برخه جدا کړئ. ㉓ بیا هغه ځای ته لاړ شئ چې ستاسو څښتن خدای به یې د خپل عبادت دپاره انتخاب کړي او هلته د هغه په حضور کې د خپلو غلو دانو، شرابو او زیتونو د تېلو عشر او د خپلو پادو او رمو اولني زېږېدلي بچیان وخورئ. دا کار وکړئ ترڅو د همېش دپاره خپل څښتن خدای ته احترام کول زده کړئ. ㉔ که



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرې د عبادت ځای ستاسو د کور څخه ډېر لېرې وي چې د خپلو هغو محصولاتو عشر چې ښښتن تاسو ته په کې برکت درکړی دی هلته وړلی نه شئ، بیا داسې وکړئ ۲۵ چې خپل حاصلات خرڅ کړئ او د هغو پیسې د عبادت ځای ته یوسئ. ۲۶ په هر شي باندې چې تاسو غواړئ دا پیسې مصرف کړئ یعني په غواګانو، پسونو، وزو، شرابو او بیرو باندې او د خپلو کورنیو سره یې هلته د خپل ښښتن خدای په حضور کې وخورئ او خوشالي وکړئ.

۲۷ هغه لاویان مه هېروئ چې ستاسو په ښارونو کې اوسېږي، هغوی خپله ځمکه نه لري. ۲۸ د هر دریم کال په پای کې د خپلو ټولو حاصلاتو عشر راوړئ او په خپلو ښارونو کې یې ذخیره کړئ.
۲۹ هغه لاویانو ته چې ستاسو په منځ کې خپله ځمکه نه لري او همدارنګه هغو بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو ته چې ستاسو په ښارونو کې اوسېږي ورکړئ چې ویې خوري او وربانديې ماړه شي. نو بیا به ستاسو ښښتن خدای تاسو ته په ټولو کارونو کې برکت درکړي.

## د قرضونو د بخښلو کال

(لاویان ۲۵: ۱ – ۷)

**۱۵** ۱ د هر اووم کال په پای کې باید تاسو د خپلو قرضدارانو قرضونه ورووبخښئ. ۲ دا کار به په دې ډول کیږي: ستاسو څخه هرڅوک چې کوم بل اسراییلي ته یې پیسې په قرض ورکړې وي باید د هغه قرض ورووبخښي. هغه دې د هغه اسراییلي څخه دا پیسې بېرته ونه غواړي، ځکه چې ښښتن په خپله دا قرض بخښل شوی اعلان کړی دی. ۳ تاسو کولی شئ چې د یو بېګانه څخه خپل قرض واخلئ، مګر باید د خپلو خلکو څخه قرض بېرته ونه غواړئ.

۴-۶ په اسراییلو کې به هیڅوک غریب نه وي، په دې شرط چې تاسو د خپل ښښتن خدای اطاعت وکړئ او په غور سره د هغه په ټولو حکمونو باندې چې زه یې نن درکوم عمل وکړئ. ستاسو ښښتن خدای تاسو ته دا خاوره درکوي او هغه دا وعده کړې ده چې تاسو ته به په ټولو کارونو کې برې درکوي. تاسو به ډېرو قومونو ته پیسې په قرض ورکوئ، مګر د هیچا څخه به قرض اخیستلو ته اړ نه شئ. تاسو به په ډېرو قومونو باندې حکومت وکړئ، مګر هیڅ قوم به په تاسو باندې حکومت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونه کړي.

٧ که چېرې ستاسو د خاورې په کوم ښار کې چې ستاسو څښتن خدای يې درکوي کوم بل
اسراييلی وي چې محتاج وي، نو زړه مه سختوئ او د هغه سره د مرستې کولو څخه انکار مه کوئ،
٨ بلکه سخي اوسئ او څومره پيسو ته چې اړتيا ولري په قرض يې ورکړئ. ٩ پام کوئ چې
د خپل ځان سره داسې ونه وايئ چې اووم کال به ژر راورسېږي بيا به زه ونشم کولی چې خپلې
پيسې بېرته واخلم. که تاسو داسې فکر وکړئ نو دا به ډېره بده وي چې د هغه غريب سره د کومک
کولو څخه انکار وکړئ. که چېرې د هغه سره کومک ونه کړئ هغه به ستاسو په ضد څښتن ته فرياد
وکړي او تاسو به ګناهکار وګڼل شئ. ١٠ هغه ته په وړيا توګه او د پېرزوينې له مخې ورکړئ نو
څښتن به تاسو ته په هر کار کې برکت درکړي. ١١ همېشه به ځينې غريب او محتاج اسراييليان
موجود وي، نو زه تاسو ته امر کوم چې د هغوی سره د سخاوت څخه کار واخلئ.

## د غلامانو ازادول

(هجرت ٢١: ١ – ١١)

١٢ که چېرې کوم نارينه يا ښځينه عبرانی خپل ځان په تاسو باندې د غلام په توګه خرڅ کړي او
شپږ کاله ستاسو خدمت وکړي، نو په اووم کال بايد هغه پرېږدئ چې ازاد شي او لاړ شي. ١٣ د
ازادېدلو په وخت کې هغه تش لاس مه لېږئ. ١٤ څومره چې څښتن د برکت په توګه درکړي دي
د هغو څخه د سخاوت له مخې ورکړئ يعنې پسونه، وزې، غلې دانې او شراب. ١٥ په ياد لرئ چې
تاسو په مصر کې غلامان وئ او خپل څښتن خدای ازاد کړئ، نو په دې خاطر زه نن تاسو ته دا امر
درکوم.

١٦ مګر کېدای شي چې ستاسو غلام ونه غواړي چې لاړ شي. کېدای شي چې هغه تاسو او ستاسو
د کورنۍ سره مينه ولري او ورته بهتره وي چې ستاسو سره پاتې شي. ١٧ بيا هغه د خپل کور
دروازې ته بوځئ او هلته د هغه غوږ په رينه باندې سوری کړئ، بيا به هغه ټول عمر ستاسو غلام
وي. د ښځينه غلامانو سره هم همداسې کوئ. ١٨ کله چې تاسو يو غلام ازادوئ نو خفه کېږئ مه.
آخر هغه د مزدور په نيمه بيه شپږ کاله ستاسو خدمت کړی دی. که چېرې داسې وکړئ نو تاسو ته به



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل څښتن خدای په هر کار کې برکت درکړي.

## اولني زېږېدل شوي حيوانات

۱۹ د خپل څښتن خدای دپاره د خپلو پادو او رمو څخه ټول اولني زېږېدل شوي نران بېل کړئ. د اولنيو زېږېدل شويو غواګانو څخه کار مه اخلئ او اولني زېږېدل شوي پسونه مه سکولئ. ۲۰ هر کال بايد تاسو او ستاسو کورنی د هغو غوښه د څښتن په حضور کې يعنې په هغه ځای کې وخورئ چې هغه يې د خپل عبادت دپاره انتخابوي. ۲۱ مګر که چېرې په حيواناتو کې کوم عيب وي، هغه معيوب يا ړوند وي يا کوم بل غټ عيب ولري، تاسو بايد هغه خپل څښتن خدای ته قرباني نه کړئ. ۲۲ تاسو کولی شئ چې د داسې حيواناتو غوښه په خپل کور کې وخورئ. تاسو ټول که په مذهبي لحاظ پاک يئ يا ناپاک کولی شئ چې د هغو حيواناتو غوښه داسې وخورئ لکه څنګه چې د هوسی يا غرڅه غوښه خورئ. ۲۳ خو تاسو بايد هيڅکله د حيوان وينه ونه خورئ، بلکه هغه د اوبو په شان په ځمکه باندې توی کړئ.

## د فسحې اختر

(هجرت ۱۲: ۱ – ۲۰)

۱۶ ۱ د ابيب په مياشت کې خپل څښتن خدای ته د فسحې د اختر په لمانځلو سره د هغه احترام وکړئ، ځکه چې په همدې مياشت کې څښتن د شپې له خوا تاسو د مصر څخه راوويستلئ.
۲ د فسحې د اختر قرباني بايد يو غويی، پسه يا وزه وي او تاسو بايد دا په هغه ځای کې خپل څښتن خدای ته وړاندې کړئ چې هغه يې د خپل عبادت دپاره انتخابوي. ۳ کله چې تاسو د قربانی غوښه خورئ، داسې ډوډی ورسره مه خورئ چې خميره ولري. اووه ورځې بايد تاسو د هغه وخت په شان فطيره ډوډی وخورئ کله چې تاسو په بيړه د مصر څخه وتلئ. دا ډوډی وخورئ، دا به د ځورېدلو د ډوډی په نوم ياده شي، نو ترڅو پورې چې تاسو ژوندي يئ، هغه ورځ به مو په ياد وي چې تاسو د مصر يعنې د ځورېدلو د ځای څخه راووتلئ. ۴ ستاسو په ټوله خاوره کې بايد هيڅوک اووه ورځې خميره ونلري او د هغه حيوان غوښه چې د اولې ورځې په ماښام حلال شوی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي باید په هماغه شپه وخوړل شي.

۵ تاسو باید د فسحې د اختر قرباني په هیڅ ښار کې چې خپل ښښتن خدای یې درکوي وړاندې
نه کړئ. ۶ دا قرباني باید یوازې په هغه ځای کې وړاندې شي چې ښښتن یې د خپل عبادت
دپاره انتخابوي. د قربانۍ حیوان د لمرپرېواته په وخت کې حلال کړئ، څکه چې تاسو له مصر څخه
د لمرپرېواته په وخت کې راووتلئ. ۷ بیا د هغه غوښه پخه کړئ او د عبادت په ځای کې یې
وخورئ او سهار خپلو خېمو ته ستانه شئ. ۸ په راتلونکو شپږو ورځو کې باید فطیره ډوډۍ
وخورئ او په اوومه ورځ د خپل ښښتن خدای د عبادت دپاره راغونډ شئ او په هغه ورځ هیڅ کار
مه کوئ.

## د لو کولو اختر

(هجرت ۳۴: ۲۲ او لاویان ۲۳: ۱۵ – ۲۱)

۹ د هغه وخت څخه چې تاسو د غلو دانو رېبل پیل کړئ اووه هفتې وشمېرئ ۱۰-۱۱ او بیا
هغه ځای ته لاړ شئ چې ښښتن یې د خپل عبادت دپاره انتخابوي او د خپل ښښتن خدای د احترام
دپاره د لو کولو اختر ولمانځئ او د هغه په حضور کې خوشالي وکړئ. هغه ته د خپل وس په مطابق
یوه رضاکارانه نذرانه راوړئ یعنې څومره چې ښښتن تاسو ته درکړې وي د هماغې په مطابق یې
راوړئ. خپل اولادونه او خپل نوکران د ځان سره بوځئ. لاویانو، بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو ته
هم بلنه ورکړئ چې ستاسو سره ګډون وکړي. ۱۲ تاسو به په غور سره د دغو امرونو اطاعت کوئ.
دا خبره مه هېروئ چې تاسو په مصر کې غلامان وئ.

## د جونګړو اختر

(لاویان ۲۳: ۳۳ – ۴۳)

۱۳ کله چې تاسو خپلې غلې دانې غوبل کړلې او خپل انګور مو وټکول، اووه ورځې د جونګړو
اختر ولمانځئ. ۱۴ د خپلو اولادونو او نوکرانو او د هغو لاویانو، بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو سره
چې ستاسو په ښارونو کې اوسېږي په دې اختر کې خوشالي وکړئ. ۱۵ په هغه ځای کې چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبښتن يې د خپل عبادت دپاره انتخابوي اووه ورځې د دې اختر په لمانځلو سره د خپل ښبښتن خدای احترام وکړئ. تاسو به ډېر خوشاله شئ ځکه چې ښبښتن به ستاسو په ټولو حاصلاتو او په هر کار کې برکت واچوي.

١٦ په هر کال کې درې اخترونه دي چې بايد ټول نارينه اسراييليان په کې هغه ځای ته لاړ شي چې ښبښتن يې د خپل عبادت دپاره انتخابوي. هغه اخترونه دا دي: د فسحې اختر، د لو کولو اختر او د جونګړو اختر. هيڅوک دې ښبښتن ته تش لاس نه ورځي. ١٧ څومره چې هغه حاصلات چې ښبښتن درکړي دي ډېر وي، هغومره بايد ستاسو سوغات غټ وي.

## قاضيان

١٨ د خپلې هرې قبيلې دپاره په هر ښار کې چې ستاسو ښبښتن خدای يې تاسو ته درکوي، قاضيان او نور ماموران مقرر کړئ. هغوی دې په خلکو باندې د انصاف له مخې قضاوت کوي. ١٩ هغوی دې په خپلو قضاوتونو کې بې انصافي يا طرفداري نه کوي او رشوت دې نه اخلي ځکه چې رشوت حتیٰ د پوهو او صادقانو خلکو سترګې هم ړندوي او د دې سبب ګرځي چې هغوی غلطې فيصلې واوروي. ٢٠ همېشه عادل او باانصافه اوسئ، ترڅو تاسو هغه خاوره ونيسئ چې خپل ښبښتن خدای يې درکوي او هلته خپل ژوند ته دوام ورکړئ.

## هغه عبادت چې منع دی

٢١ کله چې تاسو خپل ښبښتن خدای ته د قرباني ځای جوړوئ، د هغه په څنګ کې د لرګيو د اشيره بت مه ودروئ. ٢٢ همدارنګه د بت پرستۍ دپاره تيږې مه ودروئ، ځکه چې ښبښتن د دغو شيانو څخه کرکه کوي.

## هغه قرباني چې کوم عيب په کې وي

١٧ ١ خپل ښبښتن خدای ته داسې غويی او پسه مه قرباني کوئ چې کوم عيب په کې وي،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن له دې کار خخه کرکه کوي.

## هغه خلک ووژنئ چې د بتانو عبادت کوي

۲-۳ ستاسو ښښتن خدای تاسو ته د اوسېدلو دپاره ښارونه درکوي. خو وروسته کېدای شي یو سړی یا یوه ښځه په دې ښارونو کې د نورو خدایانو یا حتیٰ د لمر، سپوږمۍ یا ستورو ته عبادت شروع کړي. خو ما تاسو ته خبرداری درکړی دی چې د نورو خدایانو عبادت به نه کوئ، ځکه هرڅوک چې هغوی ته عبادت کوي هغه د ښښتن د امر خخه سرغړونه کوي او هغه لوظ ماتوي چې ښښتن ستاسو سره کړی دی. ۴ که چېرې تاسو داسې خبر واورئ، نو د هغې په هکله پوره څېړنه وکړئ. که چېرې دا خبره رښتیا وي چې په اسراییلو کې داسې بد کار شوی دی، ۵ نو بیا هغه نفر د ښار خخه دباندې بوځئ او سنګسار یې کړئ چې مړ شي. ۶ خو بیاهم هغه دې یوازې په هغه صورت کې ووژل شي چې دوه یا زیات شاهدان د هغه په ضد شاهدي ورکړي. که چېرې یوازې یو شاهد وي، هغه دې نه وژل کېږي. ۷ اول باید شاهدان تیږې ګوزارې کړي او بیا دې نور ټول خلک هغه نفر سنګسار کړي. په دې ډول به تاسو د دې بدکارۍ خخه خلاص شئ.

## مشکلې دعوې

۸ کېدای شي چې داسې دعوې وي چې د محلي قاضیانو دپاره یې فیصله کول ډېر ګران وي، لکه د جایداد د حقونو یا د چا د ټپي کولو دعوې یا داسې دعوې چې د قتل او د داسې مرګ ترمنځ فرق په کې شامل وي چې په سهوې سره شوی وي. کله چې داسې کار کېږي نو د عبادت هغه ځای ته ځئ چې ستاسو د ښښتن خدای له خوا انتخابېږي. ۹ نو خپله دعوه لاوي کاهنانو او د هغه وخت قاضي ته وړاندې کوئ او هغوی پرېږدئ چې د دعوې فیصله وکړي. ۱۰ هغوی به خپله فیصله واوروي او تاسو باید کټ مټ هماغسې وکړئ څنګه چې هغوی یې درته وایي. ۱۱ د هغوی فیصله ومنئ او په لارښوونو باندې یې پوره عمل وکړئ. ۱۲ هرڅوک چې دا جرأت وکړي چې د قاضي یا هغه کاهن د امر خخه سرغړونه وکړي چې ستاسو د ښښتن خدای خدمت کوي، هغه دې ووژل شي. په دې ډول به تاسو د اسراییلو خخه دا بدکارې لیرې کړئ. ۱۳ بیا به ټول خلک له دې خخه خبر شي او وبه وېرېږي او بل هیڅوک به دا جرأت ونه کړي چې داسې عمل وکړي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

### د پادشاه په هکله لارښودني

(۱۴) کله چې تاسو هغه ځمکه ونیسئ چې ستاسو څښتن خدای یې درکوي او هلته اوسېږئ، نو وبه
وایئ چې مونږ هم لکه د خپل شاوخوا قومونو په شان پادشاه غواړو. (۱۵) ګورئ، کوم سړی چې
تاسو د پادشاه په توګه انتخابوئ باید هغه څوک وي چې د څښتن له خوا انتخاب شوی وي. هغه
باید ستاسو د قوم څخه وي. کوم بېګانه سړی خپل پادشاه نه کړئ. (۱۶) د پادشاه لښکر باید زیات
اسونه ونلري او هغه باید مصر ته خلک د دې دپاره ونه لیږي چې هلته اسونه په بیه واخلي ځکه چې
څښتن فرمایلي دي چې د هغه قوم دې هیڅکله هلته بېرته نه ځي. (۱۷) پادشاه باید ډېرې ښځې
ونلري ځکه چې هغوی به هغه ولمسوي چې د څښتن په مقابل کې بې وفا شي. باالاخره، پادشاه باید
د دې هڅه ونه کړي چې په زیاته اندازه سره زر او سپین زر لاس ته راوړي. (۱۸) کله چې هغه
پادشاه شي، هغه دې د دې قوانینو د نسخې یو نقل جوړ کړي چې اصلي نقل یې د لاوي کاهنانو سره
دی. (۱۹) د قوانینو دا نقل دې د هغه سره وي او ټول عمر دې هغه لولي ترڅو د څښتن احترام کول
زده کړي او په وفادارۍ سره د هغو ټولو امرونو اطاعت وکړي چې په دې قوانینو کې راغلي دي.
(۲۰) په دې کار سره به هغه داسې فکر نه کوي چې هغه د نورو اسراییلیانو په پرتله ښه سړی دی او
د څښتن د امرونو څخه به هیڅ سرغړونه نه کوي. بیا به هغه او د هغه اولاده د ډېرو کلونو دپاره په
اسراییلو باندې حکومت وکړي.

### د کاهنانو او لاویانو برخه

۱۸ (۱) د لاوي د قبیلې خلک به د کاهنانو په شمول د نورو قبیلو سره هیڅ ځمکه ترلاسه نه
کړي. د هغې په ځای به هغوی د هغو قربانیو یوه برخه چې څښتن ته وړاندې کېږي اخلي. (۲)
هغوی دې هیڅ ځمکه ونلري لکه څنګه چې نورې قبیلې یې لري. د څښتن د وعدې سره سم د
هغوی برخه دا امتیاز دی چې هغوی د څښتن کاهنان دي.

(۳) کله چې غوایان یا پسونه قرباني کېږي، کاهنانو ته دې اوږه، ژامه او لرې ورکول کېږي. (۴)
هغوی ته دې د غلو دانو، شرابو، د زیتونو د تېلو او د پسونو د وړیو اولنۍ حاصل ورکول کېږي. (۵)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو څښتن خدای ستاسو د ټولو قبیلو څخه د لاوي قبیله انتخاب کړه چې د تل دپاره د کاهنانو په توګه د هغه خدمت وکړي.

(۶) هر لاوي چې زړه يې وغواړي کولی شي د اسراييلو د هر ښار څخه چې په کې اوسيږي هغه ځای ته ورشي چې څښتن يې د خپل عبادت دپاره انتخابوي (۷) او کولی شي د نورو ټولو لاويانو په شان چې هلته خدمت کوي هغه هم هلته د خپل څښتن خدای د کاهن په توګه خدمت وکړي.
(۸) که څه هم کېدای شي چې هغه د خپلې کورنۍ د مال د خرڅولو په وسيله پيسې ترلاسه کړې وي، هغه دې د نورو کاهنانو په اندازه خواړه ترلاسه کوي.

## د بې دينه خلکو د رواجونو څخه ځانونه وساتئ

(۹) کله چې تاسو هغې خاورې ته ورداخل شئ چې خپل څښتن خدای يې درکوي، د هغه ځای د قومونو د ناوړه رواجونو څخه پيروي مه کوئ. (۱۰) په خپلو قربانګاوو باندې خپل اولادونه په اور کې مه قرباني کوئ او خپل خلک مه پرېږدئ چې فال وګوري يا کوډو پسې وګرځي يا جادو وکړي (۱۱) يا تعويذ استعمال کړي. همدارنګه خلک مه پرېږدئ چې د مړو سره د مشورې کولو کوښښ وکړي. (۱۲) ستاسو څښتن خدای د هغو خلکو څخه کرکه کوي څوک چې داسې ناوړه کارونه کوي، نو په دې خاطر څښتن هغه قومونه ستاسو له مخې څخه لېرې کوي. (۱۳) څښتن ته پوره وفادار اوسئ.>

## د نبي د رالېږلو وعده

(۱۴) بيا حضرت موسیٰ وفرمايل: <په هغه خاوره کې چې تاسو به يې ژر ونيسئ، خلک د هغه چا د مشورې څخه پيروي کوي څوک چې کوډې کوي او فال ګوري. مګر تاسو ته خپل څښتن خدای اجازه نه درکوي چې داسې کار وکړئ. (۱۵) د دې په ځای به هغه تاسو ته ستاسو د قوم څخه زما په شان يو نبي درولېږي او تاسو بايد د هغه اطاعت وکړئ.

(۱۶) په هغه ورځ چې تاسو د سينا د غره سره راغونډ شوئ نو ومو ويل چې مونږ نور نه غواړو د خپل څښتن خدای اواز واورو او دا وېروونکی اور ووينو ځکه مونږ وېرېږو چې مړه به شو. (۱۷) نو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن ماته وفرمايل: هغوی صحيح وايي. ۱۸ زه به هغوی ته د هغوی د خپل قوم څخه ستا په
شان يو نبي ورولېږم. زه به ورته ووايم چې څه بايد ووايي او هغه به قوم ته هغه څه وايي چې زه يې
امر کوم. ۱۹ هغه به زما په نوم خلکو ته خبرې کوي او زه به هر هغه چاته سزا ورکړم چې هغه ته
د اطاعت کولو څخه انکار وکړي. ۲۰ مګر که چېرې يو نبي جرأت وکړي او په داسې وخت کې
زما په نوم يو پيغام واوروي چې ما ورته امر نه وي کړی، نو هغه بايد مړ شي او هغه نبي هم بايد مړ
شي چې د نورو خدايانو په نوم خبرې کوي.

۲۱ کېدای شي چې ستاسو سره دا سوال پيدا شي چې مونږ څنګه پوهېدلی شو چې د نبي پيغام د
ښښتن له خوا څخه نه دی؟ ۲۲ که چېرې يو نبي د ښښتن په نوم خبرې وکړي او د هغه خبرې
رښتيا نه شي، بيا هغه د ښښتن پيغام نه دی. هغه نبي له خپله ځانه دا خبرې کړې دي نو بايد د هغه
څخه ونه وېرېږئ.

## د پناه اخيستلو ښارونه

(شمېر ۳۵: ۹ – ۳۴ او يوشع ۲۰: ۱ – ۹)

۱۹ ۱ کله چې ستاسو ښښتن خدای هغه خلک تباه کړي چې ځمکه يې تاسو ته درکوي او
تاسو د هغوی ښارونه او کورونه ونيسئ او په کې واوسېږئ، ۲-۳ هغه سيمه په دريو برخو
ووېشئ. په هرې برخې کې يو داسې ښار انتخاب کړئ چې خلک وکولی شي د خوندي پاتې کېدلو
دپاره لاړ شي. دغو ښارونو ته لارې جوړې کړئ ترڅو خلک وکولی شي په اسانی سره هغو ځايونو
ته ورورسيږي. بيا که څوک يو نفر ووژني هغه به وکولی شي چې د دې ښارونو څخه کوم يو ته
وتښتي او خوندي پاتې شي. ۴ که چېرې څوک په سهوې سره يو نفر ووژني چې د هغه دښمن نه
ؤ، هغه کولی شي چې دغو ښارونو ته وتښتي او خپل ژوند وژغوري. ۵ د مثال په ډول، که چېرې
دوه تنه د لرګيو د ماتولو دپاره ځنګل ته لاړ شي او په داسې حال کې چې يو تن ونه په تبر وهي، د
تبر سر د لاستي څخه ووزي او بل نفر ورباندې ووژل شي، بيا هغه کولی شي چې د دغو دريو
ښارونو څخه يو ښار ته وتښتي او خپل ژوند وژغوري. ۶ که چېرې د پناه اخيستلو ښار ډېر
لېرې وي نو کېدای شي چې هغه بدل اخيستونکی چې ډېر په قهر دی وکولی شي په هغه قاتل پسې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورورسیرِي او هغه ووژني. که څه هم اولنی قتل یوه تصادفي پېښه وه خو هغه به ووژل شي. ⑦ په دي خاطر زه تاسو ته حکم کوم چې د پناه اخیستلو دپاره درې ښارونه بېل کړئ.

⑧ کله چې ستاسو څښتن خدای ستاسو سیمه پراخه کړي لکه څنګه چې هغه ستاسو نیکونو ته فرمایلي وو او هغه ټوله ځمکه درکړي چې د هغوی سره یې وعده کړې ده، ⑨ بیا باید تاسو درې نور ښارونه انتخاب کړئ. (هغه به په دې شرط دا ځمکه درکړي چې تاسو هغه ټول امرونه په ځای کړئ چې زه یې نن درکوم او د خپل څښتن خدای سره مینه وکړئ او همېشه د هغه د تعلیم سره سم ژوند وکړئ.) ⑩ دا کار وکړئ ترڅو بې ګناه خلک مړه نه شي او تاسو په هغه خاوره کې چې څښتن یې درکوي د هغوی د وژلو مجرم نه شئ.

⑪ مګر فرض کړئ یو نفر خپل دښمن په سړه سینه په قصدي توګه په قتل رسوي او بیا د هغو ښارونو څخه یو ښار ته د خوندي پاتې کېدو دپاره وتښتي. ⑫ په هغه صورت کې دې د قاتل د ښار مشران هغه راوغواړي او د وژل شوي نفر خپلوان ته دې چې د قتل د بدل اخیستلو مسئولیت په غاړه لري وسپاري ترڅو ووژل شي. ⑬ په هغه باندې هیڅ رحم مه کوئ. تاسو باید اسراییل د بې ګناه وینې توئېدلو د جرم څخه پاک کړئ، ترڅو ستاسو هر کار په ښه ډول پرمخ لاړ شي.

## د جایداد د حدونو تېرې مه بېځایه کوئ

⑭ په هغه خاوره کې چې څښتن یې تاسو ته درکوي، هلته له مخکې څخه تېرې ودرول شوې دي چې ستاسو او ستاسو د ګاونډیانو د پټیو ترمنځ د جایداد حد په نښه کړي. نو هغه تېرې مه بېځایه کوئ.

## د شاهدانو په هکله قوانین

⑮ د دې دپاره یو شاهد بس نه دی چې په یو چا باندې د جرم تور ثابت کړي، دوه یا درې شاهدان ضرور دي چې په یو چا باندې جرم ثابت کړي. ⑯ که چېرې څوک دا هڅه وکړي چې بل چاته د درواغو د تور لګولو په وسیله زیان ورسوي، ⑰ هغه دواړه دې هغه ځای ته لاړ شي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرته چې د څښتن عبادت کېږي او د کاهنانو او د هغه وخت د قاضیانو له خوا دې وړاندې قضاوت وشي. ⁽¹⁸⁾ قاضیان باید د دعوې پوره څېړنه وکړي او که چېرې چا په خپل اسراییلي ورور باندې د دروغو تور لګولی وي، ⁽¹⁹⁾ هغه ته دې هغه سزا ورکړل شي چې تورن شوي نفر ته به ورکړل شوې وای. په دې ډول به تاسو خپل ځانونه د دې بدکارۍ څخه خلاص کړئ. ⁽²⁰⁾ بیا به نور ټول خلک د دې پېښې څخه خبر شي او وبه وېرېږي او هیڅوک به بیا هیڅکله داسې بد کار نه کوي. ⁽²¹⁾ په داسې صورت کې هیڅ رحم مه کوئ: د ژوند په بدل کې سزا ژوند دی، د سترګې په بدل کې سترګه، د غاښ په بدل کې غاښ، د لاس په بدل کې لاس او د پښې په بدل کې پښه.

## د جنګ په هکله قوانین

**۲۰** ⁽¹⁾ کله چې تاسو د خپلو دښمنانو سره د جګړې دپاره لاړ شئ او ووینئ چې د هغوی جنګي ګاډي او اسونه او لښکر ستاسو په پرتله زیات دي، د هغوی څخه مه وېرېږئ. ستاسو څښتن خدای چې تاسو یې د مصر څخه ازاد کړئ هغه به ستاسو سره مل وي. ⁽²⁾ مخکې له دې چې تاسو جګړه پیل کړئ، یو کاهن دې مخکې راشي او لښکر ته دې داسې ووایي: ⁽³⁾ د اسراییلو خلکو، واورئ! تاسو نن جګړې ته روان یئ. د خپلو دښمنانو څخه ونه وېرېږئ او جرأت له لاسه ورنه کړئ او وارخطا نه شئ. ⁽⁴⁾ ځکه چې ستاسو سره خپل څښتن خدای روان دی چې ستاسو په خاطر ستاسو د دښمنانو په مقابل کې وجنګېږي او تاسو ته بری درکړي.

⁽⁵⁾ بیا دې منصبداران لښکرو ته وینا وکړي او ودې وایي: آیا دلته داسې سړی شته چې نوی کور یې ودان کړی وي مګر لا تر اوسه پورې یې ورته کډه نه وي وروړې؟ که چېرې وي نو هغه دې کور ته لاړ شي. که نه، نو که چېرې هغه په جګړه کې ووژل شي، بل څوک به د هغه په کور کې واوسېږي. ⁽⁶⁾ آیا دلته داسې سړی شته چې د انګورو باغ یې جوړ کړی وي، مګر لا تر اوسه یې دا موقع نه وي موندلې چې د هغه څخه انګور راټول کړي؟ که چېرې وي نو هغه دې کور ته لاړ شي. که نه، نو که چېرې هغه په جګړه کې ووژل شي، بل څوک به یې د مېوو څخه خوند واخلي. ⁽⁷⁾ آیا دلته داسې څوک شته چې کوژدن یې کړې وي او تر اوسه پورې یې واده نه وي کړی؟ که چېرې وي نو هغه دې کور ته لاړ شي. که نه، نو که چېرې هغه په جګړه کې ووژل شي، بل څوک به د هغه د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوژدن شوي ښځې سره واده وکړي.

(۸) منصبداران به لښکرو ته دا هم ووايي: آيا دلته داسې سړی شته چې خپل جرأت يې له لاسه ورکړی وي او وېرېږي؟ که چېرې وي نو هغه دې کور ته لاړ شي. که نه، نو هغه به د نورو رويه کمزورې کړي. (۹) کله چې منصبداران د لښکرو سره خپلې خبرې خلاصې کړي، نو قوماندانان دې د لښکرو مشري په غاړه واخلي.

(۱۰) کله چې تاسو په يو ښار باندې د حملې کولو دپاره لاړ شئ، اول د هغه ځای خلکو ته د تسليمېدلو موقع ورکړئ. (۱۱) که چېرې هغوی دروازې خلاصې کړي او تسليم شي، هغوی ټول دې ستاسو غلامان شي او ستاسو دپاره دې سخت کارونه کوي. (۱۲) مګر که چېرې د هغه ښار خلک تسليم نه شي بلکه وجنګيږي، د خپلو لښکرو په وسيله هغه ښار محاصره کړئ. (۱۳) کله چې هغه ښار تاسو ته خپل څښتن خدای په لاس درکړي، بيا د هغه ټول سړي ووژنئ. (۱۴) مګر تاسو کولی شئ چې د هغه ښار ښځې، ماشومان، حيوانات او نور ټول شيان د غنيمت په توګه د ځان دپاره واخلئ. تاسو کولی شئ چې د خپلو دښمنانو هر شی استعمال کړئ. څښتن هغه تاسو ته درکړی دی.
(۱۵) تاسو بايد د هغو ښارونو سره چې د وعده شوې ځمکې څخه لېرې دي همداسې چلند وکړئ.

(۱۶) مګر کله چې تاسو په هغه خاوره کې چې خپل څښتن خدای يې درکوي، ښارونه ونيسئ د هغه ځای ټول خلک او حيوانات ووژنئ. (۱۷) د څښتن د حکم په مطابق ټول خلک په بشپړه توګه له منځه يوسئ يعنې حيتيان، اموريان، کنعانيان، فرزيان، حويان او يبوسيان. (۱۸) هغوی ووژنئ، ترڅو په تاسو باندې د هغو ټولو ناوړه شيانو په درزده کولو سره د څښتن په مقابل کې ګناه ونه کړي چې هغوی يې خپلو خدايانو ته په عبادت کې کوي.

(۱۹) کله چې تاسو يو ښار د زيات وخت دپاره تر محاصرې لاندې نيسئ او د هغه په مقابل کې جنګېږئ چې ويې نيسئ، نو د هغه ځای د مېوې ونې مه وهئ ځکه چې تاسو کولی شئ د هغو مېوه وخورئ. ونې يې له منځه مه وړئ ځکه چې ونې ستاسو دښمنان نه دي. (۲۰) کېدای شي چې تاسو د زينو او برجونو د جوړولو دپاره لرګيو ته اړتيا ولرئ چې دېوالونو ته په ختلو او د ښار په نيولو کې درسره مرسته وکړي. خو يوازې د هغو ونو څخه کار واخلئ چې په دې پوهېږئ چې هغه د مېوې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وني نه دي.

## نامعلومه قتل

**۲۱** ۞۱ فرض کړئ د هغه هېواد په يوه بانډه کې چې خپل څښتن خدای يې تاسو ته درکوي يو
قتل شوی نفر موندل کيږي او تاسو نه پوهېږئ چې هغه چا وژلی دی. ۞۲ ستاسو مشران او
قاضيان دې لاړ شي او له هغه ځای څخه چې مړی په کې موندل شوی دی تر شاوخوا ښارونو
پورې دې فاصله اندازه کړي. ۞۳ بيا د هغه ښار مشران چې هغه ځای ته ترټولو نژدې وي چېرته
چې مړی موندل شوی وي، يوه داسې خوسی انتخاب کړي چې هيڅ کار ورڅخه اخيستل شوی نه
وي او جغ ورباندې نه وي ايښودل شوی. ۞۴ هغوی دې دا خوسی يوې داسې ويالې ته نژدې يو
ځای ته کوزه کړي چې هيڅ نه وچيږي او چېرته چې ځمکه هيڅکله قلبه شوې نه وي او څه په کې
کرل شوي نه وي او هلته دې هغوی د هغې اورمېږ مات کړي. ۞۵ لاوي کاهنان دې هم هلته لاړ
شي ځکه چې هغوی د هرې قانوني دعوې پرېکړه کوي چې ظلم او زياتی په کې وي. ستاسو څښتن
خدای هغوی د عبادت ځای د خاص خدمت دپاره او د دې دپاره انتخاب کړي دي چې د هغه په
نوم برکت ورکړي. ۞۶ بيا به د هغه ښار ټول مشران چې هغه ځای ته ترټولو نژدې وي چېرته چې
مړی موندل شوی وي، خپل لاسونه د مړې خوسی دپاسه ومينځي ۞۷ او داسې اعلان دې وکړي:
مونږ دا نفر په قتل نه دی رسولی او په دې نه پوهېږو چې چا دا قتل کړی دی. ۞۸ څښتنه، خپل
قوم اسراييل چې تا د مصر څخه ازاد کړی دی وبخښه. مونږ وبخښه او د يو بې ګناه نفر د قتل
مسئوليت زمونږ په غاړه مه اچوه. ۞۹ نو تاسو به خپل ځانونه د بې ګناه وينې د تويولو د جرم څخه
پاک کړئ ځکه چې تاسو داسې کار وکړ چې د څښتن په نظر کې صحيح دی.

## د يوې اسيرې نجلۍ سره واده کول

۞۱۰ کله چې تاسو ته خپل څښتن خدای په جګړه کې بری درکړي او تاسو خلک اسيران کړئ،
۞۱۱ نو کېدای شي چې د هغوی په منځ کې يوه داسې ښايسته نجلۍ ووينئ چې ستاسو خوښېږي او
غواړئ چې واده ورسره وکړئ. ۞۱۲ هغه خپل کور ته راولئ. هلته به هغه خپل سر وخرايي، خپل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوکان به پرې کړي ﴿۱۳﴾ او خپل د اسیرتوب کالي به وباسي. هغه دې یوه میاشت ستاسو په کور کې پاتې شي او د خپل مور او پلار دپاره دې وژاړي. له هغې څخه وروسته تاسو کولی شئ چې واده ورسره وکړئ. ﴿۱۴﴾ وروسته که چېرې تاسو د هغې سره خوشاله نه وئ، نو طلاق ورته ورکړئ او هغه پرېږدئ چې هر چېرته چې غواړي لاړه شي. هغه د یوې غلامې په توګه نه شئ خرڅولی او نه یې خپله غلامه کولی شئ ځکه چې تاسو د هغې سره یوځای شوي یئ.

د مشر زوی حقونه

﴿۱۵﴾ فرض کړئ یو سړی دوه ښځې لري چې یوه ورباندې ګرانه وي او بله ورباندې ګرانه نه وي او هغوی دواړه هغه ته زامن وزېږوي، مګر مشر زوی یې د هغې ښځې اولاد وي چې د هغه خوښه نه ده. ﴿۱۶﴾ کله چې هغه سړی پرېکړه کوي چې څنګه به هغه د خپلو زامنو ترمنځ خپل جایداد ووېشي، نو هغه دې د مشر زوی د برخې په ورکولو سره د خپلې هغې ښځې د زوی طرفداري نه کوي چې هغه یې خوښه ده. ﴿۱۷﴾ هغه دې د خپل مال څخه مشر زوی ته دوه چنده برخه ورکړي، که څه هم هغه د هغې ښځې زوی نه دی چې د هغه خوښه ده. یو سړی باید خپل مشر زوی قبول کړي او هغه برخه ورته ورکړي چې هغه یې په قانوني توګه مستحق دی.

یو سرکش زوی

﴿۱۸﴾ فرض کړئ یو سړی یو سرزوری او سرکش زوی لري، سره له دې چې مور او پلار ورته سزا هم ورکوي خو د هغوی اطاعت نه کوي. ﴿۱۹﴾ د هغه مور او پلار دې هغه د ښار دروازې ته چېرته چې د ښار مشران غونډه کوي ورولي. ﴿۲۰﴾ هغوی دې مشرانو ته داسې ووایي: زمونږ زوی سرزوری او سرکش دی او زمونږ اطاعت نه کوي، هغه پیسې بې ځایه مصرفوي او شرابي دی. ﴿۲۱﴾ بیا دې د ښار خلک هغه سنګسار کړي چې مړ شي او په دې ډول به تاسو خپل ځانونه د دې بدکارۍ څخه خلاص کړئ. په اسراییلو کې به ټول خلک د دې پېښې څخه خبر شي او وبه وېرېږي.

د یوه مجرم مړی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ که چېرې يو نفر د يو جرم له کبله وژل شوی وي او د هغه مړی په يوه ونه کې ځوړند وي،
۲۳ دا مړی بايد ټوله شپه هلته پاتې نه شي. هغه بايد په هماغه ورځ ښخ شي ځکه چې يو داسې
مړی چې په ونه کې ځوړند وي په وطن باندې د خدای پاک لعنت راولي. نو هغه مړی ښخ کړئ
ترڅو تاسو هغه وطن ناپاکه نه کړئ چې خپل ښښتن خدای يې درکوي.

## د نورو سره مرسته کول

۲۲ ۱ که چېرې تاسو د خپل اسراييلي ورور غويی يا پسه ووينئ چې لاره يې ورکه کړې وي،
نو خپلې سترګې ورباندې مه پټوئ، هغه حيوان بېرته د هغه خاوند ته بوځئ. ۲ مګر که چېرې د
هغه خاوند لېرې اوسېږي يا تاسو نه پوهېږئ چې هغه حيوان د چا دی، بيا يې خپل کور ته بوځئ.
کله چې خاوند يې د هغه د لټولو دپاره راشي، هغه ورته بېرته ورکړئ. ۳ که چېرې يو خر، ټوکر،
يا بل داسې شی پيدا کړئ چې د يو اسراييلي ورور څخه ورک شوی وي، همدا ډول کار ورسره
وکړئ. ۴ که چېرې د يو اسراييلي ورور خر يا غويی په لاره باندې لوېدلی وي، په هغه باندې
خپلې سترګې مه پټوئ، بلکه د هغه سره مرسته وکړئ چې خپل حيوان بېرته پورته کړي.

## د کاليو په باره کې قانون

۵ ښځې دې د سړيو کالي نه اغوندي او سړي دې د ښځو کالي نه اغوندي. ستاسو ښښتن خدای
د هغو خلکو څخه چې داسې کارونه کوي کرکه کوي.

## د مرغيو مور مه اخلئ

۶ که چېرې تاسو په يوه ونه کې يا په ځمکه باندې د مرغيو يوه ځاله پيدا کړئ چې د مرغيو مور
په هګيو باندې يا د خپلو بچيانو سره ناسته وي، تاسو بايد د مرغيو مور وانخلئ. ۷ تاسو کولی
شئ چې د مرغی بچيان واخلئ، مګر د مرغيو مور بايد خوشې کړئ ترڅو اوږد او خوشبخته ژوند
ولرئ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بام ګردچاپېره دېوالونه

۸ کله چې تاسو يو نوی کور جوړوئ، د بام ګردچاپېره يو دېوال جوړ کړئ. بيا که چېرې څوک ورڅخه راغورزيږي او وژل کيږي، مسئوليت به يې ستاسو په غاړه نه وي.

## د مختلفو شيانو د يوځای کولو په هکله قوانين

۹ که چېرې تاسو د انګورو باغ جوړوئ نو په هغه کې د نورو مېوو ونې يا فصل مه کرئ، که چېرې داسې وکړئ نو تاسو ته د انګورو يا د نورو حاصلاتو استعمالول حرام کيږي.

۱۰ يو غويی او خر د قلبې دپاره د يو بل سره يوځای مه تړئ.

۱۱ داسې کالي مه اغوندئ چې د دوه مختلفو ډولونو تار څخه يعنې د اوبدل شويو وړيو او کتان دواړو څخه ګډ جوړ شوي وي.

۱۲ د خپلې چپنې په څلورو کنجونو پورې زونډې وګنډئ.

## د جنسي پاکوالي په هکله قوانين

۱۳ فرض کړئ يو سړی د يوې نجلۍ سره واده کوي او د هغې سره يوځای کيږي خو وروسته يې هغه نه خوښيږي ۱۴ او په هغې باندې د درواغو تور ولګوي او هغه بدنامه کړي ووايي: ما د دې نجلۍ سره واده وکړ، مګر کله چې مونږ سره څملاستو نو ماته معلومه شوه چې هغه پېغله نه وه.

۱۵ که چېرې داسې وشي، نو د نجلۍ مور او پلار دې د واده هغه روجايي چې په وينه باندې ککړه وي واخلي چې دا خبره ثابته کړي چې هغه پېغله وه. هغوی دې دا روجايي د ښار مشرانو ته د هغه ښار په دروازه کې وروښايي. ۱۶ د هغې پلار به هغوی ته داسې ووايي: ما خپله لور دې سړي ته په نکاح ورکړې ده او اوس زما لور د هغه نه خوښيږي. ۱۷ په هغې باندې يې د دروغو تور لګولی دی او داسې وايي: کله چې ما د هغې سره واده وکړ هغه پېغله نه وه. مګر دا زما د لور د پېغلتوب



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثبوت دی. د واده په روجایي باندې د وینې داغونه وګورئ! ⑱ بیا دې د ښار مشران د هغې مېړه په قمچینه باندې ووهي. ⑲ هغوی دې هغه سړی سل مثقاله سپین زر جریمه هم کړي او هغه دې د ښځې پلار ته ورکړي ځکه چې هغه یوه اسراییلی ښځه بدنامه کړې ده. له دې سره سره به هغه د هغه سړي ښځه پاتې شي او ترڅو پورې چې هغه ژوندی وي هغې ته طلاق نه شي ورکولی.

⑳ مګر که چېرې دا تور حقیقت ولري او د هغې د پېغلتوب هیڅ ثبوت نه وي، ㉑ بیا دې هغوی هغه ښځه د خپل پلار د کور د دروازې خولې ته وباسي او د هغه ښار خلک دې هغه هلته سنګساره کړي چې مړه شي. ځکه چې هغې په داسې حال کې چې لا د خپل پلار په کور کې اوسېدله د واده څخه مخکې د کوم سړي سره د زنا کولو په سبب زمونږ د قوم په منځ کې له شرمه ډک کار کړی دی. نو د هغې په وژلو سره باید تاسو خپل ځانونه د دې بدکارۍ څخه خلاص کړئ.

㉒ که چېرې یو سړی د بل سړي د ښځې سره د زنا کولو په حال کې ونیول شي، هغوی دواړه دې ووژل شي. په دې ډول به تاسو د دې بدکارۍ څخه خلاص شئ.

㉓ فرض کړئ په یو ښار کې یو سړی د یوې داسې پېغلې سره د زنا کولو په حال کې نیول کیږي چې د بل چا سره یې کوژدن شوې وي. ㉔ تاسو باید هغوی دواړه د ښار څخه بیرون وباسئ او سنګسار یې کړئ چې مړه شي. هغه پېغله دې ځکه مړه شي چې د مرستې دپاره یې چیغې نه دي وهلې، که څه هم هغه په ښار کې وه او کېدای شو چې هلته د هغې چیغې اورېدل شوې وای. او سړی دې ځکه مړ شي چې هغه د هغه چا سره زنا کړې ده چې کوژدن شوې وه. تاسو باید خپل ځانونه د دې بدکارۍ څخه خلاص کړئ.

㉕ فرض کړئ یو سړی د ښار څخه بیرون په یوه باندې کې یوه داسې پېغله بې عزته کړي چې د بل چا سره یې کوژدن شوې وي. بیا دې یوازې سړی ووژل شي، ㉖ پېغلې ته دې هیڅ شی ونه ویل شي ځکه چې هغې داسې ګناه نه ده کړې چې د مرګ لایقه وي. دا هماغه شان دعوه ده لکه څنګه چې یو سړی په بل سړي باندې حمله وکړي او هغه په قتل ورسوي. ㉗ هغه سړي په باندې کې کوژدن شوې پېغله بې عزته کړه او که څه هم هغې د مرستې دپاره چیغې ووهلې، خو هلته هیڅوک نه ؤ چې د هغې سره مرسته وکړي او هغه وژغوري.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ فرض کړئ یو سړی د یوې داسې پېغلې په بې عزته کولو نیول کیږي چې کوژدن شوې نه وي.
۲۹ هغه سړی دې د هغې پلار ته د مهر بیه یعنې پنځوس مثقاله سپین زر ورکړي او د هغې پېغلې سره دې واده وکړي، ځکه چې هغه يې مجبوره کړې وه چې ورسره څملي. ترڅو پورې چې هغه ژوندی وي هغې ته طلاق نه شي ورکولی.

۳۰ هیڅ سړی دې د خپل پلار د کومې ښځې سره د زنا کولو په سبب خپل پلار نه سپکوي.

## هغه خلک چې د څښتن په قوم کې نه شي شاملېدلی

۲۳ ۱ هیڅ داسې سړی چې خصي شوی وي یا د هغه تناسلي آله پرې کړل شوې وي د څښتن په قوم کې نه شي شاملېدلی.

۲ هیڅ داسې نفر چې حرامي وي او د داسې نفر اولاده حتیٰ تر لسم نسله پورې د څښتن په قوم کې نه شي شاملېدلی.

۳ هیڅ عموني یا موآبي او د هغوی اولاده حتیٰ تر لسم نسله پورې د څښتن په قوم کې نه شي شاملېدلی. ۴ دا په دې سبب کله چې تاسو د مصر څخه راوتلئ، هغوی تاسو ته د ډوډۍ او اوبو د برابرولو څخه انکار وکړ او د بعور زوی بلعام يې چې په بین النهرین کې د فتور د ښار څخه ؤ اجیر ونیوه چې په تاسو باندې لعنت ووايي. ۵ مګر ستاسو څښتن خدای به بلعام ته غوږ نه نیوه، د هغې په ځای يې لعنت په برکت بدل کړ ځکه چې هغه ستاسو سره مینه درلوده. ۶ تاسو او ستاسو راتلونکي نسلونه د هغو قومونو سره د هیڅ شي مرسته ونه کړئ او د هغوی خوشبختي مه غواړئ.

۷ ادومیانو ته په سپکه سترګه مه ګورئ، ځکه چې هغوی ستاسو خپلوان دي. مصریانو ته هم په سپکه سترګه مه ګورئ، ځکه چې یو وخت تاسو د هغوی په خاوره کې اوسېدلئ. ۸ کېدای شي چې د هغوی لمسیان د څښتن په قوم کې شامل شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

﴿۹﴾ کله چې تاسو د جنګ په وخت کې په کمپ کې يئ، بايد د هر هغه شي څخه چې تاسو په مذهبي لحاظ ناپاکه کوي ځانونه وساتئ. ﴿۱۰﴾ که چېرې د شپې له خوا شيطان يو سړی وغولوي او له دې کبله هغه ناپاک شي، هغه دې د کمپ څخه بيرون ووزي او هلته دې پاتې شي. ﴿۱۱﴾ هغه دې مازديګر غسل وکړي او ماښام کولی شي چې بېرته کمپ ته راشي.

﴿۱۲﴾ د کمپ څخه بيرون يو داسې ځای جوړ کړئ چې د تشناب په توګه ورڅخه کار واخيستل شي. ﴿۱۳﴾ په خپلو سامانونو کې يو داسې شی ولرئ چې ځمکه وربانديې وکيندل شي. کله چې تاسو د حاجت د رفع کولو دپاره ځئ، په هغه باندې يوه کنده وباسئ. بيا وروسته له دې چې خپل حاجت رفع کړئ، خپل غايطه مواد په هغې کندې کې ښخوئ. ﴿۱۴﴾ ځرنګه چې ستاسو څښتن خدای ستاسو په کمپ کې ګرځي چې ستاسو ساتنه وکړي او په خپلو دښمنانو باندې برى درکړي، نو ستاسو کمپ بايد مقدس وي ترڅو هغه ستاسو په منځ کې کوم خراب شی ونه ويني او ستاسو څخه مخ ونه ګرځوي.

## ډول ډول قوانين

﴿۱۵﴾ که چېرې يو غلام د خپل بادار څخه وتښتي او تاسو ته د پناه اخيستلو دپاره راشي، هغه بېرته خپل بادار ته په لاس مه ورکوئ. ﴿۱۶﴾ هغه کولی شي ستاسو په هر ښار کې چې د هغه خوښه وي واوسيږي او تاسو بايد د هغه سره بده رويه ونه کړئ.

﴿۱۷﴾ هيڅ اسرائيلي سړی يا ښځه بايد د عبادتخانې لواطت کار يا فاحشه نه شي. ﴿۱۸﴾ همدارنګه هيڅ داسې پيسې چې په دې ډول ګټل شوې وي د نذر د ورکولو دپاره دې ستاسو د څښتن خدای کور ته رانه وړل شي. څښتن د عبادتخانې د لواطت کارانو او فاحشو څخه کرکه کوي.

﴿۱۹﴾ کله چې تاسو يو اسرائيلي ورور ته پيسې يا ډوډی يا بل شی په قرض ورکړئ، د هغه څخه سود مه اخلئ. ﴿۲۰﴾ تاسو کولی شئ چې د بېګانه نفر څخه سود واخلئ، مګر د اسرائيلي څخه نه. دا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار وکړئ، نو ستاسو ښښتن خدای به ستاسو په هر کار کې چې تاسو یې په هغه خاوره کې کوئ چې تاسو یې نیسئ برکت واچوي.

(۲۱) کله چې تاسو خپل ښښتن خدای ته نذر منئ، د خپلې وعدې په پوره کولو کې ځنډ مه کوئ، ځکه چې ستاسو ښښتن خدای به ستاسو څخه وغواړي چې هغه وعده پوره کړئ. که نه، نو تاسو به ګناهکار وګڼل شئ. (۲۲) دا کومه ګناه نه ده چې تاسو ښښتن ته نذر ونه منئ. (۲۳) څه چې تاسو ویلي دي هغه باید خامخا پوره کړئ، ځکه چې تاسو په خپله خوښه او په خپلې خولې ښښتن ته نذر منلی دی.

(۲۴) کله چې تاسو د بل چا د انګورو باغ ته ورننوزئ، څومره انګور چې غواړئ خوړلی یې شئ، مګر هغه باید په یو لوښي کې د خپل ځان سره یونسئ. (۲۵) کله چې تاسو د بل چا د غلو دانو پټي ته ورننوزئ، کولی شئ چې په خپلو لاسونو باندې وږي راټول کړئ او هغه وخورئ، مګر هغه باید په لور باندې ونه رېبئ.

## د طلاق په هکله قانون

۲۴ (۱) فرض کړئ یو سړی د یوې نجلۍ سره واده وکړي او وروسته یې بد ایسي ځکه چې په هغې کې یو داسې شی ګوري چې د هغه نه خوښېږي. نو هغه طلاقنامه لیکي، هغې ته یې ورکوي او د خپل کور څخه یې شړي. (۲) بیا فرض کړئ هغه د یو بل سړي سره واده کوي (۳) او د دوهم مېړه هم هغه ښځه نه خوښېږي، نو هغه هم طلاقنامه لیکي، هغې ته یې ورکوي او د خپل کور څخه یې شړي. یا فرض کړئ د هغې دوهم مېړه مړ کېږي. (۴) په دواړو صورتونو کې دې د هغې اولنی مېړه بیا د هغې سره واده نه کوي، ځکه چې هغه نجسه شوې ده. که چېرې هغه ورسره بیا واده وکړي، د هغوی واده به هغه ځمکه ناپاکه کړي کومه چې خپل ښښتن خدای یې درکوي او ښښتن د دې کار څخه کرکه کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هغه سړی چې نوی واده کوي

(۵) که چېرې يو سړي نوی واده کړی وي، هغه دې جنګ يا کومې بلې وظيفې ته نه لېږل کيږي. هغه دې يو کال د وظيفې څخه معاف وي ترڅو هغه په کور کې پاتې شي او خپله ښځه خوشاله وساتي.

## د قرض ورکولو په هکله قانون

(۶) کله چې تاسو چاته کوم شی په قرض ورکوئ، بايد د هغه د مېچنې پلونه چې د غلو دانو د ميده کولو دپاره ورڅخه کار اخيستل کيږي د ضمانت په توګه وانخلئ. په دې کار سره به د هغې کورنۍ هغه وسيله له منځه لاړه شي کوم چې هغوی ورباندې د ژوندي پاتې کېدلو دپاره خواړه تياروي.

## د اسراييلي ورونو تښتول

(۷) که چېرې يو نفر ونيول شي چې خپل اسراييلي ورور يې تښتاوه چې هغه خپل غلام کړي يا يې د غلام په توګه خرڅ کړي، نو تښتوونکی دې ووژل شي. په دې ډول به تاسو د دې بدکارۍ څخه خلاص شئ.

## د پوستکي د ساري ناروغيو په هکله قانون

(۸) کله چې تاسو د پوستکي په ساري ناروغۍ اخته شئ نو څه چې لاوي کاهنان درته وايي کټ مټ هماغسې وکړئ. د هغو لارښودنو څخه پيروي وکړئ چې ما هغوی ته ورکړي دي. (۹) په ياد ساتئ کله چې تاسو د مصر څخه راوتلئ، ستاسو څښتن خدای په مريم باندې څه وکړل.

## د ضمانت اخيستلو په هکله قانون

(۱۰) کله چې تاسو چاته کوم شی په قرض ورکوئ، د هغه کور ته د دې دپاره مه ورننوزئ چې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه څخه کوم شی د ضمانت په توګه واخلئ. ⟨۱۱⟩ بیرون انتظار وباسئ او پرېږدئ چې هغه يې په خپله تاسو ته راوړي. ⟨۱۲⟩ فرض کړئ یو نفر دومره غریب وي چې یوازینی شی چې هغه يې کولی شي تاسو ته د ضمانت په توګه درکړي هغه چپنه ده، نو د هغه چپنه د شپې د خپل ځان سره ونه ساتئ. ⟨۱۳⟩ هغه د لمرپرېواته څخه مخکې بېرته ورکړئ ترڅو د هغې خاوند وکولی شي هغه واغوندي او ویده شي او د ښښتن څخه ستاسو دپاره برکت وغواړي. نو دا کار به ستاسو د ښښتن خدای په نظر کې ښه عمل وګڼل شي.

## د غریبانو اجوره

⟨۱۴⟩ که چېرې تاسو غریب خلک د خپل کار دپاره مزدوران ونیسئ، نو د هغوی اجوره مه ځنډوئ، که هغه اسراییلیان وي یا هغه بېګانه خلک چې ستاسو په ښارونو کې اوسیږي. ⟨۱۵⟩ د هرې ورځې اجوره د لمرپرېواته څخه مخکې ورکوئ. هغوی خپل ژوند په نېستی کې تېروي او د ژوندي پاتې کېدلو دپاره پیسو ته ضرورت لري. که چېرې هغوی ته په خپل وخت سره اجوره ورنه کړئ، هغوی به ستاسو په ضد ښښتن ته فریاد وکړي او تاسو به ګناهکار وګڼل شئ.

## د مرګ سزا

⟨۱۶⟩ مور او پلار دې د هغو جرمونو په خاطر نه وژل کیږي چې د هغوی اولادونو کړي وي او اولادونه دې د هغو جرمونو په خاطر نه وژل کیږي چې د هغوی مور او پلار کړي وي. هرڅوک دې یوازې د هغو جرمونو دپاره ووژل شي چې هغوی په خپله کړي وي.

## د بې وسې خلکو سره بده رویه مه کوئ

⟨۱۷⟩ بېګانه خلک او یتیمان د خپلو حقونو څخه مه محروموئ او د قرض په خاطر د یوې کونډې کالي د ضمانت په توګه مه اخلئ. ⟨۱۸⟩ په یاد ساتئ چې تاسو په مصر کې غلامان وئ او خپل ښښتن خدای ازاد کړئ، نو ځکه زه تاسو ته دا حکم کوم.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خپلو حاصلاتو څخه لږ غریبانو ته پرېږدئ

۱۹ کله چې تاسو خپل فصلونه لو کوئ او په پټي کې درڅخه کومه ګېډۍ پاتې شي، د هغې پسې
بېرته مه ورځئ. هغه بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو ته پرېږدئ ترڅو ستاسو څښتن خدای ستاسو په
هر کار کې برکت واچوي. ۲۰ کله چې تاسو یوځل خپل زیتون راټول کړل، نو د پاتې شویو زیتونو
پسې بېرته مه ورځئ چې هغه هم راوړئ. هغه د بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو دپاره پرېږدئ. ۲۱
کله چې تاسو یوځل خپل انګور راټول کړل، دوهم ځل تاکونو ته مه ورځئ. کوم انګور چې پاتې وي
هغه د بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو دپاره دي. ۲۲ دا خبره هیڅکله مه هېروئ چې تاسو په مصر
کې غلامان وئ، نو ځکه زه تاسو ته دا حکم کوم.

## د سزا په هکله قانون

**۲۵** ۱ فرض کړئ دوه اسراییلیان محکمې ته ورځي چې یوه دعوه حل کړي او یو تن بې
بې ګناه او بل بې مجرم وګڼل شي. ۲ که چېرې په مجرم باندې د وهلو حکم وشي، قاضي دې
هغه پړمخې څملوي او په قمچینه باندې دې ووهي. د قمچینې د ګوزارونو شمېر به د هغه په جرم
پورې اړه ولري. ۳ هغه به د څلوېښتو ګوزارونو څخه زیات نه وهل کیږي، د هغې څخه زیات به
په عام محضر کې د هغه د سپکاوي سبب شي.

## د غوییي خوله مه تړئ

۴ د غلو دانو د غوبل کولو په وخت کې د غوییي خوله مه تړئ.

## د مړه ورور دپاره زوی

۵ که چېرې دوه ورونه په یو جایداد باندې ژوند کوي او د هغو څخه یو تن مړ شي او هیڅ زوی
ورڅخه پاتې نه شي، بیا دې د هغه کونډه د کورنۍ څخه بیرون د بل چا سره واده نه شي. دا د مړه
شوي سړي د ورور وظیفه ده چې د هغې سره واده وکړي. ۶ د هغوی اول زوی چې پیدا شي،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به د مړ شوي سړي زوی ګڼل کیږي ترڅو د هغه نوم د اسراییلو له قوم څخه ورک نه شي. ﴿٧﴾ مګر که چیرې د مړ شوي سړي ورور نه غواړي چې د هغې سره واده وکړي، نو هغه ښځه دې د ښار مشرانو ته چې د ښار په دروازه کې غونډه کوي ورشي او داسې دې ورته ووايي: زما لېور زما په حق کې خپل مسئولیت نه ترسره کوي، هغه د دې خبرې څخه انکار کوي چې د هغه ورور دې د اسراییلو په قوم کې اولاده ولري. ﴿٨﴾ بیا دې د ښار مشران د هغې لېور راوغواړي او خبرې دې ورسره وکړي. که چیرې بیاهم د هغې سره د واده کولو څخه انکار کوي، ﴿٩﴾ نو د هغه د ورور کونډه دې د ښار د مشرانو په حضور کې هغه ته ورشي، د هغه یوه څپلی دې وباسي، په مخ دې ورته لیاړې توکړي او داسې دې ووايي: د هغه سړي سره چې نه غواړي د خپل مړ ورور کور یې ودان شي داسې کیږي. ﴿١٠﴾ پس له دې به د هغه سړي کورنی په اسراییلو کې د څپلی ویستل شوي د کورنی په نوم مشهوره شي.

## نور قوانین

﴿١١﴾ که چیرې دوه نفره یو د بل سره جنګ کوي او د یو سړي ښځه هڅه وکړي چې خپل میړه د هغه سړي څخه وژغوري او هغه سړی د تناسلي آلې څخه ونیسي، ﴿١٢﴾ نو په هغې باندې هیڅ رحم مه کوئ. د هغې لاس پرې کړئ.

﴿١٣﴾-﴿١٤﴾ دوه قسمه وزنونه یا اندازې چې خلک ورباندې وغولوئ مه استعمالوئ چې یو یې د کوم شي د اخیستلو دپاره استعمال کړئ چې زیاته ګټه ترلاسه کړئ او بل یې د خرڅلاو دپاره چې خلکو ته کم شی ورکړئ. ﴿١٥﴾ د صحیح وزنونو او اندازو څخه کار اخلئ ترڅو تاسو په هغه خاوره کې چې خپل ښښتن خدای یې درکوي زیات عمر ولرئ. ﴿١٦﴾ ښښتن د داسې خلکو څخه چې ټګي او منافقت کوي، کرکه کوي.

## د عمالیقیانو د وژلو امر

﴿١٧﴾ در په یاد کړئ کله چې تاسو د مصر څخه راتللئ، عمالیقیانو په تاسو باندې څه وکړل. ﴿١٨﴾ هغوی د خدای پاک څخه هیڅ ویره نه درلوده، په داسې حال کې چې تاسو ډېر ستړي وئ نو د شا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له خوا يې دربانديې حمله وکړه او هغه نفر چې شاته پاتې وو هغه ټول يې ووژل. ⑲ نو بيا کله چې
خپل ښښتن خدای تاسو ته هغه وطن درکړي او د خپلو ټولو دښمنانو څخه مو چې ستاسو په
شاوخوا کې اوسيږي خوندي وساتي، دا خبره هېره نه کړئ چې عماليقيان بايد په بشپړه توګه د
ځمکې له مخ څخه ورک کړئ، ترڅو هيڅوک نور هغوی ياد نه کړي.

د حاصلاتو نذرانې او عشر

٢٦ ① کله چې تاسو هغه خاوره ونيسئ چې خپل ښښتن خدای يې درکوي او هلته واوسېږئ،
② تاسو هر يو بايد د هر فصل اوله برخه چې تاسو يې ربېئ په يوې ټوکرۍ کې واچوئ او د
خپلو ځانونو سره يې هغه ځای ته يوسئ چې ستاسو ښښتن خدای يې د خپل عبادت دپاره
انتخابوي. ③ بيا د هغه وخت کاهن ته ورشئ او داسې ورته ووايئ: زه نن خپل ښښتن خدای ته دا
اقرار کوم چې زه هغه وطن ته ورداخل شوی يم چې هغه يې زمونږ د نيکونو سره وعده کړې وه چې
مونږ ته به يې راکړي.

④ کاهن به ستاسو څخه ټوکرۍ واخلي او د ښښتن خدای د قربانۍ د ځای په مخ کې به يې
کېږدي. ⑤ بيا به تاسو د ښښتن په حضور کې دا خبرې بيان کړئ: زما نيکه چې د ارام څخه ؤ يو
در په در ګرځېدونکی سړی ؤ. هغه خپله کورنۍ مصر ته بوتله چې هلته واوسيږي. کله چې هغوی
هلته لاړل، د هغوی شمېر کم ؤ، مګر يو لوی او قدرتمند قوم ورڅخه جوړ شو. ⑥ مصريانو زمونږ
سره بده رويه کوله او مونږ يې دې ته مجبورولو چې د غلامانو په توګه کار وکړو. ⑦ بيا مونږ د
خپلو نيکونو ښښتن خدای ته د مرستې دپاره فرياد وکړ. هغه زمونږ فرياد واورېد او ويې ليدل چې
مونږ خومره بې وزلې وو چې مصريانو راباندې ظلم کاوه او مونږ يې مجبورولو چې سخت کار وکړو.
⑧ هغه د زورورو معجزو په ښودلو سره مصريان سخت ووېرول او په خپل لوی قدرت او قوت
سره يې مونږ د مصر څخه ازاد کړو. ⑨ هغه مونږ دلته راوستلو او دا غني او حاصلخېزه ځمکه يې
مونږ ته راکړه. ⑩ نو اوس زه تاته د هغو حاصلاتو اولنۍ برخه راوړم چې تا ښښتن راته راکړي
دي.

ټوکرۍ د ښښتن په حضور کې کېږدئ او هلته عبادت وکړئ. ⑪ بيا لاړ شئ او د هغو ټولو ښو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شیانو په خاطر چې ستاسو څښتن خدای تاسو او ستاسو کورنیو ته درکړي دي جشن ونیسئ. دا یاد ساتئ چې لاویانو او هغه بېګانه خلکو ته چې ستاسو په منځ کې اوسیږي په دې جشن کې بلنه ورکړئ.

## د حاصلاتو لسمه برخه

۱۲ په هر دریم کال د خپلو حاصلاتو لسمه برخه یعنې عشر هغو لاویانو، بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو ته چې ستاسو په ښارونو کې اوسیږي ورکوئ، ترڅو هغوی د خوراک دپاره هرڅه ولري. ۱۳ بیا څښتن ته داسې ووایئ: ما د خپل کور څخه هغه لسمه برخه چې مقدسه ده واخیستله او هغه مې ستا د امر سره سم لاویانو، بېګانه خلکو، یتیمانو او کونډو ته ورکړه. ما ستا د هغو امرونو څخه چې د عشر په هکله دي، د هیڅ یو څخه سرغړونه نه ده کړې او نه مې هېر کړی دی. ۱۴ ما د غمرازی په وخت کې د دې مقدس عشر څخه هیڅ شی نه دی خوړلی. کله چې زه ناپاک وم هغو ته مې لاس نه دی وروړی او نه مې د هغو څخه د مړو په نوم څه ورکړي دي. ای څښتنه، ما ستا اطاعت کړی دی او تا چې ماته هر حکم کړی دی هغه مې په ځای کړی دی. ۱۵ ای څښتنه، د خپل مقدس ځای څخه چې په اسمان کې دی لاندې وګوره او خپل قوم یعنې اسراییلو ته برکت ورکړه. په هغې غنې او حاصلخېزې ځمکې کې هم برکت واچوه چې تا مونږ ته د هغې وعدې سره سم راکړې ده چې زمونږ د نیکونو سره دې کړې وه.

## د څښتن خپل قوم

۱۶ نن تاسو ته خپل څښتن خدای امر کوي چې د هغه ټولو قوانینو ته غاړه کېږدئ. نو په وفادارۍ سره او د زړه له کومې هغو ته غاړه کېږدئ. ۱۷ نن تاسو اقرار وکړ چې څښتن ستاسو خدای دی. تاسو وعده کړې ده چې د هغه اطاعت به کوئ، د هغه د ټولو قوانینو څخه به پیروي کوئ او د هغه په ټولو حکمونو باندې به عمل کوئ. ۱۸ څښتن د خپلې وعدې سره سم نن دا اقرار کړی دی چې تاسو د هغه خاص قوم یئ او تاسو ته امر کوي چې د هغه ټولو قوانینو ته غاړه کېږدئ. ۱۹ څښتن به ستاسو قوم د نورو ټولو قومونو څخه چې هغه پیدا کړي دي لوی کړي او ستاسو صفت او عزت به کیږي. تاسو به د څښتن د وعدې سره سم د هغه خپل قوم یئ.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د عيبال په غره باندې قربانګاه

**۲۷** (۱) بيا حضرت موسیٰ د اسراييلو د مشرانو سره ولاړ ؤ او قوم ته يې وويل: <هغو ټولو
حکمونو ته غاړه کېږدئ چې زه يې نن تاسو ته درکوم. (۲)-(۴) تاسو به ژر د اردن د سيند څخه
تېر شئ او هغې خاورې ته به ورداخل شئ چې ستاسو څښتن خدای وعده کړې ده چې تاسو ته به
يې درکوي. دا هغه خدای دی چې ستاسو نيکونو يې عبادت کاوه. دا غني او حاصلخېزه خاوره ده.
څنګه چې هغې خاورې ته ورننوزئ نو د عيبال غره ته لاړ شئ. هلته لويې لويې تيږې ودروئ او د
ګچ اخيړ ورته ورکړئ. بيا په هغو باندې دا ټول قوانين وليکئ. (۵) په هغه ځای کې يوه قربانګاه
جوړه کړئ، خو د داسې تيږو څخه په کې کار مه اخلئ چې د اوسپنيز سامان په وسيله پرې کړل
شوې وي، (۶) ځکه تاسو چې خپل څښتن خدای ته د قربانۍ ځای جوړوئ بايد د داسې تيږو
څخه جوړ شي چې پرې کړل شوې نه وي. هلته بايد تاسو سوزېدونکې نذرانې وړاندې کړئ (۷)
او هلته بايد خپلې د سلامتۍ نذرانې قرباني کړئ او هغه وخورئ او د خپل څښتن خدای په حضور
کې خوشالي وکړئ. (۸) په هغو تيږو باندې چې د ګچ اخيړ ورته ورکړل شوی دی، په واضيح ډول
د خدای پاک د قوانينو ټولې خبرې وليکئ.>

(۹) بيا حضرت موسیٰ او لاوي کاهنانو د اسراييلو ټول قوم ته وويل: <ای د اسراييلو خلکو، غلي
شئ او غوږ ونيسئ. نن تاسو د خپل څښتن خدای قوم شوئ. (۱۰) نو د هغه اطاعت کوئ او د هغه د
ټولو قوانينو څخه چې زه يې نن درکوم پيروي کوئ.>

## د سرغړونې په خاطر لعنتونه

(۱۱) په هماغه ورځ حضرت موسیٰ د اسراييلو قوم ته حکم وکړ: (۱۲) <کله چې تاسو د اردن له
سيند څخه تېر شوئ، دغه قبيلې دې د جرزيم په غره باندې ودرېږي چې قوم ته برکتونه اعلان کړي:
شمعون، لاوي، يهودا، يساکار، يوسف او بنيامين. (۱۳) دغه قبيلې به د عيبال په غره باندې ودرېږي
کله چې د لعنتونو اعلان کيږي: روبين، جاد، اشير، زبولون، دان او نفتالي. (۱۴) لاويان به د اسراييلو
ټول قوم ته په لوړ اواز سره دا خبرې وکړي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د تیږې، لرګي یا د فلز څخه بت جوړوي او په پټه د هغه عبادت کوي. څښتن د بت پرستۍ څخه کرکه کوي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امین!

۱۶ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د خپل پلار او مور بې احترامي کوي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امین!

۱۷ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې هغه تیږې بېځایه کوي چې د ګاونډي د جایداد حد ورباندې په نښه کیږي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امین!

۱۸ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې ړانده ته غلطه لار ورښايي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امین!

۱۹ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې بېګانه خلک، یتیمان او کونډې د خپلو حقونو څخه محروموي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امین!

۲۰ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د خپل پلار د ښځې سره د زنا کولو په سبب خپل پلار سپکوي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امین!

۲۱ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د حیوان سره جنسي اړیکې ساتي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امين!

٢٢ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د خپلې سکه يا ناسکه خور سره زنا کوي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امين!

٢٣ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د خپلې خواښې سره زنا کوي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امين!

٢٤ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې په پټه قتل کوي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امين!

٢٥ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د يو بې ګناه نفر د قتلولو دپاره پيسې اخلي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امين!

٢٦ د خدای پاک لعنت دې وي په هر هغه چا باندې چې د هغه د دې ټولو قوانينو اطاعت نه کوي.

ټول قوم به په ځواب کې ووايي: امين!

## د اطاعت کولو په خاطر برکتونه

(لاويان ٢٦: ٣ – ١٣ او تثنيه ٧: ١٢ – ٢٤)

٢٨ ١ که چېرې تاسو په وفادارۍ سره د خپل ښتن خدای اطاعت وکړئ او د هغه د ټولو امرونو څخه چې زه يې نن درکوم پيروي وکړئ، هغه به ستاسو قوم د دنيا د نورو ټولو قومونو څخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوی کړي. ﴿۲﴾ د خپل ښبنتن خدای اطاعت کوئ، نو دا ټول برکتونه به ستاسو شي:

﴿۳﴾ ښبنتن به ستاسو په ښارونو او پټیو کې برکت واچوي.

﴿۴﴾ ښبنتن به تاسو ته ډېر اولادونه، پرېمانه فصلونه او ډېرې پادې او رمې درکړي.

﴿۵﴾ ښبنتن به ستاسو د غلو دانو په فصلونو او په هغو خواړو کې برکت واچوي چې تاسو يې د هغو فصلونو څخه تياروئ.

﴿۶﴾ ښبنتن به ستاسو په هر کار کې برکت واچوي.

﴿۷﴾ کله چې ستاسو دښمنان په تاسو باندې حمله کوي، ښبنتن به ستاسو سره مرسته وکړي چې هغوی ته ماتې ورکړئ. هغوی به د يوې لارې څخه حمله کوي، مګر هرې خواته به ستاسو څخه تښتي.

﴿۸﴾ ستاسو ښبنتن خدای به ستاسو په هر کار کې برکت واچوي او ستاسو ګودامونه به د غلو دانو څخه ډک کړي. هغه به تاسو ته په هغه ځمکه کې چې تاسو ته يې درکوي برکت درکړي.

﴿۹﴾ که چېرې تاسو د خپل ښبنتن خدای اطاعت وکړئ او د هغه هر امر په ځای کړئ، هغه به د خپلې وعدې سره سم ستاسو څخه خپل خاص قوم جوړ کړي. ﴿۱۰﴾ بيا به د دنيا ټول قومونه ووينې چې ښبنتن تاسو د خپل قوم په توګه انتخاب کړي ياست او هغوی به ستاسو څخه ووېرېږي. ﴿۱۱﴾ ښبنتن به تاسو ته ډېر اولادونه، ډېر حيوانات او پرېمانه فصلونه په هغې خاوره کې درکړي چې ستاسو د نيکونو سره يې وعده کړې وه چې تاسو ته به يې درکړي. ﴿۱۲﴾ هغه به په صحيح وخت د خپلو غني اسماني زېرمو څخه په تاسو باران اوروي او ستاسو په ټولو کارونو کې به برکت واچوي ترڅو تاسو ډېرو قومونو ته قرض ورکړئ، مګر د هيڅ قوم څخه به څه شی په قرض نه اخلئ. ﴿۱۳﴾ که چېرې تاسو د ښبنتن هغو ټولو امرونو ته چې زه يې نن درکوم په وفادارۍ سره غاړه کېږدئ، ستاسو ښبنتن خدای به ستاسو قوم د نورو قومونو په منځ کې پيرو نه بلکه مشر کړي، تاسو به همېشه بريالي ياست او هيڅکله به نه ناکامېږئ. ﴿۱۴﴾ مګر تاسو بايد هيڅکله او په هيڅ ډول د دغو امرونو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه سرغړونه ونه کړئ او نه د نورو خدايانو عبادت او خدمت وکړئ.

## د نافرماني نتيجه

(لاويان ۲۶: ۱۴ – ۴۶)

۱۵ مګر که چېرې تاسو د خپل څښتن خدای نافرماني وکړئ او په وفادارۍ سره د هغه د ټولو فرمانونو او قوانينو څخه چې زه يې نن درکوم پيروي ونه کړئ، دا ټول لعنتونه به په تاسو باندې راشي:

۱۶ څښتن به ستاسو په ښارونو او پټيو باندې لعنت ووايي.

۱۷ څښتن به ستاسو د غلو دانو په فصلونو او په هغو خواړو باندې لعنت ووايي چې تاسو يې ورڅخه تياروئ.

۱۸ څښتن به تاسو ته د لږو اولادونو، خرابو فصلونو او لږو پادو او رمو په درکولو سره په تاسو باندې لعنت ووايي.

۱۹ څښتن به ستاسو په هر کار باندې لعنت ووايي.

۲۰ که چېرې تاسو بد کارونه وکړئ او څښتن رد کړئ، هغه به تر هغه وخته پورې ستاسو په هر
کار کې آفت، وارخطايي او تکليف رامنځته کوي ترڅو تاسو ژر او په بشپړه توګه تباه شئ. ۲۱ هغه
به تر هغه وخته پورې تاسو په پرله پسې ناروغيو باندې اخته کوي ترڅو ستاسو څخه هيڅوک په
هغې خاورې کې پاتې نه شي چې تاسو به يې ژر ونيسئ. ۲۲ څښتن به تاسو په ساري ناروغيو،
پړسوب او تبې باندې اخته کړي. هغه به وچکالي او چڼاسکې رامنځته کړي او سوزوونکي بادونه به
رانازل کړي چې ستاسو فصلونه له منځه يوسي. دا آفتونه به په تاسو باندې تر هغه وخته پورې وي
ترڅو مړه شئ. ۲۳ باران به هيڅ نه اوريږي او ستاسو ځمکه به د اوسپنې په شان کلکه شي. ۲۴
د باران په ځای به څښتن د ګردونو او شګو طوفانونه تر هغه وخته پورې په تاسو باندې نازلوي
ترڅو تاسو تباه شئ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۞ خښتن به ستاسو دښمنانو ته په تاسو باندې برى ورکړي. تاسو به د يوې لارې څخه په هغوى باندې حمله کوئ، مګر د هغوى څخه به هرې خواته تښتئ او کله چې د دنيا ټول خلک دا پېښې ووينې چې په تاسو باندې تېرېږي، نو هغوى به سخت ووېرېږي. ۞ کله چې تاسو مړه شئ، مرغان او وحشي حيوانات به راځي او ستاسو مړي به خوري او هيڅوک به نه وي چې هغوى وشړي. ۞ خښتن به په تاسو باندې داني راوخېژوي لکه څنګه چې هغه په مصريانو باندې راخېژولې وې. هغه به ستاسو په بدنونو باندې زخمونه راپيدا کړي. تاسو به د داغونو څخه ډک شئ او خارښت به درباندې ولګيږي، مګر هيڅ علاج به يې نه وي. ۞ خښتن به تاسو لېوني کړي، هغه به تاسو ړانده او وارخطا کړي. ۞ تاسو به په رڼا ورځ د ړانده په شان لاس او پښې وهئ او خپله لاره به نه شئ پيدا کولى. په خپل هيڅ کار کې به نه کامياببږئ. په تاسو باندې به همېشه ظلم کيږي او لوټل کېږئ به او هيڅوک به نه وي چې مرسته درسره وکړي.

۞ تاسو به د يوې پېغلې سره کوژدن کوئ، مګر بل څوک به په زور د هغې سره ځملي. تاسو به کور جوړوئ، مګر هيڅکله به په کې ونه اوسيږئ. تاسو به د انګورو باغ جوړوئ، مګر هيڅکله به د هغه انګور ونه خورئ. ۞ ستاسو غوايان به ستاسو په مخکې حلال کړای شي، مګر تاسو به د هغو غوښه ونه خورئ. خره به مو په زور بيول کيږي او تاسو به ورته ګورئ خو بېرته به تاسو ته نه درکول کيږي. ستاسو دښمنان به ستاسو پسونه بوځي او هيڅوک به نه وي چې مرسته درسره وکړي.
۞ ستاسو زامن او لورګانې به ستاسو په مخکې بېګانه خلکو ته د غلامانو په توګه ورکول کېږي. هره ورځ به تاسو خپلې اوښکې تويوئ او بې ځايه به خپلو اولادونو ته سترګې په لاره يئ چې راستانه به شي. ۞ يو بېګانه قوم به ستاسو ټول فصلونه چې تاسو په ډېر زحمت سره کرلي دي اخلي خو تاسو به د دوامداره ظلم او بدې رويې څخه پرته هيڅ شی ترلاسه نه کړئ. ۞ څه چې تاسو وينئ هغه به دومره وېروونکې وي چې تاسو به لېوني شئ. ۞ خښتن به تاسو ته داسې سزا درکړي چې د سر څخه نيولې تر پښو پورې له دردناکو دانو څخه ډک شئ چې هيڅ علاج به يې نه وي.

۞ خښتن به تاسو او هغه پادشاه چې تاسو به يې انتخاب کړئ پرېږدي چې يو داسې بېګانه هېواد ته د اسيرانو په توګه يوړل شئ چې نه تاسو او نه ستاسو نيکونو پېژانده. هلته به تاسو د داسې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدایانو عبادت کوئ چې د لرګیو او تیږو څخه جوړ شوي وي. ۳۷ په هغو هېوادونو کې چې ښمنتن به تاسو په کې خپاره کړي، د هغو ځایونو خلک به د دې پېښو په لیدلو سره چې په تاسو باندې تېرېږي له وېرې ولړزېږي او په تاسو باندې به ملنډې وهي.

۳۸ تاسو به په کافي اندازه تخم وکرئ، مګر لږ حاصل به ورېبئ ځکه چې ملخان به ستاسو فصلونه وخوري. ۳۹ تاسو به د انګورو باغونه جوړ کړئ او د هغو ساتنه به وکړئ، مګر انګور به ورڅخه راټول نه کړئ او د هغو شراب به ونه څښئ، ځکه چې تاکونه به چینجي وخوري. ۴۰ ستاسو په وطن کې به په هرځای کې د زیتونو ونې شنې کیږي، مګر د هغو په تېلو باندې به خپل ځانونه غوړ نه کړئ ځکه چې زیتون به له پخېدلو څخه مخکې راغورزېږي. ۴۱ تاسو به زامن او لورګانې ولرئ، مګر هغوی به له لاسه ورکړئ ځکه چې هغوی به د جنګي اسیرانو په توګه یوړل شي. ۴۲ ستاسو ټولې ونې او فصلونه به د ملخانو له خوا له منځه یوړل شي.

۴۳ هغه بېګانه خلک چې ستاسو په خاوره کې اوسېږي هغوی به نور هم شتمن او قدرتمند شي، خو تاسو به نور هم غریبان او بې وزلي شئ. ۴۴ هغوی به پیسې ولري چې تاسو ته یې په قرض درکړي، مګر تاسو به هیڅ شی نه لرئ چې هغوی ته یې په قرض ورکړئ. په آخر کې به هغوی ستاسو مشران شي.

۴۵ که چېرې تاسو د هغو ټولو قوانینو چې ستاسو ښمنتن خدای یې درکوي اطاعت ونه کړئ، نو هغه به دا ټول آفتونه په تاسو باندې نازل کړي. دا آفتونه به تر هغه پورې په تاسو باندې وي ترڅو تباه شئ. ۴۶ دا به د تل دپاره په تاسو او ستاسو په اولادې باندې د ښمنتن د قضاوت نښه وي.
۴۷ ښمنتن تاسو ته په هر لحاظ برکت درکړ، مګر تاسو په خوشاله زړونو د هغه خدمت ونه کړ.
۴۸ په دې خاطر به ښمنتن ستاسو دښمنان راولېږي چې په تاسو باندې حمله وکړي او تاسو به د غلامانو په توګه د هغوی خدمت کوئ. تاسو به وږي، تږي، لوڅ او د هر شي دپاره به حاجتمند یاست. ښمنتن به ستاسو دښمنان دې ته پرېږدي چې په تاسو باندې سخت ظلم وکړي ترڅو مړه شئ. ۴۹ ښمنتن به د دنیا د بل سر څخه ستاسو په ضد یو داسې قوم راولي چې تاسو به یې په ژبه نه پوهېږئ. هغوی به د عقاب په شان په تاسو باندې راکوز شي. ۵۰ هغوی به بې رحمه وي او په هیڅا به رحم نه کوي، نه په ځوانانو او نه په زړو خلکو. ۵۱ هغوی به ستاسو حیوانات او فصلونه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واخلي او تاسو به له لوږې مړه شئ. هغوی به تاسو ته هیڅ غلې داني، شراب، د زیتونو تېل، پادې او رمې پرېنږدي او تاسو به مړه شئ. ۵۲ هغوی به ټول ښارونه چې په هغه خاوره کې دي چې خپل ښتن خدای یې درکوي محاصره کړي او هغه لوړ او قوي دېوالونه به راوغورزوي چې تاسو وربانديې ډاډه یئ.

۵۳ د هغو تکلیفونو له امله چې ستاسو دښمنان به یې د محاصرې په وخت کې په تاسو بانديې راولي، تاسو به دومره وږي شئ چې حتیٰ خپل اولادونه به چې خپل ښتن خدای درکړي دي هم وخورئ. ۵۴-۵۵ حتیٰ ترټولو مهربان او نرم سړی به هم د محاصرې په وخت کې دومره وږی شي چې د نورو خواړو د نشتوالي له کبله به د خپلو اولادونو غوښې وخوري. هغه به خپل ورور یا خپلې ښځې ته چې مینه ورسره کوي او خپلو پاتې اولادونو ته د هغې د ورکولو څخه په کلکه انکار کوي. ۵۶-۵۷ حتیٰ ترټولو مهربانه او نازکه ښځه چې دومره شتمنه وي چې د نازه خپله پښه په ځمکه نه ږدي، هغه به هم همداسې چلند وکړي. کله چې دښمن د هغې ښار محاصره کړي، هغه ښځه به دومره وږې شي چې په پټه به خپل نوی زېږېدلی ماشوم او د هغه پېروان هم وخوري. هغه به خپل مېړه چې ورسره مینه کوي یا خپل نور اولادونه په هغې کې شریک نه کړي.

۵۸ که چېرې تاسو د خدای پاک د ټولو قوانینو څخه چې په دې کتاب کې لیکلي دي په وفادارۍ سره اطاعت ونه کړئ او د خپل ښتن خدای د جلالي او هیبتناکه نوم احترام ونه کړئ، ۵۹ هغه به تاسو او ستاسو اولاده په وېرووونکو بلاګانو او داسې خطرناکو ناروغیو اخته کړي چې علاج به یې نه کېږي. ۶۰ هغه به په تاسو بانديې هغه ټول مرضونه راولي چې په مصر کې ورڅخه وېرېدلئ او هیڅکله به روغ نه شئ. ۶۱ حتیٰ هغه به تاسو په هر ډول ناروغیو او بلاګانو بانديې چې د خدای پاک د قوانینو په دې کتاب کې ورڅخه یادونه نه ده شوې هم اخته کړي او تباه به شئ. ۶۲ که څه هم یو وخت ستاسو شمېر د اسمان د ستورو په شان زیات ؤ، مګر ستاسو څخه به یوازې څو تنه ژوندي پاتې شي ځکه چې تاسو د خپل ښتن خدای اطاعت ونه کړ. ۶۳ لکه څنګه چې ښتن خوشاله ؤ چې ستاسو سره نېکي وکړي او ستاسو شمېر زیات کړي، همداسې به هغه خوشاله شي چې تاسو له منځه یوسي او تباهي دربانديې راولي. تاسو به د هغې خاورې څخه چې ژر به یې ونیسئ بېخي وویستل شئ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶۴ ښځينه به تاسو د دنيا د يو سر څخه تر بل سره پورې په ټولو قومونو کې خپاره کړي او هلته به د داسې خدايانو عبادت کوئ چې د لرګيو او تيږو څخه جوړ شوي وي، د داسې خدايانو چې نه تاسو او نه ستاسو نيکونو مخکې د هغو عبادت کړی وي. ۶۵ تاسو به په هيڅ ځای کې ارامي نه مومئ، همېشه به د کور په ارمان يئ. ښځينه به تاسو په انديښنو، نااميدئ او مايوسئ کې غرق کړي. ۶۶ ستاسو ژوند به همېشه په خطر کې وي. تاسو به شپه او ورځ سخت وېرېږئ او د مرګ په دوامداره وېره کې به ژوند کوئ. ۶۷ تاسو چې هر شي ته ګورئ زړونه به مو د وېرې له لاسه درزيږي. هر سهار به وايئ، کاشکې شپه وای او هره شپه به وايئ، کاشکې سهار وای. ۶۸ ښځينه به تاسو بېرته په کشتيو کې مصر ته ولېږي که څه هم هغه فرمايلي دي چې تاسو به هيڅکله نه مجبوره کېږئ چې بيا هلته لاړ شئ. هلته به تاسو د دې هڅه کوئ چې خپل ځانونه په خپلو دښمنانو باندې د غلامانو په توګه خرڅ کړئ، مګر هيڅوک به تاسو نه اخلي.>

## په موآب کې د اسراييلو سره د ښځينه لوظ

**۲۹** ۱ دا د هغه لوظ شرايط دي چې ښځينه حضرت موسیٰ ته امر کړی ؤ چې د اسراييلو د خلکو سره يې د موآب په خاوره کې وکړي. دا د هغه لوظ څخه جدا ؤ چې ښځينه د هغوی سره د سينا د غره سره کړی ؤ.

۲ حضرت موسیٰ د اسراييلو ټول خلک راوغوښتل او ورته ويې فرمايل: <تاسو په خپله وليدل چې ښځينه په مصر کې په فرعون، د هغه په درباريانو او د هغه په ټول هېواد باندې څه وکړل. ۳ تاسو هغه هيبتناکه بلاګانې، معجزې او هغه عجيبه عجيبه کارونه وليدل چې ښځينه کړي وو. ۴ مګر تر نن ورځې پورې هغه تاسو دې ته نه يئ پرېښې چې په هغه څه باندې پوه شئ چې په تاسو باندې تېر شوي دي. ۵ ښځينه څلوېښت کاله تاسو ته په دښته کې لارښودنه وکړه او په دې موده کې ستاسو کالي او څپلی هيڅ زاړه نه شول. ۶ تاسو د خوراک دپاره ډوډۍ نه درلوده او نه مو د څښاک دپاره شراب يا بير درلودل، مګر ښځينه تاسو ته خاص خواړه برابر کړل د دې دپاره چې تاسو په دې باندې پوه شئ چې هغه ستاسو خدای دی. ۷ کله چې مونږ دلته راغلو، د حشبون پادشاه سيحون او د باشان پادشاه عوج په مونږ باندې حمله وکړه. مګر مونږ هغوی ته ماتې ورکړه،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۸) د هغوی خاوره مو ونیوله او هغه مو د روبین او جاد د قبیلو او منسي د نیمې قبیلې ترمنځ ووېشله. (۹) د دې لوظ د ټولو شرایطو څخه په وفادارۍ سره اطاعت وکړئ ترڅو تاسو په خپل هر کار کې بریالي اوسئ.

(۱۰)-(۱۱) نن تاسو ټول یعنې ستاسو قبیلوي مشران، سپین ږیري او ماموران، ستاسو نارینه، ښځې او ماشومان او هغه بېګانه خلک چې ستاسو په منځ کې اوسېږي او ستاسو دپاره لرګي ماتوي او اوبه درته راوړي د خپل څښتن خدای په حضور کې ولاړ یاست. (۱۲) تاسو نن دلته د دې دپاره ولاړ یاست چې په هغه لوظ کې شامل شئ چې خپل څښتن خدای یې ستاسو سره کوي او د هغه شرایط قبول کړئ. (۱۳)-(۱۵) په دې لوظ کې څښتن دا وعده کړې ده چې تاسو به د هغه قوم یئ او هغه به ستاسو خدای وي. دا وعده هغه اول ستاسو د نیکونو یعنې حضرت ابراهیم، حضرت اسحاق او حضرت یعقوب سره کړې وه او هماغه وعده نن ستاسو سره کوي. خو دا یوازې ستاسو سره نه بلکه ستاسو د اولادې سره یې هم کوي.

(۱۶) ستاسو په یاد دي چې په مصر کې مو څنګه ژوند کاوه او څنګه د نورو قومونو د سیمې په لاره باندې تېر شولو. (۱۷) تاسو د هغوی د کرکې وړ بتان ولیدل چې د لرګیو، تیږو، سپینو او سرو زرو څخه جوړ شوي وو. (۱۸) پام کوئ چې هیڅ سړی، ښځه، کورنۍ یا قبیله چې نن دلته ولاړ دي زمونږ د څښتن خدای څخه به مخ نه اړوي او نه به د نورو قومونو د خدایانو عبادت کوي. که چېرې ستاسو څخه کوم یو د بتانو عبادت کوي هغه به د داسې بوټي په شان وي چې ترخه او زهرجنه مېوه نیسي. (۱۹) ګورئ چې نن باید دلته داسې څوک نه وي چې د دې لوظ خبرې واوري او بیاهم خپل ځان ته دا ډاډګیرنه ورکړي چې حتیٰ که چېرې هغه په سرزورۍ سره هم په خپله لاره لاړ شي، د هغه هر کار به په ښه ډول پرمخ ځي. داسې کار به تاسو ټول ښه او بد یوشان تباه کړي. (۲۰) څښتن به داسې سړی ونه بخښي، بلکه د هغه په ضد به د هغه قهر او غضب راوپارېږي او هغه ټول آفتونه به چې په دې کتاب کې لیکل شوي دي په هغه باندې نازلیږي ترڅو څښتن د هغه نوم او نښان د ځمکې له مخ څخه ورک کړي. (۲۱) څښتن به د اسراییلو ټولو قبیلو ته هغه یو عبرت وګرځوي او د هغو ټولو لعنتونو سره سم به په هغه باندې آفت نازل کړي کوم چې په هغه لوظ کې شامل دي چې د څښتن د شریعت په دې کتاب کې لیکل شوی دی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲-۲۳ ښبنتن به ستاسو هېواد په مرضونو او آفتونو باندې ووهي. ستاسو اولاده او د لېرې
هېوادونو بېګانه خلک به ووینې چې ستاسو خاوره د مالګې او ګوګړو په یوه سوزوونکې دښتې بدله
شوې ده چې هلته نه څه کرل کېږي، نه به تېغونه وهي او نه به په کې څه راشنه کېږي. ستاسو ځمکه
به د سدوم، عموره، ادمه او صبوئیم د ښارونو په شان وي چې کله ښبنتن سخت په قهر شو او هغه
یې له منځه یوړل. ۲۴ بیا به د ټولې دنیا خلک داسې پوښتنې کوي: ښبنتن ولې د هغوی په هېواد
باندې داسې وکړل؟ د دې سخت غضب دلیل څه دی؟ ۲۵ او ځواب به داسې وي: دا ځکه چې دې
خلکو د خپلو نیکونو د ښبنتن خدای لوظ مات کړی دی، هغه لوظ چې ښبنتن د هغوی سره هغه
وخت کړی ؤ چې کله یې هغوی له مصر څخه راوویستل. ۲۶ هغوی د نورو خدایانو عبادت کاوه
چې مخکې یې هیڅکله نه ؤ کړی او ښبنتن د هغو عبادت منع کړی ؤ. ۲۷ نو ښبنتن په خپل قوم
باندې په قهر شو او د هغوی په خاوره باندې یې هغه ټول آفتونه نازل کړل چې په دې کتاب کې
لیکل شوي دي. ۲۸ ښبنتن سخت په قهر شو او د خپل سخت قهر په وخت کې یې هغوی د خپلې
خاورې څخه وویستل او پردی خاورې ته یې وشړل او هغوی اوس هم هلته دي.

۲۹ ځینې داسې خبرې شته چې زمونږ ښبنتن خدای زمونږ څخه پټې ساتلې دي، مګر هغه خپل
شریعت راته ښکاره کړی دی او مونږ او زمونږ اولاده باید د تل دپاره د هغه شریعت اطاعت وکړو.

## ښبنتن به تاسو بېرته خپلې خاورې ته راولې

۳۰ ۱ تاسو ته مې اوس د برکت او لعنت د انتخابولو حق درکړی دی. کله چې په تاسو باندې
دا ټولې پېښې وشي او تاسو د هغو قومونو په منځ کې ژوند وکړئ چې خپل ښبنتن خدای هلته شړلې
یاست، نو زما هغه خبره به در په یاده شي. ۲ که چېرې تاسو او ستاسو اولاده بېرته ښبنتن ته
رجوع وکړئ او د زړه له کومې د هغه د ټولو امرونو چې نن یې درکوم اطاعت وکړئ، ۳ بیا به
خپل ښبنتن خدای په تاسو باندې رحم وکړي. هغه به تاسو د هغو قومونو څخه چې تاسو یې په کې
خپاره کړي یاست بېرته راولي او بېرته به مو خوشبخته کړي. ۴ حتیٰ که تاسو د دنیا په بل سر
کې هم اوسئ، ستاسو ښبنتن خدای به تاسو راپیدا کړي او بېرته به مو راولې، ۵ ترڅو ستاسو
اولاده بیا هغه خاوره ترلاسه کړي چې یو وخت د هغوی نیکونه په کې اوسېدل. هغه به ستاسو اولاده



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپلو نیکونو څخه نوره هم خوشبخته او زیاته کړي. ﴿۶﴾ تاسو او ستاسو اولادې ته به خپل ښبنتن خدای منونکي زړونه درکړي ترڅو د زړه له کومي د هغه سره مینه وکړئ او په هغه خاوره کې خپل ژوند وکړئ. ﴿۷﴾ هغه به دا ټول لعنتونه ستاسو په دښمنانو باندې چې ستاسو څخه یې کرکه کوله او تاسو یې ځورولئ راولي ﴿۸﴾ او تاسو به بیا د ښبنتن او د هغه د ټولو امرونو اطاعت کوئ چې زه یې نن درکوم. ﴿۹﴾ ښبنتن به تاسو ته په خپلو ټولو کارونو کې زیات بریالیتوبونه درکړي. تاسو به ډېر اولادونه او حیوانات لرئ او ستاسو پټې به پرېمانه فصلونه کوي. هغه به ستاسو په خوشبخته کولو باندې هماغسې خوشاله وي لکه څنګه چې ستاسو د نیکونو په خوشبخته کولو باندې خوشاله ؤ، ﴿۱۰﴾ مګر تاسو به مجبور یئ چې د ښبنتن اطاعت وکړئ او د هغو ټولو قوانینو څخه پیروي وکړئ چې په دې کتاب کې لیکل شوي دي. تاسو به مجبور یئ چې د زړه له کومي هغه ته رجوع وکړئ.

## مرګ نه بلکه ژوند انتخاب کړئ

﴿۱۱﴾ هغه امرونه چې نن یې تاسو ته درکوم په هغو باندې پوهېدل او عمل کول ډېر سخت کار نه دی. ﴿۱۲﴾ هغه امرونه پورته په اسمان کې نه دي ترڅو تاسو دې ته مجبور شئ چې داسې پوښتنه وکړئ: څوک به پورته وخېژي چې هغه مونږ ته لاندې راوړي ترڅو هغه واورو او عملورباندې وکړو؟ ﴿۱۳﴾ نه هغه د دریاب په بلې غاړې باندې دي ترڅو دې ته مجبور شئ چې داسې پوښتنه وکړئ: څوک به د دریاب څخه تېر شي چې هغه مونږ ته راوړي ترڅو هغه واورو او عمل ورباندې وکړو؟ ﴿۱۴﴾ نه، هغه دلته ستاسو سره دي. په هغو باندې پوهېږئ او هغه ویلی شئ، نو تاسو باید ورباندې عمل وکړئ.

﴿۱۵﴾ نن زه تاسو ته د خوشبختۍ او بدبختۍ او ژوند او مرګ د انتخابولو حق درکوم. ﴿۱۶﴾ که چېرې تاسو د خپل ښبنتن خدای امرونو ته چې زه یې نن درکوم غاړه کېږدئ، که چېرې د هغه سره مینه وکړئ، اطاعت یې وکړئ او د هغه د ټولو قوانینو څخه پیروي وکړئ، بیا به تاسو خوشبخته شئ او یو لوی قوم به درڅخه جوړ شي. تاسو ته به خپل ښبنتن خدای په هغه خاوره کې چې تاسو به یې ژر ونیسئ برکت درکړي. ﴿۱۷﴾ مګر که چېرې سرغړونه وکړئ او غوږ ورته ونه نیسئ او نور خلک تاسو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې لارې کړي او د نورو خدايانو عبادت وکړئ، ⑱ نو تاسو به تباه شئ. زه تاسو ته اوس همدلته
خبرداری درکوم. تاسو به په هغه خاوره کې چې د اردن د سيند په بلې غاړې باندې پرته ده او ژر به
يې ونيسئ ډېره موده ژوند ونه کړئ. ⑲ زه اوس تاسو ته د ژوند او مرګ، د خدای پاک د برکت او
لعنت د انتخابولو حق درکوم او زه اسمان او ځمکه د دې خبرې دپاره شاهدان نيسم چې تاسو کوم
شی انتخابوئ. تاسو ژوند انتخاب کړئ ترڅو تاسو او ستاسو اولاده ژوندي پاتې شئ. ⑳ خپل
څښتن خدای ته پوره وفادار اوسئ، د هغه سره مينه کوئ او څه چې درته فرمايي هغه کوئ. يوازې
څښتن دی چې ژوندون ورکولی شي. هغه به تاسو ته په هغه خاوره کې چې ستاسو د نيکونو حضرت
ابراهيم، حضرت اسحاق او حضرت يعقوب سره يې وعده کړې ده زيات عمر درکړي.>

## يوشع د اسراييلو مشر ټاکل کيږي

(شمېر ۲۷: ۱۲ – ۲۳)

۳۱ ① حضرت موسیٰ د اسراييلو د قوم سره خپلو خبرو ته دوام ورکړ ② او ويې فرمايل:
<زه اوس د يوسلو شل کالو په عمر يم او نور د دې توان نه لرم چې ستاسو مشري وکړم او څښتن
ماته فرمايلي دي چې ته به د اردن له سيند څخه تېر نه شې. ③ ستاسو څښتن خدای به په خپله
ستاسو په مخ کې روان وي او هغه قومونه به چې هلته اوسيږي له منځه يوسي، ترڅو تاسو د هغوی
خاوره ونيسئ. لکه څنګه چې څښتن فرمايلي دي يوشع به ستاسو مشر وي. ④ څښتن به هغه
خلک داسې له منځه يوسي لکه څنګه چې هغه د اموريانو پادشاهانو سيحون او عوج ته ماتې ورکړه
او د هغوی هېواد يې وران کړ. ⑤ څښتن به تاسو ته په هغوی باندې برى درکړي او تاسو بايد د
هغوی سره هماغه شان عمل وکړئ لکه څنګه چې ما درته ويلي دي. ⑥ قوي او زړور اوسئ. د
هغوی څخه مه وېرېږئ. ستاسو څښتن خدای به همېشه ستاسو سره وي او تاسو به هيڅکله يوازې
نه پرېږدي.>

⑦ بيا حضرت موسیٰ يوشع راوغوښت او د اسراييلو د ټول قوم په حضور کې يې ورته وفرمايل:
<قوي او زړور اوسه. د هغې خاورې په نيولو کې به ته د دغو خلکو مشري کوې چې څښتن يې د
هغوی د نيکونو سره وعده کړې ده. ⑧ څښتن به په خپله تاته لارښودنه کوي او درسره مل به وي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به ستا سره مرسته کوي او تا به يوازې نه پرېږدي. نو جرأت له لاسه مه ورکوه او وېرېږه مه.>

## د شريعت د حکمونو لوستل

۹ نو حضرت موسیٰ د شريعت حکمونه وليکل او هغو لاوي کاهنانو ته چې د ښتن د لوظ
صندوق يې انتقالاوه او د اسراييلو ټولو مشرانو ته يې ورکړل. ۱۰ حضرت موسیٰ هغوی ته داسې
امر وکړ: <د هر اووم کال په آخر کې يعني کله چې د قرضونو د بخښلو کال راځي هغه د جونګړو په
اختر کې په لوړ اواز لولئ. ۱۱ دا په هغه وخت کې د اسراييلو قوم ته لولئ کله چې هغوی د ښتن
خدای د عبادت دپاره هغه ځای ته راځي چې هغه يې انتخابوي. ۱۲ ټول سړي، ښځې او ماشومان
او هغه بېګانه خلک چې ستاسو په ښارونو کې اوسېږي راوغواړئ، ترڅو هرڅوک هغه واوري او د
خپل ښتن خدای احترام کول زده کړي او په وفادارۍ سره د هغه د ټولو قوانينو څخه پيروي وکړي.
۱۳ په دې ډول به ستاسو اولاده چې د خپل ښتن خدای شريعت يې نه دی اورېدلی واوري. نو
هغوی به ټول ژوند په هغه خاوره کې چې تاسو به يې ژر د اردن د سيند په بله غاړه ونيسئ د ښتن
اطاعت کول زده کړي.>

## حضرت موسیٰ ته د ښتن اخرنی لارښودنې

۱۴ بيا ښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <ستا د مړينې وخت رانژدې شوی دی. يوشع راوغواړه
او مقدسې خيمې ته يې راوله ترڅو هغه د اسراييلو مشر وټاکم.> حضرت موسیٰ او يوشع خيمې ته
لاړل ۱۵ او ښتن هغوی ته هلته په يوې وريځې کې چې د خيمې د دروازې په سر باندې ولاړه
وه ښکاره شو.

۱۶ ښتن حضرت موسیٰ ته وفرمايل: <ته به ژر مړ شې او ستا د مړينې څخه وروسته به خلک
زما سره بې وفايي وکړي او هغه لوظ به مات کړي چې ما د هغوی سره کړی دی. هغوی به ما
پرېږدي او په هغه هېواد کې به چې هغوی ورداخلېږي د پرديو خدايانو عبادت کوي. ۱۷ کله چې
داسې وشي نو زه به په هغوی باندې په قهر شم، د هغوی څخه به مخ واړوم او هغوی به تباه شي. ډېر
هيبتناکه آفتونه به په هغوی باندې نازل شي او هغوی به په دې پوه شي چې دا پېښې ځکه ورباندې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راځي چې زه يعنې د هغوی خدای نور د هغوی سره نه يم. ۱۸ په هغه وخت کې به زه د هغوی سره د مرستې کولو څخه انکار وکړم ځکه چې هغوی بد کار کړی دی او د نورو خدايانو عبادت يې کړی دی.

۱۹ موسیٰ او يوشع، اوس دا روحاني سندره وليکئ. موسیٰ، هغه اسراييليانو ته ورزده کړه. که چېرې هغوی دا سندره زده کړه نو هغوی به پوه شي چې زه ورڅخه څه غواړم چې ويې کړي او هغوی سره به کومه بهانه نه وي چې زما د امر څخه سرغړونه وکړي. ۲۰ لکه څنګه چې مې د هغوی د نيکونو سره وعده کړې ده، زه به هغوی دې غني او حاصلخېزې ځمکې ته بوځم. څومره خواړه چې هغوی غواړي هلته به ورته ورسېږي او هغوی به ارام ژوند لري. مګر هغوی به زما څخه مخ واړوي او د نورو خدايانو عبادت به کوي. هغوی به زما څخه منکر شي او زما لوظ به مات کړي ۲۱ او ډېر هيبتناکه آفتونه به ورباندې نازل شي. مګر بياهم دا سندره به ويل کېږي او دا به د هغوی په ضد يوه نښه وي. حتیٰ اوس، مخکې له دې چې زه هغوی هغه هېواد ته بوځم چې ما يې د ورکولو وعده ورسره کړې ده، زه پوهېږم چې هغوی څه پلان سنجوي.>

۲۲ په هماغه ورځ حضرت موسیٰ سندره وليکله او د اسراييلو قوم ته يې ورزده کړله.

۲۳ بيا څښتن د نون زوی يوشع مشر وټاکه او ورته ويې فرمايل: <قوي او زړور اوسه. ته به د اسراييلو قوم هغه هېواد ته بوځې چې ما يې د هغوی سره وعده کړې ده او زه به ستا سره مل يم.>

۲۴ حضرت موسیٰ د شريعت حکمونه په کتاب کې وليکل او پام يې کاوه چې څه شی ورڅخه پاتې نه شي. ۲۵ کله چې هغه وزګار شو، هغه هغو لاوي کاهنانو ته چې د څښتن د لوظ صندوق يې انتقالاوه داسې وفرمايل: ۲۶ <د شريعت دا کتاب يوسئ او د خپل څښتن خدای د لوظ د صندوق په څنګ کې يې کېږدئ. دا کتاب به د دې خبرې يو ثبوت وي چې تاسو پوهېږئ چې څښتن ستاسو څخه څه غواړي چې ويې کړئ. ۲۷ زه په دې پوهېږم چې هغوی څومره سرزوري او سرکش خلک دي. هغوی زما د ژوندانه په دوران کې د څښتن په مقابل کې سرکشي کړې ده او زما د مړينې څخه وروسته به نور هم سرکش شي. ۲۸ خپل ټول قبيلوي مشران او ماموران زما په مخکې راغونډ کړئ ترڅو هغوی ته دا خبرې وکړم. زه به اسمان او ځمکه د اسراييلو د قوم په مقابل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې خپل شاهدان ونیسم. ۲۹ زه په دې پوهېږم چې زما د مرګ څخه وروسته به قوم بېخي فاسد شي او د هغې لارې څخه به چې ما ورته حکم کړی دی وګرځي. د وخت په تېرېدو سره به هغوی د آفت سره مخامخ شي ځکه چې هغوی به څښتن د هغو کارونو په سبب کوم چې هغه منع کړي دي په قهر کړي.>

## د حضرت موسیٰ روحاني سندره

۳۰ بیا حضرت موسیٰ ټوله سندره وویله او د اسراییلو ټول قوم ورته غوږ نیولی ؤ.

# ۳۲

۱ <ای ځمکې او اسمانه زما خبرې واورئ

واورئ په غور سره چې زه څه وایم

۲ زما تعلیم دې راپرېوزي لکه څاڅکو د باران په شان

او په ځمکه دې راپرېوزي لکه د پرخې په شان

د باران په شان دې اوري زما خبرې په تنکیو بوټو باندې

د نرې باران په شان دې رااورېږي په تنکیو واښو باندې

۳ زه به کړمه د څښتن د نوم ستاینه

او خپل قوم دې یې لویي بیانوي

۴ څښتن دی د غښتلې ګټ په شان

ټول کارونه یې کامل دي او عادل دي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو خدای دی وفادار او دی ربښتینی

کړي کارونه دی صحیح او باانصافه

۵ مګر تاسو بې وفا یئ او د دغې لایق نه یئ

چې قوم د هغه اوسئ

ستاسو قوم ګناهکار او چلباز قوم دی

۶ ای احمقانو بې شعوره خلکو

آیا دا لار ده چې ښتن سره کوئ دا رویه؟

ستاسو پلار دی او هغه ستاسو خالق دی

دی جوړ کړی هغه ستاسو څخه قوم

۷ د تېر شوي وخت په هکله فکر وکړئ

هغه وخت چې دی تېر شوی ډېر پخوا

د خپل مور او پلار نه وکړئ تپوسونه چې څه وشول

د تېر وخت په هکله وکړئ تپوسونه له سپین ږیرو

۸ قومونو ته ورکړې خدای تعالیٰ دي خپلې ځمکې

د قومونو د هستوګنې په خاطر هغه ټاکلې دي ځایونه

هر یو قوم ته یې مقررې کړې ساتونکې فرښتې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ خو خپل ځان ته يې انتخاب کړه اولاده د يعقوب

۱۰ هغه وموندل په دښته کې هغوی

چې سرګردانه ګرځېدل

یوه خوشې او یوه داسې صحرا

چې زيات بادونه لري

ده ساتنه د هغو کړه او په هغوی يې پام کاوه

لکه د خپلو سترګو د کسیو په شان

۱۱ څښتن دی لکه عقاب چې خپله ځاله ساتي

او الوتل کوي په سر باندې د خپلو بچو

همېشه څښتن تيار دی چې خپاره کړي خپل وزرونه

او چې راونيسي خپل خلک چې کله لوېږي هغوی

۱۲ په سفر کې د خپل قوم مشري وکړله څښتن خپله يوازې

مرسته نه وه د هغه سره د بل خدای

۱۳ څښتن پرېښودل هغوی چې حکومت وکړي

د کنعان په لوړو ځمکو باندې

او څه چې پټيو کې شنه کېدل دوی به خوړل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه هغوی ته د ګټونو منځ کې شات ورکړل

د زیتون ونې یې شوې شنې په ډېرینه ځمکه

۱۴ د هغوی غواوو او وزو به ورکولې شیدې او مستې

هغوی لرل ډېر ښه پسونه او وزې او پادې

او هغوی لرل ډېر ښه غنم او شراب

۱۵ د ښښتن قوم شتمن شو خو یاغي شو

هغوی چاغ وو او ډوډی یې ډېره خوړله

هغوی مخ واړاوه له خپل خالقه خدایه

او هغوی خپل قوي نجات ورکوونکی رد کړ

۱۶ بت پرستی د هغوی ښښتن کړ په غضب

په خپلو بدو عملونو یې هغه کړ په قهر

۱۷ هغوی وړاندې قرباني کړې شیطانانو ته

خوشې خدایانو ته چې هیڅکله یې کومک ورسره نه دی کړی

هغو نویو خدایانو ته چې هیڅکله یې نیکونو عبادت د هغو نه ؤ کړی

۱۸ هغوی هېر کړلو خپل خدای

خپل قوي نجات ورکوونکی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه څوک چا چې ژوند ورکړی دوی ته

١٩ چې ښځښتن کله دا ولیدل په قهر شو

او کړل رد یې خپل زامن او خپلې لوڼې

٢٠ هغه وویل زه نور نه کومه مرسته د هغوی

بیا به وګورم څه کیږي په دې قوم

چې سرزوری بې وفا دی

٢١ هغوی زما قهر د خپلو بتانو په سبب راپارولی دی

زما غیرت یې د خپل تش په نامه خدایانو په سبب راپارولی دی

هغه داسې خدایان دي چې رښتیني خدایان نه دي

نو زه به کار واخلم د یو تش په نامه قوم څخه چې یې په قهر کړم

زه به غیرت د دوی راوپاروم د احمقانو په قوم

٢٢ زما قهر به د اور په شان لمبې ووهي

او فصلونه به په ځمکه باندې وسوزوي

هغه به ورسیږي د مړو دنیا ته

او د غرونو تهدابونه به وسوزوي

٢٣ نه ختمیدونکې آفتونه به نازل کړم په هغوی باندې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپل ټول غشي به ګوزار کړم په هغوی باندې

٢۴ له لوږې او تبې به هغوی مړه شي

د هیبتناکو ناروغیو له کبله به هغوی مړه شي

زه به نازل کړمه وحشي حیوانات

چې حمله وکاندي هغوی باندې

او زه به نازل کړم زهرجن ماران چې هغوی وچیچي

٢۵ په سبب د جنګ به مړي وي پراته کوڅو کې

او په کورونو به راپرېوزي وحشت

پېغلې او ځوانان به مړه شي

نه به کوچنیان پاتې شي نه به سپین ږیري

٢۶ ما به ببخې وای تباه کړي هغوی

ترڅو چې پاتې نه وای د هیچا یاد کې هغوی

٢٧ خو زه له دې نه وېرېدم چې دښمنان به د هغوی وایي

چې هغوی ماتې ورکړې زما قوم ته

خو دا زه وم چې په خپله مې هغوی ته ماتې ورکړه

٢٨ اسراییل یو بې شعوره قوم دی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هيڅ عقل نشته دوی کې

۲۹ په دې نه پوهيږي دوی چې ولې ماتې وخوړله

په دې نه پوهيږي دوی چې څه ورپېښ شول

۳۰ د اسراييلو زرو تنو ولې ماتې وخوړله

د دښمن د يوه تن له لاسه

او لسو زرو وخوړله ماتې له دوه تنو؟

خپل ښښتن خدای له هغوی څخه خپل مخ ؤ اړولی

هغوی خپل قوي خدای وو پريښې

۳۱ دښمنان د دوی پوهيږي چې د هغوی خپل خدايان کمزوري دي

او د اسراييلو د خدای په شان قوي نه دي

۳۲ د سدوم او عموره په شان فاسد دي د هغوی دښمنان

هغوی دي په شان د هغو تاکونو چې زهرجن او ترخه انګور نيسي

۳۳ داسې شرابو په شان چې وي جوړ شوي

د چمچه مار له زهرو

۳۴ دا د ښښتن په ياد دي چې دښمنانو د هغوی څه وکړل

هغه کوي انتظار صحيح موقعې ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې سزا ورکړي ورته

۳۵ څښتن به واخلي بدله له هغوی

او سزا به ورکړي ورته

وخت به راشي د هغوی د پرزېدلو

د هغوی د تباهۍ ورځ رانژدې ده

۳۶ چې کله ووینې څښتن

چې قوت د ده د قوم له منځه تللی

نو د هغوی سره به وکړي انصاف

کله چې ووینې څښتن

چې هغوی څومره بې وزلي دي

هغه به وکړي دلسوزي په هغو خلکو

چې خدمت د هغه کاندي

۳۷ بیا به څښتن وکړي پوښتنه داسې له خپله قومه څخه

چېرته دي هغه غښتلي خدایان چې مو باور پرې درلود؟

۳۸ تاسو هغوی ته ورکوله د خوراک دپاره

د خپلو قربانیو وازګه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ښښباک دپاره مو شراب ورکول

اوس پرېږدئ چې دوی راشي

او کومک درسره وکړي

او راشي چې ساتنه ستاسو وکړي

۳۹ آیا دا نه پوهېږئ؟

یوازینی خدای یم زه چې بل خدای نشته

مرګ او ژوند زما په لاس کې دی

ټپي کول او روغول زما په لاس کې دي

او نه شي کولی هیڅوک مخالفت زما د کار سره

۴۰ لکه څنګه چې زه یمه تل ژوندی خدای

زه خپل لاس پورته کوم او دا وعده کومه

۴۱ زه به تېره کړمه خپله ځلانده توره

او زه به انصاف وکړم

زه به له خپلو دښمنانو څخه واخلم بدل

او هغو خلکو ته به ورکړمه سزا

څوک چې کرکه کړي له ما



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۲ وبه ښخیږي د دوی وینه زما د غشو ښخه

او وبه وژني زما توره هغه خلک

چې زما مخالفت کړي

زه به ټول اسیران مړه کړم

او زه به پرې کړمه سرونه

د دښمنانو د مشرانو

۴۳ ای اسمانونو! خوشالي وکړئ د ښبنتن د قوم سره

ټولو خدایانو! د ښبنتن په مخکې وکړئ سجده

هغه له خپلو دښمنانو ښخه اخلي بدل

چا چې وژلی دی قوم د هغه

او پاکوي د خپل قوم ځمکه د هغې ناپاکی ښخه

چې پیدا شوې په سبب د ګناهونو د دوی>

۴۴-۴۵ حضرت موسیٰ دا سندره وویله ترڅو د اسراییلو خلک یې واوري او یوشع ورسره مرسته وکړه. کله چې حضرت موسیٰ وزګار شو، ۴۶ هغه وفرمایل: <تاسو به هرو مرو د دغو ټولو امرونو اطاعت کوئ چې نن ما درکړي دي. دا خپلو اولادونو ته تکراروئ ترڅو هغوی په وفادارۍ سره د خدای پاک ټولو تعلیمونو ته غاړه کېږدي. ۴۷ دا تعلیم تشې خبرې نه دي بلکه ستاسو ژوند دی. د هغه په وسیله کولی شئ چې په هغه خاوره کې ډېره موده ژوند وکړئ چې د اردن د سیند په بلې غاړې باندې پرته ده او تاسو به یې ژر ونیسئ.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## حضرت موسیٰ د نبو د غره په سر باندې وفات کیږي

۴۸ په هماغه ورځ ښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: ۴۹ <د عباریم غرونو ته چې د اریحا
ښار ته مخامخ د موآب په خاوره کې دي لاړ شه. د نبو غره ته وروخېژه او د کنعان خاورې ته
وګوره چې زه به يې ژر د اسراييلو قوم ته ورکړم. ۵۰ ته به په هغه غره باندې مړ شې لکه څنګه
چې ستا ورور هارون د هور په غره باندې مړ شو. ۵۱ ځکه چې تاسو دواړو زما سره د اسراييلو د
قوم په حضور کې د مریبه د چینې سره د صین په دښته کې چې د قادش ښار ته نژدې ده بې وفايي
وکړه. زه خدای يم، خو تاسو هلته د اسراييليانو په مخکې زما سره داسې د عزت او احترام له مخې
رویه ونه کړه چې زه يې لايق يم. ۵۲ ته به هغه خاوره چې زه يې د اسراييلو قوم ته ورکوم د يو
لېرې ځای څخه ووينې، مګر هغې ته به ورداخل نه شې.>

## حضرت موسیٰ د اسراييلو قبيلو ته برکتونه ورکوي

**۳۳** ۱ دا هغه برکتونه دي چې د خدای پاک نبي حضرت موسیٰ د خپل مرګ څخه مخکې د
اسراييلو قوم ته ورکړل:

۲ <ښتن راغی د سینا له غره نه

هغه ادوم باندې د لمر په شان راپورته شو

او وځلېده د فاران له غره نه په خپل قوم باندې

د هغه سره لس زره فرښتې وې

او په ښي لاس کې يې د اور لمبه وه

۳ ښتن مینه کوي له خپله قومه سره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ساتنه کاندي د هغو خلکو کوم چې د هغه دي

نو مونږ ټيټېږو د هغه پښو ته

او د امرونو اطاعت يې کوو

۴ مونږ اطاعت کوو د هغه شريعت کوم چې موسیٰ راکړی

چې زمونږ د قوم ده قيمتي شتمني

۵ کله چې راغونډ شول قبيلې د اسراييلو او مشران

نو ښبتن د هغوی پادشاه شو>

۶ حضرت موسیٰ د روبين د قبيلې په باره کې داسې وفرمايل:

<روبين دې هيڅکله له منځه نه ځي

که څه هم چې قبيله د دوی کوچنۍ ده>

۷ هغه د يهودا د قبيلې په باره کې داسې وفرمايل:

<ښبتنه! فرياد د هغوی واوره

چې کوي يې د کومک دپاره

هغوی بېرته د نورو قبيلو سره يوځای کړه

ته قوي کړه لاسونه د يهودا

د دښمنانو مقابل کې د هغوی مرسته کوه>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ هغه د لاوي د قبيلې په باره کې داسې وفرمايل:

<ای ښبتنه تا ورکړي دي اوريم او تميم

لاويانو ته يعني خپل وفادارو خادمانو ته

تا په مسا کې هغوی وازمايل

او ربنتيني دې ثابت کړل هغوی

د مريبه د چينې ښنګ کې

۹ هغوی وښودله تاته وفا زياته

د مور او پلار، ورونو او خوېندو اولادونو ښخه

ستا امرونو ته هغوی کېښوده غاړه

او شول پاتې وفادار د ستا د لوظه سره

۱۰ هغوی ستا قوم ته زده کوي ستا د قانون اطاعت

هغوی وړدي خوشبويي ستا په حضور کې

او سوزېدونکې نذرانې ستا قربانګاه باندې

۱۱ مرسته وکړه د هغوی د قبيلې سره ښبتنه

چې قوي شي

خوشاله اوسه ته د هغوی د کارونو ښخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول دښمنان د هغوی له منځه یوسه

هغوی مه پرېږده چې بیا سر کړي راپورته>

١٢ هغه د بنیامین د قبیلې په باره کې داسې وفرمایل:

<دا هغه قبیله ده چې څښتن تعالیٰ ورسره مینه کوي

هغه اوسیږي د هغوی د غونډیو منځ کې

او ټوله ورځ د هغوی ساتنه کوي>

١٣ هغه د حضرت یوسف د اولادې په باره کې داسې وفرمایل:

<څښتن دې واوروي پرخه د هغوی په ځمکه

او برکت دې واچوي د ځمکې لاندې اوبو کې

١٤ د هغوی ځمکه دې ډکه شي له هغو مېوو

چې پخې شوې وي په لمر باندې

او شي دې غني د هر موسم

په ډېرو ښو مېوو باندې

١٥ د هغوی پخوانی غونډۍ دې پټې شي

په ډېرو ښو مېوو کې

١٦ د هغوی ځمکه دې ډکه شي له ټولو نعمتونو څخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ښبنتن دې د هغوی سره نېکي وکړي

چې په سوزېدونکي بوټي کې ښکاره شو

دا برکتونه دې نازل شي د یوسف په اولادې باندې

ځکه رهبر ؤ هغه د خپلو ورونو منځ کې

١٧ په قوت کې دی یوسف لکه د ځوان غویي په شان

د وحشي غویي د ښکرو په شان

د هغه ښکرونه د منسي زرګونه خلک دي

او د افرایم لس ګونه زره خلک دي

نور قومونه وهي هغو ښکرونو باندې

او ټېل وهي هغوی د دنیا آخر سرته>

١٨ هغه د زبولون او یساکار د قبیلو په باره کې داسې وفرمایل:

<زبولون دې وي خوشاله تجارت کې په دریاب باندې

او د یساکار دولت دې ډېر شي خپل وطن کې

١٩ هغوی خپل غره ته نورې قبیلې رابولي

او وړاندې کوي هلته صحیح قرباني

لاس ته راوړي هغوی دولت خپل له دریابه څخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د دریاب د غاړې شګو څخه>

۲۰ هغه د جاد د قبیلې په باره کې داسې وفرمایل:

<ودې شي ستاینه د خدای چې یې پراخه

د هغوی سیمه کړه

جاد وباسي انتظار د زمري په شان

چې د ښکار مټه یا کوپړی غوڅه کړي

۲۱ هغوی د ځان دپاره واخیستله ښه ښه ځمکه

د یو مشر برخه ورکړل شوه هغوی ته

کله راغونډ چې شول مشران د اسراییلو

د جاد خلکو کېښودله غاړه

د ښښتن امرونو او قوانینو ته>

۲۲ هغه د دان د قبیلې په باره کې داسې وفرمایل:

<دان د زمري بچی دی

چې په باشان کې له خپل غاره څخه

د خپل دښمن پسې ټوپونه وهي>

۲۳ هغه د نفتالي د قبیلې په باره کې داسې وفرمایل:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

>د نفتالي سره د ښښتن د نېکۍ ډېر برکت دی

د هغوی ځمکه رسي د جليل له جهيل تر جنوبه پورې<

۲۴ هغه د اشير د قبيلې په باره کې داسې وفرمايل:

>نسبت نورو قبيلو ته د اشير د قبيلې سره دی ډېر برکت

هغه دې غوره اوسي د خپلو ورونو منځ کې

او د هغه ځمکه دې وي ډکه د زيتون له تېلو

۲۵ په هغو دروازو دې د هغه د ښارونو ساتنه وشي

چې اړمونه وي د اوسپنې او برنجو په کې

او ژوند دې کوي هغه همېشه امن کې

۲۶ ای د اسراييلو خلکو! هيڅ يو خدای نه دی

زمونږ د خدای په شان

هغه سپرېږي د اسمان په ورېځو

د خپل شوکت او شانه سره

چې راشي تاسو ته کومک دپاره

۲۷ ابدي خدای زمونږ د پټېدلو ځای دی

هغه نيسي مونږه په ابدي غېږه کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای لېږي دښمنان کړل ستاسو

ستاسو له مخې څخه

او درته وېې ویل چې هغوی تباه کړئ

۲۸ نو اولاده د یعقوب کوي په سوله کې ژوند

دي په امن هغوی په داسې خاوره کې

چې ده ډکه له غلو او له شرابو څخه

او چېرته چې پرخه له اسمانه څخه

ځمکې ته اوبه ورکوي

۲۹ اسراییلو! تاسو خومره یئ خوشاله

چې هیڅوک نشته لکه ستاسو په شان

یو داسې قوم چې ښښتن ژغورلی

د دې دپاره چې دفاع وکړي له تاسو څخه

او برى درکاندي

ښښتن په خپله ستاسو سپر او ستاسو توره ده

رحم دپاره به راځي دښمنان ستاسو

او زاري به کوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تاسو تر پښو لاندې کوئ به هغوی>

## د حضرت موسیٰ وفات کېدل

۳۴ ① حضرت موسیٰ د موآب د ډاګونو څخه د نبو غره ته وخوت، یعنې د پیسګاه د غره
سرته چې د اریحا په ختیځ کې دی. هلته ورته څښتن ټوله خاوره یعنې د جلعاد سیمه د دان تر ښاره
پورې، ② د نفتالي ټوله سیمه، د افرایم او منسي سیمې، د مدیترانې تر بحیرې پورې د یهودا ټوله
سیمه، ③ د یهودا جنوبي برخه او هغه ډاګ وروښود چې د صوغر څخه تر اریحا پورې چې د
خرما د ونو ښار دی رسیږي. ④ بیا څښتن حضرت موسیٰ ته وفرمایل: <دا هغه خاوره ده چې ما
د ابراهیم، اسحاق او یعقوب سره وعده کړې وه چې د هغوی اولادې ته به یې ورکړم. ما ته پرېښودلې
چې هغه ووینې، خو ته به د اردن له سیند څخه تېر نه شې او هلته به ورداخل نه شې.>

⑤ نو لکه څنګه چې څښتن فرمایلي وو، د څښتن خدمتګار حضرت موسیٰ هلته د موآب په
خاوره کې وفات شو. ⑥ هغه د موآب په هغې دره کې ښخ کړای شو چې د بیت فغور ښار ته
مخامخ وه. مګر تر نن ورځې پورې هیڅوک نه پوهیږي چې حضرت موسیٰ چېرته ښخ شوی دی.
⑦ حضرت موسیٰ یوسلو شل کلن ؤ چې وفات شو، د هغه بدن لا قوي ؤ او د سترګو نظر یې هم
ښه ؤ. ⑧ د اسراییلو قوم د موآب په ډاګونو کې دېرش ورځې د هغه دپاره وژړل.

## یوشع د اسراییلو مشر کیږي

⑨ حضرت موسیٰ د خپل مرګ څخه مخکې د نون د زوی یوشع په سر باندې خپل لاسونه
کېښودل او هغه یې د خپل ځان په ځای وټاکه. څښتن هغه د حکمت څخه ډک کړ. د اسراییلو قوم د
یوشع اطاعت کاوه او په هغو امرونو باندې یې عمل کاوه چې څښتن هغوی ته د حضرت موسیٰ په
وسیله ورکړي وو.

## حضرت موسیٰ یو لوی نبي ؤ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ په اسراییلو کې هیڅکله د حضرت موسیٰ په شان نبي نه دی پیدا شوی. څښتن د هغه سره
مخامخ خبرې کولې. ۱۱ بل هیڅ نبي داسې لویې معجزې نه دي ښودلې لکه څنګه چې څښتن
حضرت موسیٰ رالیږلی ؤ چې د فرعون، د هغه د درباریانو او د مصر د ټولو خلکو په حضور کې یې
وښایي. ۱۲ بل هیڅ نبي داسې قدرت نه درلود چې هغه لوی او وېرووونکي کارونه وکړي کوم چې
حضرت موسیٰ د ټولو اسراییلیانو په مخکې وکړل.

تاسو پوښتنې لرئ؟ 9066.700.807 1+
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.